325
3416

پښتو قصه او اد — د شاغلي د خپرونو څخه

# مجاهد افغان



مولينا حاجي عبدالرازق



ليکونکی: محمد ولي زلمي

325

PROPERTY OF ACKU 2451

# ستر مجاهد مولينا حاجي

## عبدالرازق صاحب

حاجي عبدالرازق صاحب چه له (۱۲۸۰ څخه تر ۱۲٤۳) هجري قمري کال پورې ژوندکاوه د وطن د سترو مجاهدینو په لړ کښې معروف مجاهد ؤ چه په شرقي او اسلامي مروجه علومو کښې یې د استادۍ مقام او د ریاضي او احادیثو په فن کښې یې تخصص درلود.

حاجي صاحب وطن دوست آزادیخوا، پرهیزگار او حق پرست شخصیت و، له جهاد سره یې مخصوصه علاقه درلوده. دغه ستر مجاهد د سیاسي افکارو خاوند او په وطني او اسلامي سیاست ښه پوه و.

د استعمار په مقابل کښې یې ډېرې مجاهدې او مبارزې کړې دي. د دې د پاره چه د مرحوم حاجي صاحب د مجاهدو او مبارزو او د اچه د استعمار په مقابل کښې یې څومره سربښندنې کړې او د پښتونستان د آزادۍ په لار کښې یې تر کومه حده برخه آخیستې ده یادونه وکړو نو د رسمي سندو، د خپلو او پردیو د اخبارو او جرائدو د نشرشویو راپورونو او انګلیسي ځینو کتابو او د هغو یادداشتونو له مخې



AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00002451 2

چه ما د دې پر وخت دا هیسې ترتیب اودا قول کړی دی د حاجی صاحب لنډه سوانح ، تحصیل مجاهدې او مبارزې په ترتیب سره وطن دوستو او آزادی پرستو وطنوالو ته وړاندې کوم .

## تولد او کوچنوالی :

الحاج مولینا عبدالرازق د مولینا عبدالخالق صاحب زوی په څخه اندړ و ، چه د ۱۲۸۰ هجری قمری کال د صفرې په ۱٦ نېټه په (پای لوچ) نومی کلی کښې چه د غزنی له ښار نه (۱۲) میله لرې پروت دی د نیا ته راغلی دی حاجی صاحب له اوه کلنی نه په تحصیل شروع کړی چه دابتدائی علومو تحصیل یې له خپل بزرګوار پلار څخه کړی دی .

په ۱۲۹۵ هجری کال کښې چه انګریزانو په افغانستان تېری وکړ او د اعلیحضرت امیر شیرعلیخان او د ده د زوی امیر محمد یعقوب خان سلطنت له پښوولو یدنو په دې وخت کښې د اندړو او نورو سیمو په علماؤ کښې د استعمار په ضد د جهاد مفکوره راو پاریدله او د فضیلت مآب ملا مشک عالم او مولینا عبدالباقی (چه په پای لوچ آخندزاده یادیده) او په خپل عصر کښې د علماؤ ترمینځ یې د استادی مقام درلود د دوی له خوا یوه ټولنه جوړه شوه د ترکو او نورو علماؤ نه یې بلنه ورکړه هغه وخت چه دا بللی شوی علماء سره راټول شول نو د انګلیس په مقابل کښې یې د جهاد فرضیت تصویب او اعلام کړ . ور پسې له یوزرتنو طالبانو علماؤ او نورو خلکو

سره به داسې حال کښې چه پېرغونه يې تړلي ؤ د غزني خواته
راوخوځېدل او د حکيم ثنائي په زيارت کښې سره راټول
شول په دغه وخت کښې د قوم مشران او خوانين چه د غزني
د حاکم له خوا د دې د پاره رابلل شوي ؤ چه د انګرېزي
دستګاه له خوا دوی ته معاشونه وټاکل شي نو د غزني
په بالاحصار کښې سره راغونډ شول. اکثرو خانانو او
او مشرانو د انګرېزانو د معاشو له قبلولو لو نه ډډه وکړه
او د مجاهدينو په ډله کښې ورګډ شول او فوري يې د جهاد
د پاره له قومونه لښکرو غوښت او د تکبير انګازې له زيارت
نه پورته شوې. د مجاهدينو شمېر ورځ په ورځ زياتېده
چه په څو ننو ورځو کښې څوزره پلي او سپاره مجاهدين
سره راټول شول او د وردګو د جغتو له لارې د کابل په نيت
راوخوځېدل.

په هغه وخت کښې چه د امير شير عليخان حکومت
سقوط وکړ هرڅومره وردګ چه د نومونړي امير په سپايانو
کښې ؤ هغه درست له خپلو وسلو سره خپلو کورو ته راغلي ؤ
هغه وخت چه د مجاهدينو لښکر وردګو ته را ورسېد
نو له وردګو سره جرګه شول. د وطندوستانو شديد تبليغات
جاري ؤ نو وردګو هم جهاد ته خپله تياري اعلام کړه
د مجاهدينو مشرانو محمد جانخان وردګ چه د امير
شير علي خان په سپاه کښې يې د کنډ کمشري منصب
درلود د وردګو د مجاهدينو په جرنيلي وټاکه،

دمجاهد ینو لښکر دخوات له‌لاری حرکت وکړ او په
(لنګر) نومی کلی کښی دعبدالغفور آخند زاده په مینه
راښکته شول ، عبدالغفور آخند زاده‌چه نامتو ، شتمن‌او
ډوډیه مار سړی و ، (۱۵) زرو تنو لښکروته‌ئی له‌خپله
کوره دری ورځی پخه‌ډوډیه ورکړه او څه دانه‌اوغله
ئی چه په ګدام کښی ار له له‌نغدو پیسو اوښانو، غوایانو
او پسو نوسره یوځای بار اوله مجاهدینو سره یوځای
میدان ته‌راورسید ل - میدانیانو دمجاهدینو ښه تود
هرکلی وکړ - لښکر یان یې شاو خوا په کلیو باندی
وویشل ، څار یو ته یې پروډ اووایښه‌او مجاهدینو ته
یې پخه ډوډ یه ورکوله .
په میدان کی دلښکرمشرانو‌اوعلماؤسره جرګه شول
اودجګړ ی په باره کښی یې فیصلی وکړی‌او په‌عین‌حال
کښی یې دکوهدامن ، کوهستان ، تګاب ، لوګر او نورو
خلکو ته یې دلښکر له رارسیدلو خبر ورکړ اودوی یې
جهاد ته راوبلل .
له دری ورځوورو سته کابل خواته‌راو خوځید ل .
د آسمائی دغره په شاوخوای جګړه‌ونښته (ددغی جګړ ی
تفصیل دوطن د تاریخ په پاڼو کښی ثبت دی) دد غی جګړ ی
نتیجه دانګریزانو شکست او په شیربور کښی دانګریزی
فوځ کلابند ید ل و .
په دغه وخت کښی امیر عبدالرحمن خان له ماوراء

النهر نه کوهدامن ته راورسید او په باچاهۍ ومنل شو.

## د مرحوم حاجی صاحب تحصیل: د انګریزانو جګړه.

چه خلاصه شوه له دی جهته چه مرحوم حاجی صاحب هم په دغه جهاد کښی ګډون درلود نو د تحصیل له دوام څخه پاتی، وروسته د عالی تحصیلاتو د پاره د پیښور علاقو او د آباسیند غرو خواته (چه په هغه وخت کښی د منطق او فلسفی د علومو ښه منبع وه) لاړ.

د فلسفی او منطق علوم یې د هغه ځای له نامتو علماؤ څخه حاصل او بیا د پیښور د هزاری چچ علاقی ته لاړ د معانی ادب، علم کلام او د فقی اصولو علومو تحصیل یې له علامه مولینا بهاء الحق غرغښتی څخه (چه د هغه وخت یوازنی استاد و،) وکړ او له هغه ځای نه د ریاضی د علم د زده کړی د پاره هند ته ولاړ او د بنارس (هند) نومی ښار په یو کلی کښی یې په دوه نیمو کلو کښی د ریاضی د ټولو څانګو تحصیل د ریاضی له یو زبردست عالم نه وکړ او د هند د یوه راجا په رصدخانه کښی چه له حاجی صاحب نه یې د ریاضی زده کړه کوله د ستورو حرکات مطالعه او تطبیقات یې وکړل او بیرته د هلی ته لاړ او هلته نی د یو پی په ولایت کښی د ګنګو له حضرت مولینا رشید احمد څخه چه د حدیث او تفسیر په فن کښی یې د استادۍ مرتبه درلوده خپل تحصیل بشپړ او کامل سند یې حاصل کړ.

وروسته له هغه د خپل پلار د غوښتنې په اثر د وطن د راتګ عزم يې وکړ خو هر کله چه د حج موسم و مکې معظمې ته د حج د فريضې اداکولو د پاره لاړ او د ۱۳۰۶ هجري قمري کال د روستنې ورځې وې چه افغانستان ته راغی .

## د مرحوم حاجي صاحب مصروفيت :

هغه وخت چه د حاجي صاحب پلار چه د امير عبدالرحمن خان له خوا د کابل په دربار کښې د شرعي علمو مو مشاور او د شاهي مدرسې مدرس و ، وفات شو .
حاجي صاحب د نوموړي امير له خوا د خپل پلار په ځای د شاهي مدرسې د مدرس په حيث مقرر شو چه په دربار او پاچا په حضور کښې به معتبر و ، اکثر وخت به په خارجي سياسي چارو کښې له ده سره مشوره او خبرې کيدلې ځکه چه د سرحد مسئلې د ډيورند د کرښې په طرحه کښې چه آزاد پښتونستان د ډيورند د کرښې نه ها خوا پاتې شو امير سخت خپه او ډير نګران کې چه مبادا قبايلي سيمې د انګريزانو تر لاس لاندې راشي نو په دې باب کښې خبرې وشوې چه بايد د آزاد سرحد له قبايلو سره نوره هم رابطه ټينګه شي او که چيرې انګريزان هڅه وکړي چه د قبايلو په مرکز وکښې چوڼۍ جوړې کړي او سړک وغځوي بايد د هماغې سيمې خلک و پوهول شي چه د استعمار سره مقابله وکړي او پرې نږدي چه دغه کار عملي شي او هم بايد له دوی سره مرسته وشي چه انګريزان د چوڼۍ

په جوړه ولو اود سرك په څنګو لو کښې ناکام سی او له
نظامی سلطې نه یې قبائل آزاد پاتې سوی دا مفکوره
دامیر په نزد منظور شوه څه موده وروسته انګریزانو
وغوښتل چه دمهمندو په علاقه کښې سرك جوړه کړی او په
لازمو ځایو کښې چوڼۍ جوړې کړې په دې وخت کښې
اندړ ملا نجم الدین آخند زاده چه د سوات آخندزاده
له خوا خلیفه ؤ او د آزاد سرحد په قبائلو کښې ئې ښه نفوذ
اورسوخ درلود د فراری په نامه له افغانستان نه د مهمندو
علاقې ته لاړ او د انګریزانو په ضد ئې د جهاد اعلام وکړ
اوښه ډیر لښکر یې تیار او په جګړو یې پیل وکړ .

په دې وخت کښې مرحوم څرخي سپه سالار غلام حیدرخان
دا علیحضرت امیر عبدالرحمن خان له خواد ننګرهار د ولایت
نظامی او ملکی حاکم ؤ چه اکثر وخت به سرحد ته نژدې
په اسمار کښې اوسیده او د امیر له نظری سره سم یې
په قبائیلو کښې لاس درلود او کار یې کاوه
هغه وخت چه آخندزاده صاحب په مهمند و کښې
په جهاد لګیا ؤ د سپه سالار له خوا به لازمی مرستې
ورسره کیدلې حتی په خپله د حاجی صاحب په واسطه به د امیر
له خواد آخندزاده صاحب سره نقدی مرستې جاری وې

هغه وخت چه انګریزانو وغوښتل د وزیرستان د مسعودو د
په سیمو کښې سرك او چوڼۍ جوړې کړی او یو لوی لښکر
یې هغې خوا ته ولیږه د مسعودو ملا پیونده ئې مخه ونیوله او له
انګریزانو سره یې جګړه ونښلوله خو کله چې خو راك

او خواږه یې کافي نه وه نو ملا پیونده د قوم له سلو تنو مشرانو
سره د ارګون له لارې کابل ته راغی نو دده راتګ نه یې
ظاهراً په رسمي دربار کښې چه د انګریزانو سفیر هم
حاضر ؤ خپله نارضائي څرګنده او امر یې وکړ چه بېرته
دې رخصت ورکړ شي به هماغه ورځ چه ملا صاحب
رخصت شو شپه یې د کابل په چار آسیاب کښې وه اعلیحضرت
امیر عبدالرحمن خان د حاجي صاحب په واسطه یو اندازه
نغدي طلاوې او دا پیام ور ولیږه چه بري نیږي دي چه
انګریزان د مسعودو په سیمو باندې سلطه پیدا کړي او
دا ئې هم غوښتي ؤ چه یو اعتمادي سړی را معرفي کړي
چه د حاجي په واسطه ملا صاحب ته خپلې مرستې جاري وساتي
همداوه چې ملا پیونده صاحب جګړې ته ادامه ور کړه
او انګریزانو ونشو کړای چه پر مسعودو باندې خپله
سلطه ټینګه کړای شي لنډه ئې دا چه حاجي صاحب تر آخره
پورې خپل اعتبار د امیر عبدالرحمن په نزد ساتلی و او تر هغه
ساعته ور سره ؤ چه د امیر جنازه ئې په خپل لاس په لحد کښې
کېښوده .

هغه وخت چه امیر عبدالرحمن خان وفات شو او امیر
حبیب الله خان پاچا شو حاجي صاحب زیات تره
معتبر ؤ ځکه حاجي صاحب د امیر حبیب الله خان او سردار
نصرالله خان په نزد د استادي مقام درلود په دغه وخت کښې
انګریزانو د افغانستان دولت ملي خود ارادیت ته

ACKU

خارجي دولتو بسره ئي سياسي او تجارتي مناسبات نه لرل يوازي سياسي ارتباط ئي دانگريزانو سره درلود. ... دا سطه درلود.

هغه وخت چه امير حبيب الله خان پاچا شود هند دوا سير اله لارد ی انگريزانو يوه نوټه «چه په هغې کښې محيني داسي مطالب پيشنهاد شوي ؤ چه په منلو سره ئي دافغانستان داخلي استقلال په خطر کښې لويد يعني انگريزانو خپله اند يښنه دروس له سرحدا تو څخه دافغانستان له خوا څرګندوله» امير حبيب الله خان ته ور وسپارله.

دا موضوع دامير حبيب الله خان دوزيرانو په لومړني مجلس کښې تر بحث لاندې ونيوله شوه او دانگريزانو سره هم په ليکلي خبرو اومذاکرو شروع وشوه خو انگريزان نه قانع کيدل . په پای کښې داسي فيصله وشوه چه د شهزاده عنايت الله خان په مشرۍ دې دامير حبيب الله خان له خوا فوق العاده يو هيئت دهند وايسرا ی لارد کرزن ته کلکتې ته ولیږل شي او خبرې دې وشي د غه هيئت دوولس تنه دافغانستان عالي رتبه مامورين ؤ چه جناب حاجي صاحب هم د دغه هيئت مهم غړی و ، همدغه شان دانگريزانو له خوا هم يو هيئت انتخاب او کابل ته راورسيد .

هر کله چه افغاني هيئت کلکتې ته ورسيد او رسمي

خبری شروع شوی لارډ کرزن چه یو ناوړه سیاسی شخصیت ؤ او په
عین حال کښی افغانستان ته یې نظریات ښه نه ؤ
نو هماغه کابل ته را لیږل شوی پیشنهادی یې په لږ څه
تغیر او تشدد سره تائید کړې هر څومره چه پدی موضوع کې خبری
وشوی ګټه یې ونکړه شهزاده او ملګری یې تقریباً
مایوسه شول.

هغه وخت چه دغه هیئت هندوستان ته لیږل کیده
امیر حبیب الله خان د هند وایسرای ته یو مخصوص مکتوب
د حاجی صاحب په لاس ور لیږلی ؤ او هغه ته یې حاجی صاحب
دخپل خصوصی نماینده په صفت ور معرفی کړی ؤ نو په
هغه وخت کښی چه شهزاده او مشاورین یې له مذاکراتو
نه مطلق ناامیده شول حاجی صاحب د امیر مکتوب
چه د وایسرا په عنوان ؤ شهزاده ته وروښود او د هغوی
په مشوره یې له وایسرا څخه دخصوصی ملاقات غوښتنه
وکړه ملاقات ته چه ورغی د افغانستان دخلکو احساسات یې
ورڅرګند کړل او داګی هم ورته وویل که فرضاً ستاسو
پیشنهادونه د پاچا له خوا ومنل شی د افغانستان ملت
به دملی موجودیت او خپلی خاوری دساتنی دپاره عمومی قیام
ته مجبوره شی.

وایسرا چه دخپلی امپراطوری د غرور په نیلی
سپور و غاړه یې کښیښوده بیاهم حاجی صاحب ورته
وویل چه هیڅکله به داسی تړون ونه کړی او چه
د افغانستان د ملت او حکومت د قومی او ملی شئوناتو

شخه مخالف وی نو هر کله چه انګریزان سره له د غومره
قدرته به خپلو معاهدو ولاړ نه دی او غواړی زموږ
ملی آزادی محدوده کړی نو د افغانستان ملت او
دولت به مجبوره شی چه د خپلی آزادی د ساتنی او د مدافعی
د پاره له روسانو شخه مرسته وغواړی نو په دی صورت
کښی به حتماً انګریزان د روسی قواو سره مخامخ
او د دوو سترو دولتو ترمنځ به جګړه . ونښلی چه مسئولیت
به یې هم د برطانیې د دولت په غاړه وی دا خبره په
وایسرا ډیره بده . ولګیده له دغه مجلس تر (۱۲) بجو
دوام درلود خبره بی نتیجې پاتی شوه حاجی صاحب
خپلی خیمی ته راغی د شپی (۲) بجی وی چه مهماندار
کرنیل د وایسراً پیغام راووړ چه حاجی صاحب سبا
د ماسپښین په (۲) بجو له ده سره ملاقات وکړی حاجی
صاحب په ټاکلی وخت د وایسرا په رالیږل شوی سرکاری
ګاډی کښی د وایسرای ځای ته ورغی وایسرا په ورین
تندی حاجی صاحب ته هر کلی ووایه له لنډی مذاکری
شخه وروسته دا فیصله وشوه چه دوی ورځی وروسته به بیاً
د دواړو خواو ترمنځ رسماً خبری او مذاکری شروع شی . او
د دغو مذاکرو په نتیجه کښی د اعلیحضرت امیر عبدالرحمن خان
د وخت د معاهدی د تصدیق او لاس لیک علاوه په مالی مرستو
کښی یوه اندازه نقدی پیسی او د وسلی زیاتوالی
راغی چه د دغو مذاکراتو او مجلسونو یادداشتونه کابل
ته استول شوی دی چه په خارجه وزارت کښی به موجود
وی .

بیا رسمي دوستانه دعوتونه شروع شول.

دامیر حبیب الله خان د سلطنت په وخت کښې هم سرحدي چارو ته زیاته توجه وه او سرحدي چارې دامیر ورور سردار نصرالله خان ته سپارلې شوې وې.

مرحوم سردار نصرالله خان د سرحدي او قبایلي چارو سره زیاته علاقه مندي درلوده په سرحد کښې یعنې د برطانیې سیاست سخت تعقیباوه او د ښمنو لو د پاره ئې خاصه توجه درلوده چه په دغه راز چارو کښې به یې له مرحوم حاجي صاحب سره همیشه مشوره کوله.

د حاجي صاحب په مشوره په سرحد کښې یې په هره قبیله او قوم کښې د کار څو څو مرکزونه قائم کړي وو چه مهم مرکزونه به د هماغې سیمې د مشرو روحانیونو او ملي مشرانو تر اثر لاندې وو او په هر قوم کښې به معروف او برجسته خلك معاش خواره وه علاوه پر دې د قوم زړورو او تو ریالیو اشخاصو هم په انفرادي صورت معاشونه درلودل نو که چیرې انګریزانو به د سرحد په کوم ځای کښې غوښتل چه چوڼۍ یا سړك جوړه کړي او یا لار و تړي نو د ملي او روحاني مراکزو څخه به د جهاد اعلان وشو. قوم به د انګریز په ضد را پاریده او جنګونه به یې ورسره پښاه کول د جګړې په وخت کښې به د حاجي صاحب په واسطه نقدي امداد او د کار توس او نورې مرستې ورسره کیدلې او ترهغه به جنګیدل چه انګریز به له خپل عزم نه واوښت او ناکام به شو هغه وخت چه

دمهمند و، تیرا ،وزیرستان اود مسعود وپه جگړې و کښې انګریزان خپلو مقصدو ته ونه رسیدل او نا کامه شول.

له دی کبله د ۱۳۲۶ کال په اواخرو کښې انګریز ا نو رسماً امیر حبیب الله خان ته ولیکل چه د دغو قولو سرحدی پیښو محرک سردار نصر الله خان دی چه د حاجی صاحب په واسطه خلك تحریك کوی.

همداوه چه د څه مودی د پاره حاجی صاحب له کاره ګوښه او بیا په خپل کور کښی کیناست او له خپلی ارادی څخه ـ یې سردار نصرالله خان نائب السلطنه ته خبر ورکړه، سردار نصرالله خان نه غوښتل چه دده مسلکی ملګری او ملی شخصیت له رسمی چارو څخه لاس وباسی نود امیرصاحب د فرمان په تائید یې فرمان صادر او جدا یې دی بیرته په کار مقرر کړ

(د فرمان نقل موجود دی)

په همدغه کال (۲۷) د اعلیحضرت په امر حاجی صاحب د ماښام اوماسختن د نما نځه جدول له شرع سره موافق د ریاضی له مخې تر تیب کړ چه اوس هم په جنتری کښې ایدل کیږی ی ور وسته له دی څخه ئی د پنځو وختو لمنځو جدول هم تر تیب کړ.

له ۱۳۳۶ هجری قمری څخه نه تر ۱۳۳۷ پوری

په ۱۹۱٤ عیسوی کال کښې چه لمړی عمومی جګړه شروع شوه په دوهم کال کښې ـ یې ۱۹۱۵ یو فوق العاده

هیئت «چه د جرمنی استریا او ترکیې عثمانی دولت له نمایندګانو څخه مرکب و، او په هغه کښې یو تن د هند فراری هندو (راجا مهندر پرتاب) او یو بل د هند فراری مسلمان (مولوی برکت الله) هم شامل و، او د هند او شرق د سیاست له نقطې نظره د دغه هیئت ریاست د نوموړی راجا په غاړه وُ له بغداد څخه چه هغه وخت د ترکیې له مقبوضاتو څخه وُ» د ایران له لاری هرات ته راغی او د هرات نایب الحکومه د دوی د راتګ خبر اعلیحضرت امیر حبیب الله خان ته ورکړ او د امیر له حضور څخه هیئت کابل ته راوغوښتل شو

د امیر له خوا یو مجلس جوړ شو چه په هغه کښې د شاهی کورنۍ سرداران او د دربار عالی د رتبه مامورین شامل وُ د راغلی هیئت د مقصد ټکی تر بحث لاندی و نیول شول چه حاجی صاحب هم په دغه مجلس کښې شامل وُ د څو ورځو مجلس څخه وروسته فیصله وشوه چه د دولتی مجلس څخه دی یو تن د نماینده په حیث و ټاکل شی چه هغه مذاکری چه د هیئت د مقصد په باره کښې کیږی او د هیئت سره د مذاکری ضرورت پیدا کیږی د دولت له خوا له هغوی سره خبری وکړی او بیا هغه موضوع مجلس ته وړاندی کړی. د دغه کار د پاره جناب حاجی صاحب انتخاب شو او فیصله وشوه چه یوه ورځ ترمنځ دی له هیئت سره خبری وشی د غو خبرو یوه میاشت دوام درلود او دغه مجلس به

ACKU

دحاجی صاحب په کور کښی جوړ یدی په دغه وخت کښی د دغه هیئت مقصدونه دا ؤ

۱ د ترکیی مسلمان دولت چه په عالم اسلام کښی دخلافت المسلمین مقام لری او فعلاً دانگریزانو سره په جنگ ه کښی دی با ید دقولو مسلمانانو له خوا له هغو سره مرسته وشی

۲ دافغانستان دولت او ملت چه دهند پر سرحد اتو پروت دی او هند چه دبرطانیی دپاره دانسانی او مالی ذخائیرو ستره منبع او دبرطانیی له خوا په اروپا او نورو ځایو کښی دجگړی ثقل درست دهند له قوت څخه دی نوافغانستان کولای شی دهند په شمال غربی سرحداتو کښی داسی تحریکات وکړی چه دبرتانیی هندی قواوی ځانته متوجه او په هغو قواو کښی چه اروپا او ترکی ته یی لیږی کمی راسی او آسانتیا وی پیښی کړی

۳ که چیری افغانستان وکولای شی چه په جنگ کښی شامل شی موږ کولای شو چه سمدستی یوه اندازه خفیفی وسلی او نغدی پیسی دایران له لاری افغانستان ته راورسوؤ

٤ د دغه غرض د پاره دهندوستان یو هندو او بل مسلمان عالم دجرمنی دقیصر او ترکیی سلطان له خوا شامل کړی شوی ؤ چه د افغانستان له لیاری په هندوستان کښی دهند دآزادی تحریک داسی جاری وساتی چه دهند هرج ومرج د برطانیی دولت پریشانه کړی

٥ د ترکیې او جرمنۍ حکومتونه د افغانستان سره تعهد کوی چه د برطانیې د مغلوبیت په صورت کښې د سند هاخوا ملکونه بلوچستان او کراچی به چه افغانستان بحری بندر ولری افغانستان پورې وروتړی او دغه تعهد هم دا اوس لاس لیک کوو په دې صورت کښې چه هند آزادیږی د هند د مسلمانانو حقوق که څه هم د نفوسو له حیث په اقلیت کښې دی له هندوانو سره برابروی او د دې موضوع ضمانت جرمنی او ترکیې دولتونه په ګډه سره کوی

څرنګه چه په هغه وخت کښې روسان هم له برطانیې سره د ترکیې او جرمنۍ په ضد په جګړه بوخت ؤ نو په دې وخت کښې چه د هیئت سره خبری کیدې دا سوال پیدا شو په داسې صورت کښې چه روسان او انګریزان سره متحد دی افغانستان څنګه کولای شی په جګړه کښې داخل شی او له دوو ستړو دولتو سره مقابله وکړی په داسې حال کښې چه افغانستان د جرمنۍ او ترکیې څخه لیری پروت دی .
د خبرو اترو څخه وروسته دا فیصله منځ ته راغله چه :

ښه ده سمدستی دې افغانستان په جګړه کښې نه شاملیږی خو په آزاد سرحد کښې دې خپل تشکیلات قوی کړی او قبایلیان دې د انګریزانو په ضد د جهاد په نامه وپاروی او له افغانستان څخه دې د هغو اشخاصو په واسطه په هند کښې تحریکات جاری وساتی چه د هند د آزادۍ د پاره په دې نژدې وختو کښې راپاڅیدلی دی ترڅو چه د برطانیې

دولت پریشانه او د قوا ړیوه برخه یې په دغو پېښو مصروفه او مشغوله شي.

په اوله کې اعلیحضرت امیر حبیب الله خان او د سلطنتی کورنۍ ټول غړي مخصوصاً سردار نصرالله خان نائب السلطنه او د مجلس غړي په دغه فیصله ټول راضي شول حتی د جرمني او ترکیې فوق العاده هیئت ته یې ډاډ هم ورکړ.

خو هغه وخت چه د انګلیس دولت د افغانستان له دغه تصمیم څخه که څه هم په پټه کښې وُ تر یوه حده خبر شو د دې امله چه په دې مسئله یې ژوند او مرګ تړلی وُ نو په هغو دسیسو او چال او فریب سره چه د دوی خاصه ده د دغه تصمیم د عملي کیدو په لاره کې یې ډېر مشکلات او خنډونه واچول څرنګه چه دا مسئله زیاته مهمه وه د ټول افغانستان څخه لویه جرګه کابل ته را وغوښتله شوه جرګې د ملي مصلحت په اساس فیصله وکړه چه د افغانستان بیطرف دولت نشي کولای چه په جګړه کښې داخل شي.

دغه فیصله تر یوه وخته سرحدي چارې او اجراآت هم تر شعاع لاندې ونیول.

اوس هغو پېښو ته بیرته راګرځو چه په هغه وخت کې د هند په سرحداتو کښې واقع شوي او د افغانستان د هغې زمانې په سیاست پورې یې ارتباط درلود.

د جګړې په موده کې د هند د آزادۍ خواهی تحریك

په شدت جاري شو. دمسلمانانو اوهندوانو لیډرانو لکه شوکت‌علی، محمدعلی داکترانصاري، حکیم اجمل خان مستر گاندهی اوداسې نورو دهند دآزادۍ دتحریك په غرض تبلیغات او نشریات جاري کړل

په دغه وخت کی دهند دمسلمانانو له خوا د اسلام دخلافت دحمایې په نامه انجمنونه تشکیل شول.

په همدغه وخت کی (دد یوبند) له‌علمی او اسلامی مرکزڅخه حضرت شیخ الهند مولینا محمود حسن صاحب چه د گنگوئی حضرت مولینا رشید احمدصاحب‌شاگردؤ او حضرت مولینا محمدقاسم‌صاحب دهند دآزادۍ‌خواهانو په جمعیت کې شامل شول- نوهغه وخت چه انگریزانو دهند دلیډرانو په نیولو او بندی کولو شروع وکړه مولینا محمود حسن‌صاحب له مشورې څخه وروسته خپلو ملگروته له هند څخه دهجرت اعلان وکړ چه له دغه جمعیت څخه د دهلی د فتح پورۍ مدرسې سرمدرس مولینا سیف‌الرحمن‌صاحب اوځو تنه نورو علماء دافغانستان‌سرحدو خواته او په خپله مو لینا محمود حسن‌صاحب له خپلو ځینو ملگرو او شاگردانو سره چه مولینا منصورانصاري هم ورسره ؤ دحجاز خواته چه په دغه وخت کې دترکیې‌عثمانی دولت په تصرف کښې ؤ روان شول.

مولینا سیف‌الرحمن‌خان پېښور ته‌راغی په پېښور کی ئی دجناب ترنگزو دحاجی‌صاحب‌سره چه په (فضل احمد)

معروف ؤ او د حضرت آخند ملا نجم الدین صاحب له خلفاؤ څخه ؤ ملاقات وکړ او هغه یې هم هجرت ته واداره کړ دوی د نورو ملی مجاهدینو سره د سرحد او آزادو قبائلو خوا ته حرکت وکړ د سوات او بنیر سیمو ته راغلل په دغه وخت کی د سوات او بنیر سیمی لکه همدا اوس د خپلو روحانی خلکو محلی خانانو تر تاثیر لاندی وی کوم حاکم او نواب یی نه درلود. د ترنګزو د حاجی صاحب او مولینا سیف الرحمن سره د پیښور د علاقې ځینی تعلیم یافته خلک لکه مولوی فضل محمود (مخفی) مولوی عبدالعزیز مولوی تاج محمد او د اسی نور هم ملګری وو.

دغه جمعیت چه د بنیر علاقی ته ورننوت د جهاد تبلیغ یې شروع کړ په دغه وخت کی د ملکند او چکدری له چوڼیو څخه انګریزانو د مجاهدینو مخې ته یو قولګی عسکر راوویستل جګړه ونښته مجاهدین به میړانه وجنګیدل په پای کې د ترنګزو حاجی صاحب د باجوړ او مهمندو خوا ته ولاړ او خپل یو تن نماینده یې کابل ته را ولیږه.

د قبائلو چارې د ښوا په شان د سردار نصرالله خان او مولینا حاجی صاحب له حضور څخه اداره کېدلې- حاجی صاحب د نائب السلطنه له هدایت سره سم د ترنګزو حاجی صاحب او مولینا سیف الرحمن ته د اسی احوال ورواستاوه چه مولوی سیف الرحمن خان دې کابل ته راشی. او د ترنګزو حاجی صاحب دی په مهمندو کی میشته شی مصارف

او معاش ئې له کابل ښخه ور کول کېږی همداوه چه یو کافی اندازه پیسی د حاجی صاحب د مصرف د باره اویو ټا کلی مبلغ پیسی د حاجی صاحب څو تنو نورو ملګرو د باره منظوری شوی او د مهمندو خلك و بو هول شول چه د حاجی صاحب او ددوی د ملګرو حمایه او قدردانی و کړی.

په دغه وخت کی د لاهور کالج څخه پنځه لس تنه فارغ التحصیلان د هند د آزادی غوښتنې د مفکوری په اساس له لاهور څخه د سرحد له لاری کابل ته راغلل چه د ځینو نومونه یی دا دی:—

مولوی الله نوازخان—مولوی ظفر حسن خان— مولوی احمد حسن خان، مولوی یاسین خان، مولوی سیدالقادرخان او نور همدغه راز سندی مولوی عبیدالله صاحب د مولینا محمود حسن شاګرد هم د سرحد له لاری کابل ته راغی په دغه وخت کی ځینی نور هندی مسلمانان او هندوان هم کابل ته راغلل او افغانستان د منځنی ختیځ د آزادی غوښتلو د فعالیت مرکز وګرزید تر دغه وخته پوری هم د جرمنی د هیئت غړی په کابل کی وو او س په راشو د کابل پر سیاسی مهمو فعالیتو چه په هغه وخت کېښی پیدا شوی وو.

په دغه وخت کی چه کابل د ټولو سیاسی او ملی اغښتو نو مرکز ګرزیدلی وو د هند آزادی غوښتونکو د پښتونستان د آزادی د مجاهدینو سره یو ځای د یو هیئت په څیر د هند او پښتونستان د آزادی د باره په عملی اقداماتو داسی لاس پوری کړ:—

(۱) مولینا حاجی صاحب سرحدی مرکزونه تقویه او
براخ کړل یو ترکی خیرالدین بیګ نومی چه د کابل
دحربی دمکتب مدیر ؤ له کابل څخه په فراری ۋول
افریدیو ته ورسول شو چه هلته دیوه ترکی جرنیل په
په نامه دجهاد اعلان وکړی ـ ددغه د کار سلسله دشینوارو
دقاضی میرسید مجرد دشینوارو داچلن او سیدونکی په
واسطه ترکابله جاری ؤ او د مهمندو په سرحد کی د
ترنګزو دحاجی صاحب او دهر قوم د قومی
مشرانو لکه دګداخیل ملک محصل خان په واسطه په
باجوړ کی دمرحوم دبابړی ملا صاحب او د قوم
دنورو مشرانو په واسطه داسلسله ترسوات او بنیر پوری
تقویه شوه او قوی تحریکات جاری شول همدغه راز په وزیر
ستان کښی دمرحوم مسعود ملا پیونده وزیر ملا حمزالله او نورو
قومی مشرانو په واسطه ددغه کار سلسله جاری وساتل شوه

۲ مولوی الله نواز خان وګمارل شو چه په پټه د
سرحد له لاری هند ته لاړ شی او له دغو ترتیباتو څخه دهند
دآزادی غوښتونکو مشران خبر کړی.

۳ په دغه وخت کی مولینا منصور چه د مولینا محمود
حسن صاحب سره حجاز ته تللی ؤ د بغی په تغیر کابل ته
راغی دمولینا یو پرزه خط یې دحجاز دوالی غالب پاشا
دمکتوب سره د ترکې د سلطان له خوا نه راوړ.

٤ دوه کسه یعنی مولوی عبدالقادر پنجابی او متر اسفنګ
دهند فراریانو انتخاب شول چه دایران له لاری بغداد ته او له

هغه ځای څخه د ترکی سلطان ته او بیا المان ته دجرمني قیصر ته لاړشي او له دغو ترتیباتو څخه هغوی خبر کړی ترڅوچه د کار سلسله ددغو دولتو سره ربط پیدا کړی او لازمي مرستې وکړی.

۵ په کابل کې دغالب پاچا د مکتوب ځواب په دې صورت ترتیب شو مکتوب دمو لینا منصور په قلم بربوی ژبې ور پښمینې پارچې لیکل شوی ؤچه راجا مهندر پرتاب سنګ مولوی برکت الله او د افغانستان دنائب السلطنه داعتمادی او شیخ الاسلام په صفت مولینا حاجی صاحب لاس لیك کړی ؤ مکتوب دیوه تن په کالیو کې وګنډل شو او ددو وتنو هندوستانیانو په واسطه دسرحد له لاری هند ته ولیږل شوچه په هغو بیړیو کې چه دحجاز په لوری ځی ولیږل شی.

۶ دوه تنه چه یوئی هندی مهاجر احمد حسن نومی ؤ دروسي دولت ته ولیږل شول چه دافغانستان او هندی کمیټی له خوا د روسي تزاری دولت دی ته راوبولی چه د هند د آزادی په لاره کښې کومك وکړی او په دغه سیاست دانګلیس له اتحادیې څخه ووزی.

څرنګه چه په افغانستان او ایران کښې دانګریزانو دجاسوسی شبکې ډیری قوی وی نو دمخه تر هغه چه دغه ملی متضونه او تحریکات نتیجی ته ورسیږی او د آسیا ددغی سیمی ځنی ملتونه داستعمار د کړی څخه ووزی انګریزان په خبر شول او دهغوی فعالیتونه یی په سرچینه کی د منځه یووړل.

او نتیجه ګی دا شوه :-

**لومړی** :- هغه دوه کسه یې چه د ایران له لاری تر کیې او جرمنی ته لیږ لی ؤ په مشهد کی د انګریزانو له خو او نیول شول او هندوستان ته بوتلل شول او له ډیر فشار ور کولو وروسته مولوی عبدالقادر اقرار وکړ او هغه خط چه د ترکیې د سلطان په نامه ؤ او د حاجی صاحب لاس لیک هم پکښی ؤ د برطانیې حکومت ته ور کړ او هغه بلسړی چه اقرار و نکړ په دار ځړ وځی اوه .

**دوهم**: - هغو دوو کسانو چه حجاز ته یې و د ریښمین مکتوب وړلی په بحری جهاز کښی و نیول شول او هغه وریښمین مکتوب د انګریزانو په لاس ورغی . د برطانیې حکومت هماغه وخت د هغه متن د (وریښمینی پارچی) تر عنوان لاندی په ورځپا ڼو کښی نشر او خپور کړ .

**دریم**:- هغه دوه تنه نور چه روسیې ته لیږ ل شوی ؤ تاشکند ته ورسیدل او هغه مکتوب چه د سروزرو په صفحه کی په سانسکرت ژبه او لاتینی تورو لیکل شوی ؤ د تاشکند د نائب الحکومه په واسطه زاررو س ته ور سول شو .

د دغو واقعو په اثر د برطانیې د دولت په سیاسی حلقو کښی غوغا او پریشانی پیښه شوه چه دا نتیجه ګی ورکړه .

۱- هغه کاغذونه چه په مشهد کی انګریزانو ته په



PROPERTY OF ACKU 2451

لاس ورغلی ؤ عیناً او مخصوصاً یې د اعلیحضرت امیر حبیب الله خان حضور ته ولیږل او د ور پښمینځ خط په قضیه یې هم امیر خبر کې او په یو یادداشت کی یې دهغه شورش په خصوص کی چه په افریدو کی د ترکی دخیری پیکټ په واسطه جاری دی امیر ته خبرور کې او دی ئی په دی شورشو نو پیداکولو کی سخت مشغول وګڼلی .

دانګریزانو له دغه یاد داشتاو تهدید څخه امیر حبیب الله خان ډېر مشوش او په غصه شو .

خپل ورور سردار نصرالله خان ئی حضور ته وغوښت او د سرحد او قبایلو په جریاناتو او مسایلو کی ورسره و یږغید او د هغه سیاست په باره کی چه د ه په قبایلو کی مخی ته بیوی توضیحات ئی ځنی وغوښتل او امر ئی و کې چه دانګریزانو د نوټ ځواب باید په لازمه توګه ورکې شی .

څرنګه چه دسرحد د آزادی مسئله حساسی نقطی ته رسیدلی وه نو امیر حبیب الله خان د سر حد چاری په خپل لاس کی ؤ اخیستی او مستوفی الممالك محمد حسین خان ئی ځانته په دی خصوص کی مرستیال و ټاکی د ده په غاړه د هیو اد ټولی مالیاتی چاری هم وی .



ACKU

ته یې په دغه کار کښې مخصوصه لاربښوونه کړې وه نو سردار هم عجالتا له فعالیت څخه لاس و نیو . امیر په دې فکر کښې شو چه څنګه او په کومه لاره له حاجی صاحب سره د دغو فعالیتو په نسبت چه مهم عامل یې دی ګاڼه په تماس کې سی . لومړی یې ترک خیری بیګ ته چه په تیرا کښې ؤ توجه وکړه او برابر یې دوی فشار دراوست افریدو خیری بیګ د بر تانیې حکومت ته و نه سپاره او دا فعا نستان حکومت ته یې تسلیم کړ .

حاجی صاحب چه یو دین دار او د وطن فدا کار شخصیت ؤ نه ئې غوښتل چه د دوی د جمعیت غړی و ته کوم تاوان پیښ شی نو هغه وخت چه د استعمار د دسیسی څخه خبر شو د خپل جمعیت ملګری یې چه هندی او سرحدی مجاهدین ؤ و یوه سول چه د آزاد سرحد په لور ځان و نه وباسی او په خپله ئې پیښور ته د تللو عزم وکړ .

د ۱۳۲۶ هجری قمری کال د ژمی لومړی ور ځی وې چه حاجی صاحب د کاره لاس واخست او په کور کی کښیناست . د حاجی صاحب ملګری هم په یو ډول او بل ډول و تر ټل شول .

څرنګه چه د حاجی صاحب په نسبت د انګریزانو زیات فشار او بد بینی موجوده نو حاجی صاحب سیاستا په لسو زرو او دریو سوؤ نقدو روپیو په ور کولو محکوم سو او سخت کنترول ئې برافعالو او سکنا تو قایم شو .

انګریزان د حاجی صاحب د نفوذ او دښمنی څخه ډیر وار یدل
دافغانستان حکومت ئی څخه ملامتوی چه دده سره به پټه کی
مرسته کوی، د افغانستان حکومت د دی د پاره چه د
انګریزانو د فشار او دسیسو څخه د څه وخت د پاره ځان
خلاص کړی یو سیاسی تکتیک ئی وکړ. حاجی صاحب ئی په
ظاهره کی کښینولی کور او کهول ته یی نه پریښودی.

حاجی صاحب د کام د خدمت او پښتونستان د آزادی په لاره
کښی د غه ربړ و نه هیڅ نه بلل او یو ډول معنوی حظ یی ځنی اخست.

کله چه دی توقیف دی د شپې پر ۱۱ بجو کور ته راغی
او د واقعی څخه یی د کور خلکو ته داسی وفرمایل:

زما زامنو، لوڼو او د کور محترمو غړو!

د انګریز استعمار زما سره سخته دښمنی را اخستی ده
او زما پر علیه ډول ډول توطئی او دسیسی جوړوی دا ځکه
چه ما د کام او وطن د آزادی د پاره ملا تړلی ده.

پدی مقدسه لاره کښی ځان قربانول داسی ابدی افتخار
دی چه چا ته رسیدلی نه سی.

زما زامنو! ما داسی ګناه نه ده کړی چه په هغی سره
دی زه، زما کورنی، زما کام، زما وطن، زما ملیت
وشرمیږی زه د دی قومی او ملی جهاد په لار کښی د هیڅ
ربړ او فشار څخه نه ډاریږم او څو ژوندی یم د کام او
وطن په خدمت به لګیا یم هیله لرم چه تاسو سست عنصری
او ضعیف النفسی ته لار ونه کړی زما وجدان او روح
آرام وساتی.

د کام د دین او وطن په لار کښې بې خلکو ډېر زحمتونه او تکلیفونه راغلي دي:-

تاسې د عبدالقادر ګیلاني او سلطان صلاح‌الدین ایوبي د مجاهدو شخصه خبر نه یاست چه د کام او ملیت په لاره کښې یې څومره خدمتونه کړي دي او په دې مقدسه لار کښې یې څو ډول ډول رنګ رنګ او نه شمېرنګه په وړ او د دین تندي او د اسلامیت او ملیت په لوړو او عالي احساساتو منلي دي.

سلطان صلاح‌الدین ایوبي (۵۳۲ه زیږیدنه) د کام وطن او ملیت سره عشق درلود د خطري په وخت کښې به هر وخت لکه ډال ورته ولاړ وو د مظلومو او محکومو مسلمانانو د دادرسي د پاره لکه بریښنا غوندې رسیدی.

د سلطان صلاح‌الدین لښکري به د دښمنانو په مقابل کښې تل هیڅ نه وې د فلسطین په جنګ کښې د ده سره دوولس زره لښکر و، خو په مقابل کښې د مسیحیانو ۲۵ زره مسلح لښکر او په زرو نورد او طلب دښمنان ملګري وه په دې قولو مجاهدو کښې ده د خدای په توکل او د ملیت او اسلامیت په عالي احساساتو میدان وړی.

د سلطان عمر قول د وطن او کام ساتلو په جنګونو کښې تېر شوی دی زه چه د هغه سلطان یو کوچني مخلص او پیرویم ژوند او مرګ می د کام د عزت او دین د اعتلا د پاره دی او بس.

د دی ملی مجاهد په توقیف خلک ډیر خفه شول او د انګریزانو د استعمار په مقابل کښې ئې سخت عکس العملونه وښودل چه د همدغه ملی تحریکاتو په نسبت حاجی صاحب ژر خوشی شو حاجی صاحب ته دغه تکلیفونه د ۱۳۳۶هق کال تر پسرلی پوری متوجه وو. د دی سره چه د انګریز د استعمار زیات فشار موجود وو بیا هم د افغانستان ملت او حکومت او د پښتونستان خلکو د حاجی صاحب سره دزړه پوره مینه درلوده او هر کله ئې غوښت چه د ده د دی رشتینی وطنی او کسامی مینی څخه دوطن دساتنی او ملی خپلواکی په لاره کی کار واخلی

څرنګه چه د انګریز دجاسوسی او اطلاعاتو شبکی ډیری فعالی او حساسی وی نو افغانستان ته د ده سره په راساکتلو سره مشکلات پیښیدل ځکه هغه وخت چه امیر د کابل ماشین خانه معاینه کوله د ماشین خانی د جرنیل محمد سرور خان څخه ئې چه د حاجی صاحب ډیر دوستو د حاجی صاحب پوښتنه وکړه او په یوه سیاسی لهجه ئې ورته وویل! که دی حاجی صاحب ولید زما سلام پری وایه.

جرنیل د حاجی صاحب حضور ته ورغی او د امیر سلام ئې ورته وو ایه او ضمناً ئې یوه کړی چه د کام او وطن د خدمت وخت رارسیدلی دی او شرایط داسی ول دی چه د دی موقع څخه استفاده وشی. څرنګه چه د انګریز د استعمار په مقابل کښې چه ډیر حساس او فعاله وو مقابله کول چندان آسان کار نه وو ځکه حاجی صاحب په دی خصوص کی کافی وخت وغوښت.

د دې د پاره چه امیر صاحب حاجی صاحب ژر وویني یو بهانه ئې جوړه کړه څو تنه علماء یې خپل حضور ته په دې عنوان را وغوښتل چه د کابل د غرمې توپ په پوره نصف النهار نه ویشتل کیږي په دې باره کې دې یو تجویز وشي او د علماو په جمله کې حاجی صاحب چه خوابدی ؤ هم وغوښتل شو.

دغه عالمان چه حاجی صاحب هم پکښې ؤ د امیر حضور ته ورغلل

هغه هندي دائره چه د غرمې توپ د هغه په اساس ویشتل کېدی حاجی صاحب جوړه کړې وه نو حاجی صاحب وویل چه په هندي دائره کښې څه نقصان پېښ شوی دی چه باید اصلاح شي امیر وویل ښه ده اصلاح یې کړی. نو هر کله چه علماء رخصت شول نو امیر صاحب حاجی صاحب ئې بېرته راوغوښت او هغې خونې ته چه امیر پکښې ؤ ورو ستل شو.

لکه چه حاجی صاحب وېلي: ـ هر کله چه خونې ته ور ننوتم امیر څو گامه ر امخکښې شو لاس یې په غاړه کښې را واچاوه او زما ډېره او سر یې مچ کړ او را ته یې وویل څرنگه چه د افغانستان ملی مصلحت دا ایجاباوه چه د څه وخت د پاره ته د فعالیت څخه لاس واخلې د دې دا معنی نه ده چه موږ ستا د خدمتو نو څخه سترگې پټې وې او یا په اشتباه ور ته گورو.

حاجی صاحب د امیر په ځواب کښې عرض وکړ زه یو پښتون مسلمان یم ما چه څه کړي دي د کام او وطن د عزت او ساتنې د پاره دي خدای ته معلومه ده چه ما په هغه کې شخصي او نفسي غرېزې ته ځای نه دی ورکړی.

حاجی صاحب بیا عرض وکی:- انسانان د ژوندانه په لاره کی تل بیل بیل مقصدونه او هدفونه لری صحیح او بامسلك انسان هغه دی چه د خپل مقصد د پهلاس راوړلو دپاره په هیڅ وخت کی مایوس نه شی او د فعالیت څخه لاس وانخلی زه د پښتون مسلمان ملت او حکومت خادم یم د پښتنی دنیا د عظمت او بریا لیتوب ستر هواخوا یم د کام او وطن د ساتنی په خدمت کی هرڅوك ربړونه او زحمتونه ډیر خوند کوی که څه هم زه پوهیږم چه انګریز ډیر قوی شوی دی خو په دی هم ډاډه یم چه زموږ د پښتنی جذباتو او ملی احساساتو څخه ډیر ډیر بیری او د جګړو په میدانو کی مو یو بل ته خپل قوتونه او زورونه ښکاره کړی دی.

که انګریز په پښتانه ډېر کی قومی اختلاف او نور درزونه وانچوی هیڅ داسی قوت نشته چه پښتانه په زوره دهغان تابع کړی حاجی صاحب زیاته کړه او س چه سپین ږیری شوی یم غواړم حج ته ولاړ شم او د هغی خوا چه راغلم بیا ستاسو او د کام په خدمت کی آماده یم.

امیر صاحب ته چه د وخت نزاکت معلوم ؤ چه د کام او وطن د ساتنی د پاره تر سیاسی روابطو عملی مجاهدی چه تاثیر کوی حاجی صاحب ئی د دی عزم څخه راګرزوی او ورته وی ویل چه اوس د کام او وطن ساتنه فرض ده او څرنګه چه ئی لازم بولی په ملی جهاد شروع وکړه حاجی صاحب وائی

هر کله چه زما عذر او حجت ته د تللو هیله زیاته او د امیر صاحب
اصرار له حده زیات شو حیا پر ما غالبه وکړه
نو په ځواب کښې مې سکوت وکړ او مې ویل چه بیا به
عرض وکړم او وروسته له هغه یې رخصت راکړ او په دې وخت
کښې یې بیا لاس زما په غاړه کښې واچاوه مینه محبت
او قدردانی یې وکړه حاجی صاحب چه د امیر له حضور څخه
کورته راغی امیر صاحب فوری خپل منشی حضور ته ور وغوښت
او فرمان یې صادر کړ چه حاجی صاحب د پخوا په شان په خپل
کار مقرر دی همداشانی څلور ساعته وروسته د اعلیحضرت
یو فرمان د حاجی صاحب په نامه د ده کورته راورسید.
حاجی صاحب حیران پاتی شو. څو څو ورځی حاجی صاحب
په کور کښې ؤ آخر ته مجبور شو نائب السلطنه
ته یې پیشنهاد وکړ چه د ده د کارو د پاره یو تن مرستیال
منظور کړی نائب السلطنه د ده پیشنهاد ومانه حاجی صاحب
پیکتوتی ملا عبدالرحمن چه د ده له خاصو شاگردانو څخه ؤ
او یو عالم، لایق، متدین، پاك نفسه او په عین حال کښې
(د میزان التحقیقات الشرعیه) مهم غړی ؤ د معاون او خپل
نائب په حیث انتخاب کی او د نائب السلطنه له حضور څخه یې
رسما د هغه منظوری واخیستله

د لته دو یلو و د ډیر وخت کی داد ی چه : حاجی صاحب سره له دی چه د و مره مهمی و ظیفی او کارونه ور پغاړه و ، چه د ننوړ محی د در یو و زارتو نو کار په انداز ه و ، خو بیا ئی هم معاش هماغه د امیر عبدالرحمن خان دزمانی معاش و هغه وخت چه حاجی صاحب دخپل معاون ملاعبد الرحمن منظو ر ی و اخستله د معاش درخواستونی پنځه زره ر و پی و کړی چه د ده معاش به نسبت یو پر دوه زیاتی وی .

نائب السلطنه تعجب و کړ او وی ویل چه باید ستا معاش ستا د نائب د معاش په نسبت یو پر دوه وی حاجی صاحب په ځواب کښی و ر ته و و یل : پر یږ د ه چه د خپل وطن او قام د پار ه یو تن بی معاش هم خدمت وکړی ،

د دغه کال په ژمی کی امیر حبیب الله خان د نورو کلو نو په شان جلال آباد ته لاړ د حاجی صاحب د تنگ امر یی هم و کړ د همدغه کبله حاجی صاحب له خپلی کور نی سره جلال آباد ته ولاړ .

د جمادی الاول په میاشت کی چه د ۱۳۳۷ هجری، قمری د حوت له میاشتی سره برابر وه اعلیحضرت امیر چه د ښکار د پاره د لغمان د کله گوش د دی ته تللی وو په خپله خیمه کی د خوب په حال کی د تفنگچی په فیر شهید شو

## آزاد پښتونستان ته د حاجي صاحب تګ

د اعلیحضرت امان الله خان د سلطنت په اوائلو کې حاجي صاحب له خپلو دوو ځوزامنو عبدالرحیم خان او عبدالرب خان سره د آس په سورلۍ د کامې له لارې د مهمندو سیمو ته ولاړل په سبا ورځ د کلي خلك د حاجي صاحب له راتګ څخه خبر شول حاجي صاحب چه له ډیرشو کلو را په دې خوا د سرحد یا نوسره په تماس کښې و نو دوی حاجي صاحب ته په درنو سترګو کتل او دا ګمان ئې کاوه چه حاجي صاحب د سردار نصرالله په طرفدارۍ دلته راغلی دی نو ټولو خلکو ورته وویل :- که چیرې زموږ څخه د مرستې اراده لرې نو موږ ټول حاضر یو. حاجي صاحب وویل :-

زه د څو ورځو استراحت د پاره دلته راغلی یم بله کومه اراده نه لرم وروسته له هغه ځای څخه د مهمندو صافیو او کندهاریو سیمو ته ولاړ او د ترنګزو د حاجي صاحب ځای ته ورسیدل په سباورځ د شاو خوا او لرو بر خلك د حاجي صاحب له راتګ نه خبر شول علمأ او د قوم مشران د ملاقات د پاره راټول شول حاجي صاحب سرحد ته د خپل راتګ

مطلب ټولو خلکو ته څرګند کړي یې به دا بلوه ورځ د
باجوړ د سیمې د بابړي د جناب ملا صاحب له خوا
څخه چه (د باجوړ یو معروف عالم او شیخ او بانفوذ شخص ؤ)
د یوه هیئت په واسطه یو مکتوب حاجي صاحب ته ورسید
او دی یې خپل ځای ته وباله.

په داسبا حاجي صاحب له یوه زیات شمیر علماو
سره چه مولوي فضل ربي، مولوي حافظ محمد
مولوي مخفي د هندي مجاهدینو رکن مولوي بشیر او
نور علما او د قوم مشران ورسره وو د ترنګزو د حاجي صاحب
له ځایه وخوځید او په لار کښې ئې د قوم له خوا په هره
سیمه کښې تود هرکلی کېده او میلمستیا ګانې
کېدلې دوی د باجوړ د چارمنګ علاقې ته د حاجي صاحب
بابړي د ملا صاحب ځای ته ورسیدل.

ملا صاحب له یو شمیر زیاتو خلکو سره دوه میله
لاره د حاجي صاحب د هرکلي په نسبت مخې
ته راغی او په ډیر درناوي یې خپل ځای ته بوته دوه
ورځې وروسته د جمعې ورځ وه. د جمعې لمونځ به همیشه
د ملا صاحب په ځای کښې اداکیده له ډیر لیرې
ځایو څخه به د لمانځه د اداکولو د پاره خلک راتلل
په دغه ورځ د لمانځه دادا په وخت کې ټول حاضرین
خبر سول چه حاجي صاحب راغلی دی
څو ورځې وروسته د اعلیحضرت امان الله خان

فرمان دحاجی صاحب د یوه تن خپلوانو په واسطه دملا صاحب ځای ته دحاجی صاحب په عنوان راورسید مضمون یې دادی .

عزت و فضائل همراه حاجی ملا عبدالرزاق قخان سرکردهٔ میزان التحقیقات الشرعیه را واضح خاطر باد .

از حضور انوروالا به موجب فرمان هذا شما را خبر داده امر فرموده میشود که بکمال خاطر جمعی تمام عازم دارالسلطنهٔ کابل گردیده شرف یابی حضور انور والا را حاصل میداراد یدتحریر فی لیل دوشنبه ۷ جمادی الثانی ۱۳۳۷ امیرامان اله

د فرمان له رسیدو څخه وروسته حاجی صاحب د هغه ځای له دوستانو سره په مشوری د افیصله و کړه چه سمدستی دې خپل زوی حافظ عبدالرب کابل ته ولیږی .

دمشوری په اساس ئې بیعتنامه دحافظ عبدالرب او دهندی مجاهدینو د زکن مولوی محمد بشیر سره کابل ته ولیږله .

د حاجی صاحب زوی (عبدالرحیم) او دوه دری تنه دحاجی صاحب ملازمین او متعلقین چه وروسته راورسیدلی و دملا صاحب پرځای باندی پاتی شول .

پدی وخت کی چه انگریزان دحاجی صاحب څخه خبر شول چه دملا صاحب په ځای کښې دی ډیر به تشویش کی شول

محکه چه ملاصاحب د انګریزانو کلک دښمن او د حاجی صاحب تیرملګری و، نوانګریزان د جاسوسانو او دخپلو منخرانو کسانو پو اسطه چه په باطن کښی یی له انګریزانو سره دوستی اوورابطه درلوده د حاجی صاحب داحوال په لټه کښی شول پدغه انتظار کښی و، چه د سرکاڼیو له لاری د جلال آباد د نظامی جرنیل پواسطه یوه سربسته بوسته راورسیده چه په هغی کښی دامیر امان الله خان فرمان او د سردار نصرالله خان، سردار عنایت الله خان او سردار حیات الله خان د بیعتنامو عکسونه و، د فرمان مضمون دادی:-

۱۹ جمادی الثانی سنه ۱۳۳۷

عالیجاه فضائل آگاه حاجی ملا عبدالرازق خان را واضح باد:

چون منظور انور والای ما برفاهیت و آرامی رعایای صادقه و خدمتگاران صادق ما بوده ومیباشد که بسایهٔ عاطفت شاهانه ما آسوده حال باشند لذا جمله همرکاب اعلیحضرت قبله شهید سعید مرحوم و سردار نصرالله خان وسردار عنایت الله خان وعسکریکه درجلال آباد بودند همهٔ آنها بخلوصیت قلب وشوق وذوق امارت همایونی مارا قبول کرده بیعتنامه های شان بحضور ما رسید اشتهارات دوقطعه عکس بیعتنامه های سرداران مذکور ذالف فرمان هذا گذاشته بواسطهٔ خاطرجمعی برای شما روانه گردید هرگاه شما هم حاضر جلال آباد می بودید البته

از همه بیشتر بیعت‌شما بحضور والای ما میرسیدامابحضور معلوم گردید که شما در جلال آباد حاضر نبوده قبل ازین از حضور فرمان علیحده بواسطهٔ تسلی خاطر شما ارقام یافته بذریعهٔ حقایق آگاه حضرت صاحب برای شماروانه گردیده بود که بسیار تسلی خاطر شوید.

اکنون به‌سمع انور والای مارسید که یعنی شما در باجوړ بجای ملاصاحب با بره میباشید از بودن شما در آنجا خرسند شدم چراکه ازآمدن شما بحضور افضل آن است که یك شخص خدمتگار صادق ما وبلکه مثل شما که هم‌خدمتگار صادق وهم شخص عالم متدین دین‌دار دران علاقه باشد که‌از جهت خدمت دین ودولت بودن شما در آن‌جا لازم وضروریست وسررشتهٔ تنخواه و مخارج شما انشاءالله بدرستی کرده میشود که‌در آنجا برای شما برسد که گذارهٔ خودرا بنمائید وهر زمانیکه‌حاضر شدن شمارا مصلحت ولازم دانستیم بفرمان علیحده شما را خبرداده خواهد شد. درحال لازم وضرور بودن شما را درآنجا دانسته بنابر خاطر جمعی شما فرمان‌هذا ارقام گردید. شمارا امراست که‌بدون صوابدید حضور حرکت وکاروایی خودسرانه نمی‌نمائید زیرا الحمدلله تا حال کارهای سلطنتی به‌بسیار خوبی ودرستی شده آینده‌هم

بمرحمت خداوندی بخوبی ودوستی انجام میشود وشما
منتظر احوال حضور مبارك باشید که بهرقسمیکه مصلحت
دیده شد درثانی برای شما خبرداده خواهد شد و شما به
قرار امرحضور اجرا خواهید نمود انشاءالله تعالی فرمان
هذا بطریق اخفاء برای شما روانه گردید که بقرار
فرمان هذا معمول دارید. (امیر امان الله)

هغه وخت چه دافرمان راورسید د اعلیحضرت
امان الله خان نظریات تریوه حده څرګند شول چه بیل ډول
کار یې په نظر کښې دی.

حاجی صاحب همدغه اشاره ځانته کافی وګڼله او پوه سو چه
اعلیحضرت پخپله دانګریزانو پرضد غواړی
چه جدی اقدام وکړی بیا حاجی صاحب
دبابړی دملا صاحب سره وکتل او له ده څخه یې وغوښتل
چه دخپل هستوګنې ځای دملا صاحب دځای نه لږ شانتې
ګوښه وټاکی. ملا صاحب چه یو غیرتی سړی و، د حاجی صاحب
داغوښتنه یې ومنله خو به مشکل سره یې قانع کړ او مولوی
فضل ربی ته یې هدایت وکړ چه ده ته د هستوګنې ځای برابر
کړی. مولوی فضل ربی دمولینا محمود حسن له شاګردانو
څخه و او د هغه په هدایت یې له خپل وطن څخه د پېښور د هزاری
دضلعې د پکلی له سیمی نه هجرت کړی و او د هغو تجویز و په جمله
کښې چه حاجی صاحب د سردار نصرالله خان په وخت کې غوره
کړی و، ده ته امر شوی و چه د ملا صاحب په ځای کښې تم وی

مولوی فضل ربی حاجی صاحب ته محای پیدا کړ او حاجی صاحب هلته هستوګنه غوره کړه.

دحاجی صاحب مقصد داو چه ټولی مشران اوسرحدی خلك په آزادانه صورت تنګ او راتنګ وکړی شی.

تبصره: دباجوړ سیمی په دوو برخو ویشل شویدی.

۱- هغه سیمی چه دستروخانانو او د منطقوی محلی نوابانو لهخوا اداره کیږی لکه د (دیر) نواب د (باجوړ دیهار) خان، پشد، جندول اوداسی نور.

۲-هغهسیمی چه د نوابانواو خانانو تر اداری لاندی نهدی اوپه آزادصورت آزادژوند کوی دوی محلی ملکان لری خو دعلماو اوروحانیونو تر نفوذ لاندیدی او خپلی مهمی معاملی په قومی جرګو فیصله کوی لکه د (چارمنګ) (ماموند) (سالارزایی) (اتمانخیل) اوداسی نوری سیمی.

د مهمند و علاقی لکه د باجوړ سیمی دخانانو او نوابانو تر تاثیر لاندی نهدی بلکهآزادژوند کوی.

## داعلیحضرت امان الله خان سلطنت دا ستقلال د جهاد له شروع څخه د جګړی تر پایه

لکه چه وویل شو حاجی صاحب په باجوړ کښی پخپل نوی هستوګنځی کښی دهرراز قبایلی خلکو سره په دید

دوادید بو خت و او له ځینو ستر و خانانو سره یې هم خپل خصوصي روابط شروع کړل لکه یوه شپه عبدالقدیم دخان (خار) محمد جانخان منشي به پټه کښې حاجي صاحب ته وا ستاوه او دخان سلام او مکتوب یې ورته راوړه.

پدغه وخت کې پیغام راور سید چه اعلیحضرت امیرامان الله خان په کابل کې د افغانستان د استقلال اعلان وکړ او د سرحداتو د ټینګیدو دپاره یې هره خوا عسکري سوقیات وکړل او هر بیه وزیر صالح محمد خان سپه سالار یې سمت مشرقي ته مقرر کړ.

حاجي صاحب د هغه ځای د دوستانو په مشوره خپل زوی عبدالرحیم د ځو تنو سرحدیانو سره په د اسې حال کې جلال آباد ته وا ستاوه چه د حاجي صاحب له خوا یې د سپه سالار په نامه یو مکتوب هم له ځانه سره درلود هماغه و، چه عبدالرحیم د(حاجي صاحب زوی) د حاجي صاحب مکتوب په جلال آباد کښې صالح محمد خان ته د ملاقات په ضمن کښې ور وسپاره.

سپه سالار په مهربانۍ سره وویل:-

«اعلیحضرت امان الله خان خپلواکی اعلان کړی دی او زه یې دې سمت ته مقرر کړم او جناب سردار محمد نادرخان یې د همدې سپه سالارۍ په رتبه سمت جنوبي ته مقرر کړ او سرحدي چارې یې ټولې حاجي صاحب ته سپارلی دی او ما ته ئې امر کړی دی چه د حاجي صاحب له رأیې او صوابدید څخه پرته د دې ولایت په سرحداتو کښې کار نه سم کولای.

اوس د ازما مکتوب حاجي صاحب ته ورووړه او څرنګه چه حاجي صاحب یې لازمه ګڼي په آزاد سرحد کښې دې کار وکړي، هرڅه مرسته او مصرف چه غواړي زه مأمور یم چه هغه اجراء کړم»

عبدالرحیم ورته وویل چه اوس حاجي صاحب د بردیس په توګه هلته ژوند کوي. باید تاسو یو څه نقدي مرسته ورولېږئ چه فی الجمله د حاجي صاحب مرکزیت اهمیت پیدا کړي او ورسره کسانو ته یې یو څه مهربانۍ وروسپېږي.

سپه سالار صاحب د جلال آباد له جبه خانې څخه د لس داني توپکو ورکول امر وکړ او د حاجي صاحب د پاره یې یوه توماڅه او څه نقدي پیسې هم ورولېږلې.

ګران لوستونکي د سپه سالار د زما مدارۍ د تعقل اندازه لګولی شي چه لس داني بغل پرقدیمي توپکه چه په سرحد کښې یې د تیر کمان حکم درلود او دې زړه روږي د انګریزانو په مقابل کښې د سرحدي تشکیلاتو په غرض آیا څه معنی لري

عبدالرحیم د سپه سالار مکتوب له ځان سره واخیست بیرته باجوړ ته راغی او مکتوب یې حاجي صاحب ته ورکړ حاجي صاحب چه له کیسې څخه خبر شو د سپه سالار د اجراآتو څخه سخت متأثر شو او فوراً یې یو مفصل مکتوب د سپه سالار د مکتوب په جواب په دې مضمون ورولېږه

له ډېرش کلنۍ تجربې له مخې په افغانستان مخصوصاً د انګرېزانو په سیاست کښې په تېره بیا چه په سرحدي قبائلو کښې یې لرل دوي مانو ته لیکلي چه:

«باید داسې حرکت ونه کړی چه د افغانستان او د برطانیې ترمینځ فوري د جګړې سبب شي ځکه په موجوده وخت کښې د افغانستان دولت د ژوندۍ نظامي قواؤ او هم د ارتزاقي موادو او د عسکري تدارکاتو د نشتوالي له حیثه د دې جګړې د طاقت نه لري او په لومړۍ مرحله کښې ئې د ماتې احتمال شته مخصوصاً که ناسي دغه جګړه د خیبر د درې د مرچو په مقابل کښې شروع کړې.

د افغانستان د ننه قبائلي خلك او سرحدي قومونه چه چه د افغانستان حقیقي قواوې ګڼل کیږي لا تر اوسه ترتیب شوي نه دي ــ موږ ته به چه پخوا د افغانستان او د انګلیس ترمنځ د جګړې مفکوره پیدا شوه نو خاصه نقشه به موږ ته ترتیب کړه او هغه نقشه اوس هم زما په دماغ کښې ګرځي چه په راتلونکې بسته کښې به یې مخصوص در ولیږم.

نو دروسته حاجي صاحب په دې ډول په کار پیل وکړ:ــ

۱ــ یو وفد یې د ډېر نواب اور نګزیب خان ته ولیږه او هغه ته یې په جهاد کښې د ګډون بلنه ورکړه.

۲ــ بل وفد یې صوات ته د مولوي فضل محمود د «مخفي» په مشرۍ د صوات د آخند صاحب لمسي میا ګل صاحب ته ولیږه او س میا ګل صاحب د صوات د والي په نامه یادیږي

۳- او یو وفد یې د (ام او دربند) نواب ته واستاوه

۴- یو بل وفد یې د بنیر او کوهستان سیمی ته ولیږه. داسیمی د نن په شان د صوات د والی تر تسلط لاندی نه وی بلکه د دغو سیمو چاری د ځینو محلی خانانو او روحانیونو لکه سندوکی بابا او صاحبزاده او نورو له خوا اداره کیدلی

۵- یو هیئت یې هم خان محمد جانخان (د باجوړ ښار) ته ولیږه په خپله حاجی صاحب په آزاد او سیمو کښی په قومی جرگو په دی ترتیب شروع وکړه.

اول :- یوه جرگه د چار منګ په سیمه کښی چه د باړی د ملا صاحب تر نفوذ لاندی وه جوړه شوه له حاجی صاحب سره چه علماء، سادات، او مشایخ هم وو په لومړنی جرگه کښی وروسته له تبلیغاتو څخه علماؤ دا لاندنی مواد تصویب کړل.

الف:- قول کاموونه په یوه گډه سره په یوه اتفاق د انګریزانو په ضد د خپل وروړ مملکت افغانستان د آزادۍ د لاسته راوستلو د پاره په جهاد کښی شامل شی او تر وروستی څکی پوری به له انګریزانو سره جګړه کوی .

ب:- کام فیصله کوی چه له ځلورو تنو نه یو تن باید جنګ ته ولاړ شی او وروسته له یوی میاشتی نه به د هغه په ځای بل نفر جنګ ته ځی او دا کار به د جګړی د پای ته رسیدو پوری دوام لری.

ج:- هر نفر چه د پورتنی فیصلی په اساس جگړی ته ځی
باید خپل د یوی میاشتی خوړی له ځانه سره د جگړی ډگر
ته یوسی.

د:- له قوم او قبیلی څخه زړوران جگړه مار خلك د خپل
قوم له خوا د خپل د قوم د منصبدار په حیث ټاکل کیږی.

ه:- د قومی اصولو په اساس د یوه نفر مشرتوب پر ټول
قوم قبلید لای نشی نو د هر قوم ستر روحانی شخصیت به
د هغه قوم د قاید په حیث وی.

و:- هر قوم به د قوم او نفر په تقسیماتو بسپنه ور کوی
چه له هغی څخه خزانه ترتیب او له دغی خزانی څخه به د لښکر ځینی
ضروری مصرفونه د قوم د روحانی قاید تر مراقبت
لاندی اجرا کیږی.

ز:- د جگړی له میدان څخه د زخمی اشخاصو د راوړلو
د پاره دوه تنه او د شهیدانو او مړو د راوړلو د پاره څلور
علم نصرت و بیرق فیروزیت ولوای صحت و شوکت دولت جهاد منصب افغانستان برممالك هندوستان وفرنگستان به عزت و احترام به اتفاق واتحاد اسلام تابان وجلوه گر باد .

عریضه وفد وکلای اقوام سرحدیه

**اول :**ـ جمعیت حزب الله

۱ـ فضل اکبر پسر حاجی صاحب ترنگزائی

۲ـ قاری عبدالستمان

**دوم :** جمعیت مجاهدین هند جمرکند

۱ـ مولوی عبدالکریم صدر جماعه
مجاهدین جمرکند

۲ـ مولوی محمد بشیر نائب صدر

سوم : اقوام مهمندیه و شنواریه

۱ـ ملاعبدالحمید و میراجان مشهور به چاچا

۲ـ وکلای معتبرین اقوام مهمندیه موسی خیل
رحمت خیل ماسم خیل شهباز خیل باره خیل هیبت خیل وغیره

۳ـ مولوی عبیدالله وکیل همه اقوام ؛

٤ـ ملك محمدامین ملك میمون خان

٥ـ محمد قدیم آخندزاده پسر ملاخلیل الرحمن مرحوم

٦ـ ملك خان سید برادر محصل خان غازی

**چهارم:** ـ شنواریه، مسعود گربز قندهاری وشنواری

**پنجم :** ماموند وسالارزائی باجوړ آزاد

۱ـ شجاع خان وکیل ملاصاحب بابره

۲ـ مولوی امیرالدین خان وکیل ماموند وسالارزائی

۳ـ مولوی محمد یوسف وکیل اتمانخیل شنواری پسر
مولوی صاحب کامه

**ششم :** ـ اقوام بنیری ودیر

۱ـ نواب دیر

۲ـ باینده خیل نصرت دین خیل

۳ـ سیدو خیلی

**هفتم:** ـ اقوام سوات

۱ـ میا گل سوات

۲ـ کوهستان سوات

۳ـ صاحبزاده چندا خوا


بسم الله الرحمن الرحیم
حامداً و مصلیاً علی رسوله الکریم

٤ـسید قاسم صاحب مشهور به کاکامیان صاحب سوات
٥ـمعصوم خان رئیس اعظم سوات
٦ـتاج محمد رئیس سوات بالا
هشتم اقوام بنیر و کوهستان (١) باچا ملا صاحب
(٢) چنار ملا صاحب
(٣) جور ملا صاحب
(٤) دیگر روسا و معتبرین بنیر
نقل یک وکالت خط که از طرف قوم خوائی زائی بنام مولوی عبید الله خان است

بسم الله الرحمن الرحیم

حامداً و مصلیا علی رسول الله الکریم

اقرار و اعتراف صحیح ما اقوام خواجه زائی نمودیم ومهر دستخط و نشان انگشت به کاغذ هذا بلا اکراه و سنجیه و ترغیب احدی در صحت عقول و نفاد جمیع تصرفات مثبت نمودیم و این اقرار خود را موشق و مستحکم بعهد و پیمان الله تعالی و فرقان عظیم میکنم که در اقرار خود ثابت قدم میباشیم و ما قوم را به عنایت خداوند جل و علی و همت ومردانگی و قربانیهای فدا یانه مذهب و ملت و وطن تا زمان حال آزادی کامل حاصل است و چونکه اعلیحضرت امیر المؤمنین افغانستان بذریعه اعلان ما را داخل در امورات سیاسیه خارجیه خود را (که هیچ فیصله) معاملات سیاسیه خارجیه شما قوم بغیر مرضای شما قوم نخواهد شد) الحال برای خیر دین و همت خاص در

امورات خارجه بدولت افغانستان که پادشاه حال او
اعلیحضرت امیرابن الامیرابن الامیر امیرامان الله خان
غازی خلدالله ملکه و سلطنته است منسلک گشته ماسوای
امور داخله امورخارجه خود بان دولت تفویض نموده
در تحت بیعت و حمایت آن اعلیحضرت در آمده ایم
زیرا که ما قوم بملاحظ دین و ملت و مذهب و قومیت و وطن
وزبان بدولت خداداد افغانستان جز لاینفک می باشیم
وبدیگر دول علی الخصوص بدولت انگلیسیه که بمقامات
مقدسه ما دست تعدی دراز کرده هیچ قسم تعلقات سیاسی
نداشتیم و نخواهیم داشت که منافی الاسلام و قومیت و وطن
وزبان است و حال محض برای اظهار مقاصد سیاسی و اقتصادی
خارجه خود جناب فضلیت ماب مولوی عبیدالله خان صاحب)
که معتمد و موثوق الکلام است وکیل مطلق گردانیدیم
که بحضور اعلیحضرت امیرالمسلمین امیرامان الله خان غازی
خلدالله ملکه و سلطنته حاضر شده بوقت انعقاد مصالحه و انفصال
معاملات سیاسیه خارجه بدولت برطانیه جزبات و خیالات
مارا به سرپرستی پدرانه خود قبول کرده امورات سیاسی
مقاصد و اغراض حال و استقبال خارجه مارا بادولت برطانیه
فیصله نماید واگر دولت انگلیسه من بعد به هیچ نوع در معاملات
وامور داخله و خارجه مداخلت کرد تا دم مرگ بجنگ
حاضر می باشیم تحریر ۲۶ ذ الحجته الحرام
مهر و نشان انگشت سی نفر از مشران قوم در وکالت مذکور
فوق بمثل وکالت خط فوق از کلیه اقوام که در عریضه وکلای
مذکور نشان داده شده و وکالت خطها موجود بوده که اقوام

ACKU

مذکور در داخل خود را آزاد اعلان نمود و امورات خارجه خود را آزاد اعلان نمود و امورات خارجهٔ خود را بدولت افغانستان سپرده بودند

حاجی صاحب د افغانستان د پاچاهانو به دورو دو روکی د پښتونستان د آزادی په لارکی زیاتی مجاهدی کړی دی ، دده خدمتونه د افغانستان د خپلواکی په جګړه کی دیوه ملی مشر په حیث د چادستر ګو څخه پټ نه دی او په مشرقی کی ئی د مجاهدینو د روحیاتو د تقویه کولو او عارضی ماتی د جبیر کولو د پاره ډیر د پره ونه وګللل.

د افغانستان د خپلوا کی د ګټلو څخه وروسته حاجی صاحب د قبایلو د وفد په مشرتیا کابل ته راغی او د مبارکی د عرض څخه وروسته قبایلو خپله د اخلی آزادی اعلام کړه او د باندنی چاری ئی په افغانستان پوری وتړلی .

د قبایلو مشران چه د حاجی صاحب په مشری کابل ته راغلی وو د اعلیحضرت امیر امان‌الله خان حضور ته ئی داسی عریضه وړاندی کړه . چه د وی د خپلی ازادی او ملی خودارادیت دپاره د انګریز د استعمار په مقابل کی ترهغه وخته جنګیږی چه تر څو ئی نه وی ګټلی اعلیحضرت د د وی ملی جذبات او د آزادی احساسات وستایل او وعده ئی ور کړه . چه د دوی د آزادی د پاره به جدی او اساسی اقدام کوی .

حاجی صاحب دانگریزانو لوی د ښمن بلل شوی دی د لنه زه دیوه انگریزی کتاب ترجمه چه په هغه کی حاجی صاحب دانگریزانو د دښمن په عنوان یاد شوی دی راوړم :-

(عبد الرازق) هوز هو (افغانستان) ۶۵ - ۶۶ مخ د سملی چاپ ۱۹۲۰ مخ ۸۸ (حاجی)

په هندوستان کښی خپل تعلیم بشپړ کړی دی دامیر حبیب الله خان په دربار کښی دحضورملا اما مؤاو هم په کابل کښی د (سلطانیه مدرسی) رئیس و او په هغه کښی د فلکیاتو پرعلم کنفرانسونه او نطقونه ایراد کړی څو موده د سردار حیات الله خان معلم هم و ، اود هند په سفر کښی هم له نوموړی سردار سره تللی و .

درا رسېدلی راپور له مخی نوموړی په ۱۹۰۸ میلادی کال کښی له خپلو ۱۵۰ تنو ملگرو سره دانگریزانو په ضد جگړی ته رهی شوی ؤ خوامیرحبیب الله خان یی دیو مصلحت له کبله مخه و نیوله دامیر حبیب الله خان دسلطنت په وروستیو وختو کی دسردار نصرالله خان اعتمادی شخص ؤد نوموړی سردار درست حرکات اوفعالیتونه دیاغستان د قبایلی علماؤ اور ئیسانو سره ددهٔ په واسطه کېدل اود ستر و علماؤ ډیر لوی دوستؤ مخصوصاً د ملا نجم الدین ملا پیوند او لالا پیر سره چه دانگریزانو لوی مخالفین وه دوستی درلود ل .

د ۱۹۱۷ کال په لومړي پوو ر مځو کې دحاجي صاحب او امیر حبیب‌الله خان ترمنځ دهغو زیاتو پیسو دلګښت په نسبت اختلاف پیدا شو چه د سرحد قبائلي خلکو د یو والي په لار کښې يې لګولي او لکه چه ویل شوي دي دامیرله خوا حاجي صاحب وترټل شواو د فعالیت مخ ئې ونیول شو .

د ۱۹۱۷ په پسرلي کښې بیرته په ماموریت مقرر شو .

د ۱۹۱۹ کال په پسرلي کښې هغه وخت چه د سردار نصرالله خان اقتدار ضعیف کیدی نوموړی په بېړه سره له جلال آباد د ځخه ووت او مهمندو ته د ترنګزو حاجي صاحب ځای ته لاړ و یل کیږي چه دده مقصد دا و، چه د مهمند و خلك دسردار نصرالله خان په طرفدارۍ و پاروی او باجوړ ته هم ولاړ .

حاجي صاحب وروسته دا علیحضرت امان‌الله خان سره په تماس کې شو او دهغه له خوا په شمال مغربي سرحدي قبائلو کښې د تبلیغاتو د رئیس په حیث معرفي شو د ۱۹۱۹ په اکتوبر کښې بیرته کابل ته راغی خو لکه چه ویل شوي دي په دې نسبت چه سردار نصرالله خان سره یې جوړه وه دپاچا ښه نه ایسیده .

د ۱۹۲۰ په جنوري کښې دخوست له لارې (وانۍ) کانیګرم ته ورسید .

## په ملي جهاد کې د پکتیا والو ګډون

لکه چه پخوا وویل شو د اعلیحضرت امان الله خان له حضوره څخه سپه سالار صالح محمد خان مشرقی ته او جناب عالیقدر جلالتمآب سردار محمد نادر خان سپه سالار د خپلو ننګیالیو ورونو سردار شاه ولیخان او سردار شاه محمود خان سره جنوبی ته مقرر او ولیږل شول .

څرنګه چه د مشرقی وضعیت د صالح محمد خان او ځینو نورو موظفو کسانو له سوء تدبیر څخه خراب شو بیانو د خدای په فضل د داخلی او سرحدی ملی مجاهدینو و لسی مشرانو او غیرتمنو خلکو، قومونو او د حاجی صاحب د خالصانه او صادقانه لارښوونو له کبله تر یوه حده پوری څه او د افغانستان (خدای مکړه) تللی آبرو و په هغه سمت کی بیرته په ځای شوه چه د دې کتاب له لوستلو څخه ګران لوستونکو ته پوره څرګند یدلای شی .

په مقابل کښی په جنوبی سمت کی د جناب سردار سپه سالار صاحب غازی محمد نادرخان د ښه تدبیر، عاقلانه سیاست او مردانه همت په اساس چه په خوست کی د افغانستان د لښکر و لوی قوماندان ؤ او په ارګون او وزیرستان کښی سردار شاه ولی خان په سید کرم او پیواړ کښی سردار شاه محمود خان د عسکری قوماندانانو په حیث کار کاوه داسی بریالیتوب و نه په لاس راوړل:-

د وزیرستان قول قبائل لکه وزیر، مسعود، بیټني، ګربزار کزئی

ACKU

او نور یې د انګریزانو په ضد وپارول او په خپله دغه مدبر سپه سالار په میړانه د ټل چوڼۍ د توپو په واسطه د بمباری لاندی و نیوله او احمدزیو وزیر کامونو له وانې څخه تر تربوزی پوری (۳۵) وړی او لوی چوڼۍ قولی تالا کړی او له عسکری او ملیشی څخه ئې وسلې واخیستې (اوداڼه) ستره چوڼۍ ئې چه د جنوبی وزیرستان مرکز ګڼل کیدله هم و نیوله همدغه راز مسعودو پر جندوله او د انګریزانو په نورو چوڼیو حمله و کړه دوزیرو اتمانزو کام یعنې د شمالی وزیرستان خلکو هم پر قولو چوڼیو حمله و کړه او د شمالی وزیرستان مرکز (د میرام شاه چوڼۍ) چه عسکری بوخ مرکز و هغه یې محاصره کړه همدغه راز د دغه سرحد په اوږدو کښې له ایوره څخه د کاکړستان تر سیمو پوری چه تقریباً دوه سوه میله اوږده دی انګریزی مرچې ماتې دوی او په ټل کښې د انګریز فوجونو سخته ماته و کړه او په همدی سبب د جنګ متارکه وشوه او په نتیجه کښې یې د افغانستان خپلواکی په رسمیت و پیژندله شوه .

حاجی صاحب د ۱۳۳۸ هجری کال د محرمی په میاشت کښې د دغو سرحدی قومو له جرګې سره یو ځای کابل ته راغی همدغه راز له جنوبی سمت څخه د تل فاتح غازی سپه سالار محمد نادر خان د هغه سمت د سرحدی جرګی او وکیلانو او خپلو میړنیو ورونو سره کابل ته راورسیدل د کابل د قولو خلکو نظامی او ملکی عالی رتبه مامورینو له خوا ئې ډیر شانداره او تود هرکلی وشو .



ACKU

دغه سرحدي جرګې د افغانستان د حکومت او ملت له خوا څخه ډېرې و نازولې شوې او ډالۍ ورکړې شوې چه د افغانستان او پښتونستان ملتونه په خپلو منځو کې یو دي او تل په خطیرو موقعو کښې د دښمن په ضد اوږه په اوږه جنګېدلي دي د دغه جرګې د سوغاتونو او انعامونو سره بېرته ولاړې.

څرنګه چه حاجي صاحب ډېر زهیر او ستړی شوی و د څو مودي د پاره یې د رسمي کارونو او ملي جهاد و څخه لاس واخیست او په خپل کور کې ئې د جدې تر میاشتې پورې استراحت درلود (د خپلواکۍ د جګړې څخه تر ۱۳۰۰ ه،ش کال پورې) د انګرېزانو او وزیرستان د قبائلو جنګونه له انګرېز سره د افغانستان د استقلال جهاد چه خلاص شو او د افغانستان او برطانیې ترمینځ متارکه وشوه انګرېزانو موقع پیدا کړه چه د سرحدي قبائلو څخه د بدل اخستلو په غرض د دې د پاره چه د دغو قومونو مهم مرکزونه د دوی د نظامي قواؤ تر سلطې لاندې وي او افغانستان و نکړای شي چه د انګرېزانو په ضد د سرحدي قبائلو او کامونو څخه کار واخلي نو لومړی یې وزیرستان ته او ورپسې یې مسعودو ته چه غرنۍ سیمې دي عسکري مهم سوقیات شروع کړه او هم یې یو زیات شمېر فوځ د میرام شاه چوڼۍ ته ورسوه او د وزیرو د اتمانزیو (شمالي وزیرستان) له خلکو څخه جرمانه او د سرکاري توپکو تحویلول وغوښتل او د دغو

قامونو دوبرولو دپاره ئې ددوی پرسیمو دالوتکو گزمې شروع کړې ددغو فشارونو او کې او نو له کبله څنې دوزیرو اتمانزیو څه مودهوروسته انگریزانوسره مصالحه وکړه څه جرمانه اوبوڅه وطنی او انگریزی وسلې بې ورتحویلې کړې وروسې انگریزانو دمسعو دو خواته دعسکرو دلیږلواراده وکړه اوپه مسعودو باندې یې دیرغل دپاره په جنداوله کښې په ۱۲۹۸ هجری شمسی کال دعقرب په میاشت کې عسکر راغونډ کړل او ددغه کال دقوس دمیاشتې په اوائلو کښې دانگریز فوج دمیجرجنرال کلیموتر قوماندانۍ لاندې مسعو دو خواته مخه وکړه دانگریز فوج ونه چه په قوی وسلو مجهزو ه نیپالی، گورگه پنجابی سکان غرنی صحرائی اوان تو پسونه او (۷۰) بم غورځوونکې الوتکې زیات شمیر او بنان او غاطری هم ورسره وی د جندوی څخه ها خواد تنگزام په سیمه کښې تر کانگرم پورې چه څلو یښت میله او ږده لاره ده مخې ته لاړل دغه لاره په ځنگلو او جگو غرو پټه ده.

انگریزانو لومړۍ ددې دپاره چه په عمومی صورت دقبایلو روحیات وځپې دقولو قبایلو پر بشځو، کو چنیانو څوانانو ، کلاگانو باندې دالوتکو بیر حمانه بمبا ری شروع کړې.

دمسعودو ننگیالی کام هم دجگړې او مقابلې دپاره خپل تیاری اعلام کړ انگریزانولومړی په وزیرستان کې

دوزیرو پراتمانزیو یوه فاتحانه حمله وکړه او په نتیجه کی د دوی په منځ کی صلح وشوه بیا انګریزانو د مسعودو په لوړ په څیرو تجهیزاتو سره سوقیات وکړل د دغو سوقیاتو له کبله په قول افغانستان او پښتونستان کی زیات اضطرابونه پیداشول او نژدی وو چه د افغانستان او انګریزانو سیاسی مناسبات بیرته خراب شی ځکه چه د دغه قبائل د افغانستان د کمربند حیثیت درلود او د افغانستان په خوشی او غم کی د دوی سره شریك ؤ که دغه قبایل انګریزان وځپی بیا افغانستان ته څه پاته کید لای شی!

دوهم داچه وزیرستان ته د انګریزانو د فوځونو سوقیات چه د غو قبائلو د افغانستان په جګړه کښی د افغانستان په طرفداریه له انګریزانو سره سختی جګړی کړی دی او درانده تلفات یې ورسولی دی په دغه وخت کښی چه افغانستان د انګریزانو سره د متارکی په حال کښی دی انګریزانو وخت غنیمت ګڼلی او غوښتلی چه قبائل له پښتو وغورځوی نو که افغانستان له دوی سره همدردی او مرسته ونه کړی په دی صورت کښی به قبائلی خلك بیخه له افغانستان څخه ناامیده او له افغانستان نه به جلاشی نو په پای کښی دوطن دوستو قوم پرستو او بوهو خلکو له نظر یې سره سم داسی فیصله شوه چه له هغو قبائلی خلکو سره چه په جګړه بوخت دی باید هر راز مرسته او کومك ورسره وشی د یومد بره قوم دوست او وطن

پرست سړی په واسطه دی په دغو قبائلو کښی یو مرکزیت جوړ شی او له هغې لاری دی دغه قومونه دانګریزانو په مقابل کښی تقویه شی هر کله چه دا وظیفه ډیر مهمه وه نوحاجی صاحب دد غه کار دپاره وړو باله شو .

حاجی صاحب چه تل دکام اووطن دښمنانو دساتلو په لار کښی خپلی سرښندنی ثابتی کړی دی سره له دی چه ناروغه او نا توانه ؤ خو دغه کارته یی خپل چمتو الی ښکاره کړ .

نو دهمدغه کال دجدی په میاشت کښی حاجی صاحب وزیرستان ته ولاړ او په کابل کښی دحکومت له خوا سبا ستا دده تشریف اعلام شو .

له حاجی صاحب سره دده زوی عبدالرحیم او دوه تنه مخصوص خدمتګاران دآس په سپرلی دګر دیز له لیاری وخوځیدل .

په دغه وخت کښی چه سردار شاه محمود خان غازی په جنوبی سمت کښی د نظامی او ملکی جرنیل په صفت کار کاوو .

حاجی صاحب له ده سره ولیدل او د موضوع څخه ئی د نژدی خبر کړ دغه سردار حاجی صاحب ته دخپلی خوا دهر ډول مرستو وعده ورکړه .

په دغه وخت په مرکز کښی سردار سپه سالار غازی محمد نادر خان داعلیحضرت امیر امان الله خان په کابینه

کښې د حربيې د وزير په حيث شامل شو سرحدي او قبائلي
چارې هم د ده د سياست مدار انه اداري لاندې راغلې

حاجي صاحب په ملي جذباتو او قومي تودو احساساتو
له گرديز څخه مقصود مزله خواته وخوځيد او سر روضې
ته ورسيد دوه شپې په سر روضه کښې د خروټي آدم خان
په ځاي کښې پاتې شو په سر روضه کښې د انگريزانو
د الوتکو د بمبار و ډغ اروبدل کيدلي څرنگه چه د حاجي
صاحب دا تگ بې نه پاتې کيدلې نو ځکه حاجي صاحب
خلکوته څرگنده کړه چه زه د جهاد د پاره وزيرستان
ته ځم د پښتني د علي خيلو ملا عبدالغني چه په هغه وخت
کې د خروټي آدم خان په جومات کښې امام ؤ په سياست
پوه يو ملا ؤ دغه ملا په قبائلو کښې زيات رسوخ
او حيثيت درلود او د کابل د مرکز په اشاره حاجي صاحب
له دغه ځخه وغوښتل چه د وزيرستان په مجاهدو کې گډون
ورسره وکړي هغه وخت چه دوی دارگون چا نه خوا او
مست کلي ته ورسيدل دارگون او شاوخوا ننگيالي
ميړنو هم له حاجي صاحب څخه وغوښتل چه په دې ملي جهاد
کې گډوان وکړي چه د دوی څخه ئې دارگون خان محمد
نومي له خپلو دوو ورونو سره په خپل جمعيت کې ومانه
او له هغه ځاي څخه د وزيرستان په علاقه کې سوال غره ته
د وزير ملك نياز مير ځاي ته ورسيدل .

د ملك نياز مير له ځاي څخه د منز نري د کوتې له لارې

ACKU

دوزیر واحمدزیو په علاقه کښی دوزیر احمدزی مجاهد ملا حمزالله صاحب (دسؤات دا خند زاده صاحب له مریدانو څخه یو لوی شیخ او دانګریزانو پخوانی بوخ دښمن و) کورته ورسید ل په دغه وخت کی دملا صاحب عمر سلو کالو ته رسیدلی و او په سترګو ئی څه نه لیدل خو سره له دی هم دمجاهدینو سره د جګړی میدان ته په ډیر وحاړ یو کی په کټ کښی رسول کیدی نو موړ دی ملا صاحب دډیر عمر! هیسی دحاجی صاحب له خوا تقویه کیدی او په دغه علاقه کښی ئی دافغانستان له خوا روحانی مرکز جوړ کړی و، دلته دحاجی صاحب ډیر تو دهر کلی وشو حاجی صاحب نوری دوه ورځی دلته پاتی شو او له چریا ناتو څخه ئی ځان خبر کړ انګریزان په دی وخت کښی ډیر حساس شول.

او فوجونه ئی مسعودو ته ورننویستل.

ددی مخه مسعودو دانګریزانو سره ډیری ملی مجاهدی کړی وی:- دوی دافغانستان دخپلوا کی په جهاد کی داعلیحضرت شهید سعید محمد نادرشاه په قیادت ؤانه و نیول او انګریزانو ته ئی ډیر مالی او ځانی زیانونه ورسول.

دانګریز د استعمار په مقابل کښی دمسعودو د آزادی ساتلو دری تاریخی جنګونه دیادونی وړ دی په دی جنګونو کی دوی په دومره وطندوستی او کامی میړنی مقابله کړی ده چه دانګریز مسلح او ډیری قواوی ئی دماتی او وارخطائی سره مخامخ کړی دی په دی وخت کی حاجی صاحب د ملاحمزالله

له ځای څخه د وانا احمدزیو وزیرو او مسعودو کامونو ته
ولیکل چه د جرګی په توګه مسکی ته راشی حاجی صاحب
د دوی سره د شلو کالو راهسی دوستی او ارتباط درلود
شله یوه سیمه ده چه د شمال خواته ئی مسعود او جنوب ته ئی
د وزیرستان مرکز وانا واقع ده دغه غرنی سیمه ډیره ښه آب
او هوا لری احمدزی وزیر پکښی اوسی) د حاجی صاحب خطونه
چه د وانا احمدزیو وزیرو ته ورسیدل دوی د حاجی صاحب
په راتلو ډیر خوشحاله شول دری ورځی وروسته څلور پنځه زره
لښکر د قوم له مشرانو سره اشکی ته ورسیدل حاجی صاحب
د ملاحمزالله صاحب له ځای څخه د اشکی مرکز سپیر کی کلاته
ورغی د وزیرو جرګه چه لوی واله ئی قول تقریبا دوو زرو
تنو ته رسیدل سره راټول شول بیا له دی چه د جرګی په شاو
خوا کی وږغیږو یوه بله خبره هم د ویلو وړ ده هغه دا چه هغه
وخت چه غازی سپه سالار جنرال محمد نادرخان د انګریزانو
پرضد د ټل په چوڼی حمله وکړه وزیر د افغانستان په مرسته وپا
څیدل او د جنوبی وزیرستان مرکز (وانا) چوڼی ئی و نیوله په
دی وخت کی د وزیرو جرګه د سپه سالار محمد نادرخان بحضور
به خوست کی وه دغی جرګی د سپه سالار صاحب څخه وغوښتل
چه د وانا چوڼی د ساتنی د پاره دوه توپونه یو ټولګی عسکر
ورکړی او د ضرورت په وخت کی په وزیر مرسته ورسره کوی
سپه سالار صاحب د دوی غوښتنه ومنله او شادوله خان ئی چه
په سرحد کی ښه بلد و د برګد نائب په حیث مقرر کړی او پاینده خان

سالبی (کنډ کمشنر) د ده د مرستیال په حیث وټاکه د دوی سره (٦) بوټه توپونه (٥٠) سپاره او توپخانې عمله هم ولېږل شول

## جرګې او نتیجې ئې

جرګه د اشکې په سپیر کې کلا کښې جوړه شوه حاجي صاحب وزیرستان ته خپل راتګ د اسې څرګند کړی سرحدي قومونه د افغانستان نه بېلیدونکی جز دی په غم او شادی کې سره ګډ دی کومې سربښندې چه د آزاد سرحد قومونو د افغانستان د استقلال په جهاد کښې کړی دی هیڅکله د افغانستان د ملت نه هېرېږي همداده چه دغې ورورولۍ په آساس چه د افغانستان د خلکو او ستاسو ترمینځ موجوده ده زه له خپل یو زوی سره د افغانستان د ملي اولسي نمایندې په حیث د لته راغلی یم چه په دغه مصیبت کې له تاسو سره ګډون وکړم او غواړم چه خپلې وینې تاسو سره یوځای توی کړم او هرراز مرسته چه د افغانستان په وسه وی له تاسو څخه ئې و نه سپموم حاجي صاحب وویل زه هغه څوک یم چه له دیرشو کالو راپه دېخوا تاسو سره پېژنم او په ټولو بدا و ښو ورځو کې د ر سره ملګری وم

د جرګې له خوا لومړی ملاحمزالله صاحب چه هم د یرسپین ږیری او ضعیف ؤ ولاړ شو په خپله ساده وزیری لهجه یې حاجي صاحب ته هرکلی وو ایه او څرګنده یې کړه موږ د وزیرستان او ټول سرحدی قبائل تاسو ښه پېژنو د افغانستان د پخوانیو سلطنتو په وختو کښې ستاسو په واسطه نه هېریدونکی مرستې زموږ سره شوی دی هغه زحمتونه چه تاسی په دې لار کې کښلی دی موږ ئې هیڅکله نه شو هېرولای.



ACKU

هغه وخت چه امیر امان الله خان د استقلال اعلان وکړ او سپه سالار صاحب محمد نادرخان خوست ته را ورسید زموږ قومونو فوری د انګریزانو په ضد ملاوې وتړلې او د انګریزانو ټولې عسکری چونۍ ګۍ دوانا نه نیولې ترسرکی او کاکړستان پوری لوټ کړی.

د افغانستان او انګریز د متارکی په وخت کی موږ بیا دوهم محل هدایت ته منتظر شوو ملا حمزا الله چه عمر یې سلو کلو ته رسیږی او ستر ګی یې اوس څه نه وینی د خدای په فضل او د قوم په همت او غیرت اوس به د اسماعیل تر ډېری او د اټك ترسیند پوری رسید لی وای.

افغانستان ته به د جنګ په اوږد یدو کی شاید مشکلات پیښیدل خو د وزیرو او مسعود و غیرتمند کامونه لا تراوسه هم د انګریزانو سره په مجاهده کښی دی او سر یې نه دی ورته ټیټ کړی دوه میاشتی کیږی چه برطانیی ډیر ستر قوت د وزیرستان خواته را لیږلی دی چه د توچی، او ته خیل د علاقو چونۍ یې تر میرامشاه پوری بیرته نیولی دی او له یوی میاشتی را په دیخوا د مسعود سیمی ته ور ننوتی دی او غیرتمنو مسعودو لا تراوسه څو واری داسی ورسره مخې نې جنګیدلی دی چه ترابده به د انګریزانو هیر نشی.

زه چه د قوم یو عالم سړی یم او الحمدالله زما ټول عمر د انګریز سره په دښمنی او جهاد تیر شوی دی خپل قوم احمدزیو وزیرو ته می اعلان کړی دی چه د خدای (ج)

داحکامو له مخې خپلو مسعودي وروڼو سره مرسته او معاونت وکړي.

دغه غيرتمند قوم لا تراوسه پورې هم له خپلو مسعودي وروڼو سره له مرستې څخه ځان نه دي سپمولی.

ستاسو په دا تلو خوښ شوو ـزه په خپله له کاره وتلی يم وزيرو ته وايم چه ستاسو ترقيادت لاندې چه دافغانستان ستر عالم اوداسلام مجاهد ياست هر هغه امر چه په دې باره کښې دوی ته ورکړې دزړه له کومې څخه يې منې.

دملا حمزالله صاحب داوينا چه وزيرو ده ته د(ابا) خطاب کوی داسې مو ثره اواغيزه ناکه وه چه دغه غرنی خلك په کړيدو اوژړاشول اوله هر لوری څخه د تکبير آوازونه پورته کيدل.

بيا دوانا وزير ملك هفته خان چه دوزيرو احمدزيو زليخيلو په کام کښې ډير بوه سړی و دجرگې د خلکو اودملاحمزالله صاحب په اجازة وويل:ـ

جناب حاجی صاحب او دقوم محترمو مشرانو او کشرانو!

نن مو ډير خوشحاله يو چه دمأيوسی او نااميدی په حال کښې دافغانستان دمرستې ږغ ارؤ. او بيا ډيرې خوشحالی ځای دی چه حاجی صاحب غوندې شخصيت چه نوم مو آوريدلی ؤ اودده پخوانی همدردی مولا تراوسه هيرې نه دي دلته راغـلی دی خوحاجی صاحب خپل کوراو کهول

یې پرېښی دی او زموږ له غم او الم څخه ډکی سیمی ته راغلی دی موږ د دغه باعمله عالم په خوله چه عمرونه یې د اسلام او افغانستان د خدمت په لاره کښې تیر کړی دی کوو زموږ دردونه جناب ملا حمزالله صاحب (آبا) په مفصل ډول کړل بیان موږ چه نن د خپل قوم او د دینی ورونو افغانستان سره د مرستی کولو په جرم د انګریزانو د الوتکو د بمبار یو لاندی یو د دی نه پرته بله ګناه نلرو چه د خپلو ورونو سره مو د دوی د ملی خود ارادیت په جهاد کی ګډون کړی دی او دا زموږ کامی او وجدانی وظیفه ده.

ښاغلی هفته خان خپله وینا په مفصل ډول ایراده کړه او بیائی وویل:- نن پر موږ اختر دی چه تاسو غوندی ملی یو شخصیت زموږ د ټپیانو د مرهم داری او د شهیدانو د تعزیت د پاره د افغانستان له خوا راغلی یاست او دغه شعرئی هم وو ایه

بجرم عشق توام میکشند غوغائیست

تو نیز بر سر بام آی چه خوش تماشائیست

او دائی هم وویل: د څلویښت ورځو راهیسی موږ له خپلو مسعودو ورونو سره یو ځای د انګریزانو په ضد په جګړه کښې مو یو په سلهاو تنه ټپیان او شهیدان شول خو دا هم په زغرده وایو چه موږ به دومره میړانه او شهامت ور سره جنګیدلی یو چه انګریز ژوندی وی زموږ د هیبت او ډاره څخه به په آرامه نوی او دی باکی مځکی ته به د سلطی اچولو په بد نیت و نه ګوری اوس چه تاسو تشریف راوړی دی نو مونږ د زړه له کومی تاسو خپل قائد او رهبر ګڼو او خپلی ټولی چاری پر تاسو

ACKU

سپارو او ستا هر راز اوامر دسر په ستر گو منو .

دلته د هر قوم مشر په خپل وار جدا بی وینا وی وکړی او په پای کښی داسی فیصله وشوه چه :-

۱-انګریزانو غوواړی زموږ څخه د صلح غوښتنه کړی ده خو موږ نه ده منلی اوور وسته له دی به هم هیڅکله داسی سوله و نه منو چه په هغی کښی زموږ سرټیټی وی.

۲-په داسی حال کښی چه د مسعو دقوم په خپل عزم ولاړ دوی او له انګریزانو سره جګړه کوی زموږ قوم به هم په مسعودو کښی له دوی سره یوځای د انګریزانو په ضد جګړه شروع کړی

۳- موږ د حاجی صاحب ترقیادت اولاړشوو نی لاندی او دقومی جرګی د فیصلو په آساس خپلی قولی چاری په مخ بیا یو

٤- موږ به د حاجی صاحب سره یوځای د مرستی د پاره خپل لښکر چه په هغه کښی دری زره جنګی افراد له نوو وسلو سره دی د قومی ویش په اساس به دری ورځو کښی د مسعودو خوا ته ولیږ دوو .

۵-جرګی دیوه تصویب په اساس داسی پیشنهاد د حاجی صاحب ته وړاندی کړ چه د حاجی صاحب زوی عبدالرحیم د دوی د لښکر و په مشر توب مقرر شی په دغه وخت کی (عبدالرحیم خان) ۲۱ کلن ؤ څکه عبدالرحیم د وزیرستان د مجاهدینو د جرنیل لقب و ګاټه او حاجی صاحب ته د وزیرستان د رئیس المجاهدین خطاب متفقاً تصویب شو

حاجی صاحب و فرمایل زه د مجاهدینو خدمتګار یم او د خدای په غواړم چه په محشر کښی د اسلام او ملی مجاهدینو

به ډلی کی راو باځینې په جرګه کښی دشاه دوله خان او دوو توپونو په باره کښی هم خبری وشوی حاجی صاحب امر وکړ چه له جرګی څخه دی څو کسه وانا ته لاړشی او زما مکتوب دی شاه دولاخان ته ورسوی .

چه شاه دواله له خپلو دوو توپو سره فوری راشی او که په خپله خوښه افغانستان ته ځی ولاړدی شی او که له موږ او تاسو سره په جهاد کښی برخه اخلی لا به ښه وی بیا حاجی صاحب خپل زوی عبدالرحیم خان ته امر وکړ چه شاه دواله خان ته ولیکی چه دخپلو دوو توپو، جبه خانی او هر څه چه ولری فوری دی حرکت راوکړی. مکتوب دمولوی عبدالغنی علی خیل په لاس چه مجاهدینو د ناظم الامورات لقب ور کړی وُ دوانا له څو تنو وزیرو سره شاه دواله خان ته ورسول سو شاه دواله خان مجبور شو له خپلو و دسر کسانو سره په اشکی کی دحاجی صاحب حضور ته ورغی او دعسکری مقرراتو سره سم ئی داحترام مراسم په ځای کړل .

حاجی صاحب ده ته یوه رتبه ترفیع ور کړه یعنی لومړی غنډ مشر شو اودعبد الرحیم خان جرنیل مرستیال یې مقرر کړ او پاینده شاه خان ته یې هم په کنډکمشری ترفیع ور کړه .

دجرګی دفیصلی په اساسی دری و دځی ورو سته دریزره مسلح وزیر لښکر د حاجی صاحب سره دمسعود په لور حرکت وکړ .

حاجی صاحب دوزیرو له لښکر جبه خانی او دوو توپونو سره د مسعودو مرکز کانی گرم ته ورسید (په کانی گرم کې اورمړ او سیړي چه یو داز ښاري وضعیت لري او معموله ده چه د مسعود و دري طایفې یعنې منزائي، بلول زائی او شمن خیل په همدې کانی گرم کې جرگه کوی) د حاجی صاحب مکتوبونه مسعودو ته ورسیدل مگر په دې نسبت چه په جگړه بوخت و، وئی نشو کړای چه اشکي ته راسي. نو له هرې طایفې څخه څوتنه مشران او کشران د ملا فضل دین مشهور په شهزاده د مرحوم ملا پیونده په گډون د حاجی هر کلی ته کان گرم ته ورغلل هغه و خت چه حاجی صاحب کان گرم ته ورسید تو د هر کلی ئی وشو. فوری جرگه جوړه شوه څرنگه چه د مسعودو د سیمې د پاسه دانگریزانو الوتکی تل گرځیدلی او بی رحمانه بمبارۍ ئی کولی د دی دپاره چه جرگـی ته تاوان ونه رسیږي په مختصر ډول جرگه جوړه شوه.

## د جرگې تفصیل دادی:-

حاجی صاحب د مسعودو پرخاوره باندی دانگریزانو دظالمانه تجاوز په نسبت خپل زیات خواشني ښکاره کړی او دهغو مجاهد ینو پرروح ئی چه د دین او وطن د ساتنی په لاره کې شهیدان شوی وو، درود و استاوه او زیاته ئی کړه چه په دوی اسلام او کام افتخار کوی دوی هیڅکله مړه نه دی ده زیاته کړه چه دی دافغانستان له خوا په دغه مصیبت کی د گډون او غمشریکی د پاره راغلی دی.

مسعود هم په اشکی کی خپله گیله منډی دوزیرو
د گیلو په شان بلکه له هغه څخه زیاته او په تنده لهجه
(چه حق بجانب و،) څرگنده کړه .
په دغه وخت کی د لښکرو ازدحام ځیرو، نو داسی فیصله
وشوه .

۱-یوالخ بې دمرستیالو وزیرو لښکروته وټاکل شو
او بل الخ بې دمسعود لښکرو ته چه دجگړی په میدان
کښی و، تعین شو .
دا ټاکل له مخی ټولی لښکری په لاندی ډول وی .

| | | |
|---|---|---|
| اول: دوزیر و لښکر | ٤٠٠٠ | تنه په دی ډول |
| ۱-دبی دودو کارتوسونوی وسله والا | ۳۵۰۰ | تنه |
| ۲-دودمه درجه وسله والا | ۳۰۰ | » |
| ۳-بی وسلی نفر | ۲۰۰ | » |
| دوهم دمسعود لښکرنوی وسله والا | ٤۰۰۰ | » |
| ددوهمی درجی وسله والا | ۵۰۰ | » |
| بی وسلی | ۳۰۰ | » |
| ټول | ۸۸۰۰ | |

دلته باید ددغو غیرتمنو قومونو دجگړی اصول
اوطرز وښودو .
دوزیر او مسعود قومونه په جگړه کښی دغه راز
ترتیبات نیسی .
الف: لښکری عموماً په دری ډوله ویشی

۱ـ د بې دودو کارتوسو د نوو اعلې توپکو وسله وال
۲ـ د بې دودو کارتوسو وطني توپك
۳ـ بې وسلې خلك

ب:ـ د لښکر اصول دادی چه په هره طائفه کښې د قومي مشرانو څخه پرته داسې اشخاص موجود وي چه په جګړو کې سخته میړانه او زړورتیا څرګندوي او خپل مربوط نفری مناسبو ځایو ته بیائي او ډیر لږو تلفاتو په بدل ډیر مهم کار وته سرته رسوي د جګړې په وخت کښې دغه راز خلکوته یو ټولګی جګړن اشخاص راټوله وي دوی خپل یومشر ټاکی چه په عسکری اصطلاح د جبهې محارب قوماندان بلل کیږي .

ح :ـ د قوم مشران او سپین ږیري هم په لویو معرکو کښې له لښکر سره ځي او عمومي جرګې د هغو په سلا او مشوره اجراء کیږي خو لښکر دوی د جګړې میدان ته نه پریږدی په ګوښه او ایمن ځای کې ساتي .

د: کله چه د جګړې ډګرته ورننوزي په لویو دولتی جګړو کښې هغه کارتوس استعمالوی چه دودونه لري دا ځکه چه د توپ او الو تکو نه بچ وی .

دغه زړور قوم د تعبیي په فن کښې او له اراضي څخه د ښې استفاده کولو په صحیح هدف د وسلې په استعمالولو او پر دښمن باندې په برید کولو په دنیا کښې سارې نه لري .

هـ :ـ د جګړی په ډګر کښی هغه زړور ځوانان چه ښه توپك او بی دوده کارتوس لری د دښمن په مقابل کښی مرچی نیسی .

هغه جګړن چه توپك نه لری د اسلحی لو ونکی په خنګ کښی په داسی حال کښی چه پیشقبضه ور سره وی د ښکاری په شان د جګړی په میدان کښی انتظار باسی نو هغه وخت چه قومی لښکر په دښمن یرغل کوی او لاس تر لاسه له نژدی څخه تن په تن جنګ شروع شی دوی د دښمن له زخمیانو او مړو څخه وسله ولجه کوی او سمدستی هغه استعمالوی .

یوه برخه کم عمرد او یا سپین ږیری او معذور اشخاص د لښکر تر شا د آذوقی او د بستر و د ساتنی وظیفه داروی .

و :ـ لښکر داسی تعبیه نیسی چه هر یو له بل څخه لس متره فاصله ولری او پر محکه داسی غځیږی چه په محکه او تهړو کښی نه ښکاری او نه پیژندل کیږی .

ز :ـ هر کله چه د دښمن لښکری مارش شروع کړی ی په دی نسبت چه کافی جبه خانه نه لری نو خوشی په خوشی ډزی نه کوی ـ دښمن که هر څومره توپو نه توپك او ماشیندار ی چلوی دوی له ځای څخه نه خوځیږی ـ نو دښمن په جرأت سره مخ په وړاندی درومی ـ نو هغه وخت چه دښمن (٥٠٠) گامه ور نژدی شی لکه چه په تولو لښکرو کښی معموله ده هره طائفه یو حملی ډولچی لری هغه

ACKU

د خپل مشر په لار ښوونه د سنګر له یوې ناحیې څخه په ډیر
شدت سره ډول غږوي وروسته له هغه په ښه برابر ځای
پر ځای پر دښمن باندې ډزې شروع کیږي هر کله چه
دښمن دوه سوه ګامه ور نږدې شي له لښکر څخه په عمومي
صورت شور او غلغله جګه شي په هماغه شان چه یو تر بله لس
متره فاصله لري پر دښمن باندې لیوني یرغل کوي او ځان
دښمن ته ور رسوي او تن په تن جګړه شروع شي چه دغه
راز جګړه دوه ګټې لري.

١:- داچه د دښمن د توپونو له ډزو او دالو تکوله
بمبارۍ څخه خلاصوي - یوازې د دښمن له خوا څخه لاسي
بمونه استعمالیږي او دوی پر دښمن باندې له پیشقبضو څخه
د برچې کار اخلي.

٢:- په نتیجه کښې دښمن ماته کوي او د لښکر له خوا
تر چونیو پورې محلول کیږي په دې وخت کې د یرې
ولجې د مجاهدینو لاس ته ورځي.

ح:- ولجې په داسې ډول ویشلې کیږي:

هغه وخت چه لښکر د جګړې له ډګر څخه بیرته راوګرځید
په هماغه ځای کې چه د دوی څوړ دی او بستري ساتلې کیږي
راغونډ شي خپل ټوپیان او مړي هم راوړي او بیا ټول ولجه
شوي شیان لکه توپک، کارطوس او نور د قران مجید په مخ
ټول سره یو ځای کړي او په لاندې ډول یې سره
ویشي:



ACKU

١- هرچا چه یو توپك ولجه کړی وی هغه د ده خپل گڼل کیږی او که زیات وی هغه را ټول کړی ی نود ټولو ولجه شوو، شیانو څخه هغه چاته چه په تش لاس په جگړه کی و، یوه برخه او جگړه ماړ توپك والا ته دوه برخی.

٢- هغه چاته چه څوړې او بستری بی ساتلی وی نیمه برخه .

٣- د هری ډلی جنگی مشرانو ته د ده د مربوط افرادو له ټولو برخو څخه یوه دانه توپك په فوق العاده صورت زیات ورکړل کیږی .

٤- د پورتنیو تقسیماتو څخه وروسته خپل ټپیان او مړی سره وړی نو اوس چه د وزیر او مسعود و د قبائلو په جنگی اصول باندی پوه شو نو بیرته د جگړی خواته راځو د وزیرو او مسعودو لښکری د (کج میدان) په برخه کښی په دوو جناحو یعنی ښی خواته او کینی خواته وویشل شول مازدیگر یې خپله ډوډۍ وخوړه له سبا وورځ د دښمن د سوقیاتو وورځ و ..

حاجی صاحب د مسعود و د مشرانو له تجویز سره سم هغه ځای ته چه د انگریزانو الوتکو له بمباری و څخه پناه او خوندی وو رغلی او د دواړو قومونو وزیرا و مسعودو ترمنځ یی د خبرو د رارسولو د پاره سړی وټاکل چه هر هغه گړی چه کومه واقعه پیښیږی د هغی خبر د اوړی همدغه راز دوه توپونه یې د سمځې ترمخ ودرول چه که چیری کومه سختی پیښه شی سمځې ته یې ورننه باسی د حاجی صاحب



ACKU

بو زوی په دې خصوص کې داسې وائي:

زه ځوان او زښت بې پروا وم کيڼې خوا ته دو زېر له لښکر سره د غره په لوړه ځو که دښمن ته مخامخ وختم له ما سره يو تن مسعود چه د انګريز په فوځ کښې يې پخوا د مخابرې په شق کښې کار کړی ؤ يو ځای ؤ موږ په دوربينو کښې کتل هر کله به چه د انګريزانو د فوځو له قوماندانۍ څخه د مخابرې د آلا تو په واسطه هدايت ورکول کېده ی دې سړی به يادداشتول او بيا به فوری حاجی صاحب او لښکر وته خبر ورکول کېده ی.

تېره شپه چه هوا سړه وه او د دلوی مياشت وه د سهار پنځه بجې وې د انګريزانو ځوانو له خپلو مرچو څخه د ماشينګنو په مسلسلو ډزو لاس پورې کړ چه لمر راوخوت د توپونو ډزې هم شروع شوې همدا شانې د آ وان او نورو توپونو ډزې د لښکر تر شا ردوبدل کېدلې لو مړی يې زموږ په توپو ډزې وکړې زموږ توپونه واړه او قديمي وه د حاجي صاحب له مرکزه امر راغی چه توپونه پناه ګاه ته نښا سی انګريزي الوتکو په دوامه و جناحو کښې د مجاهدينو په لښکرو باندې پر له پسې بمبارۍ شروع کړې او چپ چاپېر غرونه د دښمن د درندو توپو تر ډزو لاندې ؤ په دغه وخت کښې د انګريزانو له قوماندانۍ څخه يو کندک ته د مخابرې د بيرغ په واسطه امر وشو چه هغه ځای ته ځانونه ورورسوی چه د مجاهدينو توپونه وه

او هغه باید تصرف کړی مسعود به دی مخابره بوه شو
او حاجی صاحب ته ئی خبرورکړ چه حاجی صاحب امر وکړ
چه مسعود دی د (موسی) په مشری ساتونکی افراد چه د توپ
پناگاه ته نژدی مقرر شوی دی باید حمله د دښمن څخه مدافعه
وکړی دا (موسی له موسی خان څخه) پرته دی چه ډیر دلاور
سړی دی.

په دغه وخت کښی زموږ د لښکر له خوا چپه چپتیا
و. (ما سپښین (۲) بجی شوی دانگریزانو له عمومی
قوماندانی څخه د مخابری په واسطه ټولو فوځونو ته
امر ورکړ شو چه په دواړو خواو کښی د پرمخ تگ
شروع کړی په دوربین کښی ولیدل شول چه دانگریزانو
ټول فوځونه وخوځیدل هغه وخت چه اردو له دواړو خواو
څخه (۵۰۰) گامه را نژدی شوله ښی پلو څخه وزیرو په ټوپو
شدیدی ډزی شروع کړی وروسته د مسعودو له خوا هم شدید
فیرونه وشول هغه وخت چه دښمن ته دوه سوه گامه پاتی شول
او هم هغه کندک چه زمونږ د توپ د نیولو د پاره مقرر
شوی وُ پناه گاه ته را نژدی شو نو په دغه وخت کی
د مجاهدینو په لښکری د غلغلی او تکبیر آوازونه پورته
شول ډولونه ووهل شول او په ډیره دلاوری او شهامت
چه دانسان عقل ورته حیران او هیښ پاتی کیده په دښمن
عمومی یرغل وشو او نیم ساعت لا نه وو تیر چه د غیرتمنو
مجاهدو لښکر له هری خوا دښمن په لښکر کښی ورگډ شول
الوتکی له فعالیت څخه پاتی شوی توپونه غلی شول

انګریزي قوځونو لاسي بمونه اچول زړورو مجاهدینو
دسکانو، نیپالي ګورکه عسکرو په تښتو کښې داسې پیشقبضي
ور منډې لي چه د ګډې له مخې د دښمن قوځو سخته ماته
وکړه او په پرشا تللو مجبور شول او مجاهدینو هغوی
تعقیبول په دې وخت کې د مخابرې نفر راغی او وویل چه
دانګریز لښکر و ته د عقب نشینۍ امر ورکړ شو.

هغو پنځو سوو تنو ساتونکو د ( موسی ) په مشرۍ
فوق العاده میړانه وکړه او د انګریزانو له یوه کنډک څخه یې
ډېره برخه د منځه یوړه په دغه جنګ کې
د مجاهدینو ننګیالي قوماندان ښاغلي موسی د یو انګریز افسر
هم ووژلی چه خولی او نښانګی د رئیس مجاهدین حضور ته
وړاندې شو چه د انعام او بخشش وړ ګرځېد د دې نه علاوه
د دښمن دوه الوتکې هم لګېدلې وې چه په سختۍ یې ځان
قشلې ته ورساوه او را ولوېدې.

په دغه وخت کښې لمر ولوېد د انګریز قوځونه خپلې
قشلې ته ورسېدل غیرتمن مجاهدین بېرته راو ګرځېدل خپل
مړي او ټپيان یې واخستل د دوی په لاس د غه ولجې ورغلې:-

اول: د مسمو دو:-

| | |
|---|---|
| ۱- یو ولس ډزي چاغورداز توپك | ۱۱۰۰ میله |
| ۲- کارطوس | ۲۰۰۰ ګډی |
| ۳- وا ړه ماشیندار | ۵ دانې |
| ٤- لاسي بمونه | ۱۰۰ دانې |
| ټپیان | ۸۰ تنه |

شهیدان ۵۰ تنه

دوهم وزیر:ـ

۱ـ پولیس ځای جاغورلرونکی توپکان (۹۰۰) میله

۲ـ کارتوس (۱۵۰۰) ګډۍ

۳ـ لاسی بمونه (۶۰) دانې

واړه ماشیندار ۲ دانی

ټپیان (۶۰) تنه

شهید ان (۴۵) تنه

ټول ټپیان (۱۴۰) تنه

ټول شهیدان (۹۵) تنه

دمجاهدینو تلفات چه انګریزانو په خپل راپور کښې ښودلی دی (۵۰۰) تنه دی ترڅنګه یې دجاسوسانو په واسطه دانګریزانو تلفات څرګند شوی دی:ـ

۱ـ ټپیان ۱۱۰۰ تنه

۲ـ مړه ۸۰۰ تنه

۳ـ برطانوی مړه ټپی منصبداران ۳۰ تنه

٤ـ هندی مړه او ټپی شوی منصبداران ۷۰ تنه

انګریزانو په خپل راپور کښې خپل تلفات لږ ښودلی دی او مالی تاوانونه یې په هیڅ یوه جګړه کښې نه دی څرګند کړی په داسی حال کښې چه دوی دسر نیزو او تن په تن جنګونه ډیر ذکر کړی دی .

ماښام ؤ چه رئیس المجاهدین حاجی صاحب امر وکړ چه توپونه دی ترشا یو پناه ځای ته یو ړل شی .

وزیرو او مسعودو په شپه کښې خپل مړی او ټپیان واخیستل

او کوردونو ته بیرته ولاړل. حاجي صاحب په هغه ځای
کښې له لسونو مسعودو او موسی خان سره چه په هغه وخت
کښې د عبدلي د لښکر مشرو پاتې. شو دغه ځای د انګریزانو
چوڼۍ ته د یو زر ګامو په اندازه نژدې وو

هر څومره چه مسعودو مشرانو له حاجي صاحب څخه
وغوښتل چه دا ځای د خطر ځای دی باید تر شا ولاړ شو
حاجي صاحب و نه منله او خپل زوی (عبدالرحیم) ته یې امر
وکړ چه د خپلو نفر یو سره تر شا وی په خپله حاجي صاحب
اته ورځې هماغته پاتې شو انګریزانو هم په دې نسبت
چه د تیری ورځې په جګړه کښې ډیر تاوان او تلفات ور
اوښتی وُ د فوجونو حرکت او وړاندې تګ یې معطل کړ
چه د شپې له هغه ځای څخه وخوځیږی که څه هم د دلوی
د میاشتی یخ وُ سره له دې هم په ډیر زحمت (دوه توی) ته
داورسیدل «په دوه توی کې هغه سیند و نه چه له ملکنډ
او کانګرم څخه راځی په دغه ځای کښې یو ځای کیږی.»

د دوه توی په سر کښې د مسعودو معروف مجاهد
ملا پیونده کورو حاجي صاحب د ملا پیونده صاحب د زوی
ملا فضل دین ځای ته راغی په دغه وخت کښې ملا فضل دین
او ورونه یې د مرحوم ملا پیونده د مړی په راوستلو په دې
نسبت بوخت وُ چه د مرحوم مدفن د انګریزانو د لښکر
په لار کښې وُ او د پلار مړی یې په یوه غونډۍ کښې په محفوظ
ځای کښې ښخ کړ چه د دښمن له اذیت څخه خلاص وی.

حاجی صاحب شپه د ملا پیونده کره تیره کړه سبا ورځ

د حاجی صاحب په تعقیب د انګریزانو الو تکی و الو تی

او د ملافضل دین بر کور او مسجد یې بمو نه واورول چه مسجد

او ده د کورونو یوه برخه یې و نړوله بیا حاجی صاحب

د ملکند د دړې په آخره برخه کښې د عبد لی

موسی خان ځای ته راغی او هلته پاتې شو به دغه سخت

وخت کښې د غه خدمت چه موسی خان و کړ هغه ته

حـاجـی صـاحـب دزوی خـطاب و رکـړ

کله چه مسعود دانګریز دالو تکو له بمبار یو او بر له پسې

جګړې و څخه په تنګ شول او هغه مرستې چه دوی غوښتلې

ورونه رسیدلې نو انګریزانو دا وخت غنیمت و ګاڼه او

سیاسی ځانګړې چه به چونیو کې وی به قبایلو کې ئې

د دسیسو او توطیو دلاری په اختلاف او نفاق اچولو شروع

وکړه او قبایلو ته ئې د صلح شرطونه تر پخوا ډیر سخت

وړاندې کړل او دخپلو مسعودو محینو کماشته ګانو په

واسطه ئې دقوم جنګی او ملی روحیات ضعیفول ددغه کال

دحوت په میاشت کې به کانی ګرم کې د مسعودو دریو

واړو طایفو دوړو اوزړو له خوا چه تخمیناً لسوزرو تنو ته

رسیدل یوه عمومی جرګه جوړه شوه اود قوم د مشرانو

له خوا حاجی صاحب ته چه به ملکند کې ؤ خبرورکړه شو چه

پدې جرګه کې ګډون وکړی.

## دمسعودو د ملی مجاهدو جریانونه

رئیس المجاهدین حاجی صاحب کانی ګرم ته داورسید

جرګه په پولوی میدان کی جوړه شوه هغه وخت چه حاجی صاحب جرګی ته راغی د حاضرینو له خوا د هر کلی او ښه راغلی ناری پورته شوی .

په دی جرګه کی د حاجی صاحب یو ډیر مخلص چه قطب الدین وزیر نومیده هم حاضرؤ .

حاجی صاحب ته ئی وویل وخت ډیر نازک دی او په دی جرګه کی هر ډول خلک راغلی دی که ته جرګی ته په تندی او خشونت مخ واړوی ددی امکان ډیر سته چه د استعمار څیرنی نوکران راغلی دی نو باید چه ستاسو له خوا ستا په مقابل کی سخت عکس العمل ښکاره کړی او د قتل احتمال دی پیدا شی.

حاجی صاحب ورته وویل (والله یعصمك من الناس) هغه وخت چه جرګه آرامه شوه یو ملاچه د قاضی په نامه یادیدی ودریدی او وی ویل دا د سولی د شرطونو په خصوص کی د انګریزانو یو مکتوب دی .

که اجازه وی چه وی لولم: ( د مکتوب متن په اردو ژبه ؤ) حاجی صاحب ورته وویل: وئی لوله هغه مطلبونه چه د سولی په باب کی انګریزانو لیکلی دی دا دی.

په اوله کی ستاسو سره د برتانیی د سولی شرطونه سپک ؤ خو کله چه تاسو مخالفت او جګړه اوږده کړه او د افغانستان مرستی مو د انګریز په مقابل کی استعمال کړی او په دغو مرستو تاسی ډیر غره سواست او د افغانستان د نماینده حاجی صاحب په لار ښودنه مو انګریزانو ته ډیر تاوانونه ورسول نو ځکه برتانیه هم د صلح شرطونه ډیر

سخت کېل جرمانه اودتوپکو ورکول یې یوپه دوه کېږه دکانگرم څخه بیاتر (لدی) پورې دانگریز د فوجو نو سوقیات شروع شول کله چه دسولې شرطونه ولوستل شول دمسعود دمنزی قوم حیات خان نومی چه پخوا یې دانگریزانو په عسکرو کې د صوبه داری منصب درلود هوښیار او ابن الوقت سړی ؤ داسې وویل :

## جناب حاجی صاحب

دوزیرستان دسرحد قومونه عموماً اود مسعودو قوم خصوصاً هغه وخت چه دافغانستان دولت اود هغوی پاچا دخپل هیواد دآزادۍ په غرض د جهاد اعلان وکړ د دغو سرحدو قومونو په کښه سره دخپل ورور کام او هیواد افغانستان پراوړه ودریدل د وزیرستان څخه د بنانډی تر بنواو تاک پورې ئې پرانگریزی قشلو حملې وکړې څنې ئې ونیولې اوځنو ته ئې درانه تاوانونه ورسول انگریزان ځکه مجبور شول چه دافغانستان خپلواکی ور سره ومنی زمونږ هیله ده چه افغانستان به زمونږ دملی ژوند سرنوشت هم وټاکی د دې میاشتې پخوا چه انگریزانو عسکری سوقیات شروع او خپل ابتدایی دصلح شرطونه ئې وړاندې کړل هغه شرطونه ډیر سپک ؤ که چیری هغه وخت مونږ ددوی شرطونه منلی وای انگریزانو به له خپلو پخوا نیو ځایو څخه زمونږ خواته یو گام هم نه وای راوړاندی کړی دومره درانده تاوانونه به نه وای را رسیدلی مونږ چه دانگریزانو شرطونه ونه منل د افغانستان په لوری مو د قوی مرستی هیله وه.

موږ هیله درلوده چه تاسي به زموږ د سرنوشت او ملي آزادۍ
په خصوصی کې د انګریزانو سره وږغیږی او انګریز به
پرېږدی چه پر موږ داسې نامردانه او جارحانه عملیات
وکړی خو سره له دې هم موږ تاسو په مشرۍ د وزیرو په ملګرتیا چه
له تاسو سره د مرستې د پاره راغلی وو په ګډه سره دغه تاریخي
جګړه وکړه.—

نو اوس چه انګریزانو له خپل ستر قوت سره
زموږ غرنۍ او تنګ وطن ته را ننوتي دي موږ مجبور یو چه
د انګریزانو شرطونه ومنو او تاسو به ډیر عزت او آبرو خپل
وطن ته ورسوو :- حیات خان دغه وینا په داسې سیاسي
لهجه وکړه چه د جرګې د خلکو افکار ئې مختل کړه او
خلک ئې خپلې وینا او د انګریز سره د سولې خواته ترغیب
کړل :- هغه وخت چه د ده وینا خلاصه شوه نو د حاجي صاحب
حالت ډیر تغیر وخوړ او پوه شو چه قوم به دغه غرضي
وینا وو غولید په دې وخت کې د حاجي صاحب ملي احساسات
او د قومولي جزبات په جوش راغله او په هره قرباني حاضر شو
چه پښتونستانیان د انګریزانو د صلح شرطونه ونه مني نو
ځکه ودرېدی او په لوړ اواز ئې داسې وویل :-

د مسعودو کامه تاسو ته وایم ! ملکانو او مشرانو ته وایم
د حیات خان وینا مو واوریدله که د انګریز استعمار ته
هر شی ورکړه شي هغه نه قانع کیږی دغه استعمار د ملي ژوند
آزادۍ ننګ او ناموس ستاسو لوی دښمن دی او پښتنو د لویو

جهانګیرانو په مقابل کې هر کله خپل ننګ ناموس او وطن ساتلی دی؛ بیا نو ویل چه د او وطن یوازې ستاسې نه دی دا د ټولو پښتنو وطن دی د همدغه کبله دی چه پښتانه او دافغانستان ټول خلک ستاسو سره په هر وخت کې د دینې نژادې لسانې او تاریخې اړیکو په اساس د خپلوی او دوستي ټینګې رېښې لري د کام سرنوشت ټاکل په یو د و ملکانو اړه نه شي پیدا کولی او د ټولو پښتنو کار دی زه دافغانستان او پښتونستان د ټولو ولسو په نماینده ګی دانګریز هیڅ ډول استعماري د صلح شرطونو ته غاړه نشم ایښو دلای ځوزما ننګیالی قوم او زه ژوندی یم ستاسو د ازادی او ملی خود ارادیت د پاره به هر ډول قربانی او سرښندنی وجنګیږم د حاجي صاحب په دغه وینا د کام ملی احساسات او د وطن دوستي غریزې راو پاریدلی د ځو محمد ودو ګماشتګانو برته د مسعود ننګیالی کام ټول دانګریز د استعمار په مقابل کې د مجاهدی د پاره چمتو شو

د بلول زوطایفه چه د عبدلی موسی خان او د ملا فضل دین کام ؤ همدغه راز عبدالرحمن خیل عباد خیل حلب خیل او د هری طایفی ننګیالی میړه نو ځر ګنده کړه چه مسعود دانګریز استعماری صلح نه منو او دانګریز ګماشتګانو ته لی سپکاوی و رسوی چه دی وضعیت جرګه ډیر نازک او خطرناک حال ته و رسوله او د تصادم احتمال پیدا شو .

په دغه وخت کی د حاجی صاحب یو ستر دوست قطب الدین د خپلو ملګرو سره حاجی صاحب د جرګی څخه د باندی ویوست او یو ګوښه ځای ته ئی بوت چه د دښمنانو د ضرر نه په امان وی د منیز وسوله غوښتونکی یوی خواته او مقابله کوونکی بلی خواته و لاړل چه د انګریزانو اکتشافی الوتکی ښکاره شوی مقابله کوونکو پر الوتکو باندی ډزونه وکړه او الوتکو دا ځای شدید بمباری کړی چه د سوله غوښتونکو او مقابله کوونکو څخه زیات کسان ټپی او ووژل شول حاجی صاحب په کاڼکرم کی د جرګی آخری فیصلی ته انتظار یوست انګریزانو په دسیسو او خدعو او رشوتونو ورکولو غوښته چه په جرګه کی اختلاف واچوی او نتیجه ئی په خپله ګټه تمامه کړی او هم یې اعلان وکړ که څوک حاجی صاحب ووژنی او یا د مسعودو څخه ئی په سپکاوی وباسی پنځه لکه کلداری به انعام ورکړه شی حیات خان چه د کام د روحیاتو او ملی تمنیاتو مخالفه وینا کړی وه هغه د انګریز یاتی روبی خوړلی وی او د داسی وینا کولو په مقابل کی ده انګریز ډیر په طمع کړی و.

حاجی صاحب ته دغه ټول اطلاعوی راورسیدلی خو د ده عزم او اراده ئی ګرد سره وانه ړوله څکه ئی په دغه ځای کی د لس ورځو اقامت وروسته په مسعودو کی د انګریز جنرال ته یو داسی مکتوب ولیږی: —

تاسی د ماوراء بحار څخه د یغرنی سیمی ته داخل

شوی یاست البته تاسې به په خپلو لښکر کښو کې ډېرو غښتلو کامونو سره مخامخ شوی یاست، خو د دې سیمې داوسېدونکو په روحیاتو او ملي کرکټر نه پوهېږی دا کام آزادي خوښونکي او د ملي خود ارادیت ساتونکي دي او ددې په مقابل کې تر هرڅه تېرېږي تاسې نه شئ کولای چه ستاسو د څو کسو کماشتګانو په رای سره د پښتونستاني ملت په سرنوشت کې ناوړه مداخله وکړی، که د برطانیه دولت غواړي چه په دې سیمه کې ناحقه وینې توی نه سي او عمومي امنیت قائم سي زما سره دې په تماس کې شي ځکه زه د دې سیمې د کامونو حقیقي او ریښتني نماینده یم او هرڅه مې د وسه پوره ده، انګریزان د دغه مکتوب په ویلو سره متاثر شول د هند وایسرا ته ئې ولیږی او وایسرای په سلسله سره دغه مکتوب اعلیحضرت امان الله خان ته ولیږی او په سرحد کې ئې د هغه په سیاست احتجاج وکړ.

د کابل خارجه وزارت د دغه مکتوب ځواب په ډېر عاقلانه ډول داسې ورکړ: - دا سړی د کابل څخه تښتېدلی دی ځکه ئې حکومت یو زوی په جېل کې ساتلی دی.

انګریزانو د حاجي صاحب ذکر شوي مکتوب ته هیڅ ځواب ورنه کړ.

په پای کې حاجي صاحب د مشورې وروسته فیصله

وکړه چه د مسعودو څخه ووزم او د مسعود و په سرحد
اشکي کي مرکزو نیسم چه دواړو کا مونو ته مي لاس
ورسیږي .

نو حاجي صاحب خپل زوي عبدالرحیم خان ته امر وکړ
چه ملي مجاهدین دي ما زیګر خپله ډوډي وخوري او
ما ښام دي وخوځیږي ، هما غه ؤ چه شاد والله خان او
نورو ورسره ملګرو ته امر وشو چه ماښام حرکت
وکړي په دغه وخت کي دحاجي صاحب سره دوه سوه تنه
وزیر او نور کابلي سپاهیان وه ، په شپه کي لار ځني خطا شوه
خو سهار دا شکي خوا ته سم شول .

انګریزانو چه د مخه اطلاع در لوده چه د حاجي
صاحب بل منزل اشکي ده نو پخوا ئي دخپلو وطني جاسوسانو
په واسطه دا شکي خلکو ته خبر ورکړي ؤ چه که چیري
مو حاجي صاحب ته ځای ورکړ نو فوري به مو کورونه
بمبارد شي .

حاجي صاحب چه اشکي ته راغي د مخه تر هغه چه
(سپیر کي) کلا ته ورسیږي ملك الیاس خان د کلي دخلکو
په مشري د کلا څخه د باندي راووت او حاجي صاحب ته ئي
وویل انګریزانو مونږ ته داسي خبر راکړي دي حاجي صاحب
حیران شو او بیائي وویل مونږ دیوه ګړي دپاره د کلي
څخه دباندي پاته کیږو او خلکو لکه چه عادت ئي دي
دحاجي صاحب د ناستو ن د پاره کټو نه را او ویستل
حاجي صاحب خپل زوي عبدالرحیم ته امر وکړ چه له دي

ځا یه یو سړی ملا حمزالله ته ولیږه چه سبا دلته راشی
او همدا اوس ملك شیرغنی خانی خیل راوغواړی په دی
وخت کی د حاجی صاحب زوی عبدالرحیم خان ملك الیاس خان
په پټه و لید اوور ته وی ویل چه نن شپه دلته یو سبا د اشکی
خلك جرګه کوی هره فیصله چه جرګی وکړه هماغسی به وی
ته ولی خپل ځان بدناموی ملك الیاس ډاډه شو حاجی
صاحب هغه شپه د قلمدینخان په ځای کښی چه یو غیر تمن
او همتناك سړی وو، میلمه ؤ او نور ملګری یی په کلی
کښی خپاره شول.

په داسبا ورځ ملا حمزالله صاحب راغلی او د اشکی
ګرد خلك جرګه شول حاجی صاحب د جرګی خلکو ته
وویل.

زه غواړم چه په اشکی کی واوسیږم ځینی خلك زما
په اوسیدو راضی دی او ځینی یی نه غواړی په پای کښی
ملا حمزالله صاحب خلکو ته په ستوغه لهجه او زیاته تندی
وویل:

حاجی صاحب ستاسو د مرستی د پاره له خپل کور
کهول او وطن څخه دلته راغلی دی او ډیر زحمتونه یی
ګاللی دی او غواړی چه زموږ او ستاسو د عزت ګلوی
او ملیت په اساس د دښمن مخ و نیسی مګر هغه ته اوس تاسو ځای
نه ورکوی - حاجی صاحب غواړی چه د قوم په مینځ کښی
مسعود و ته ور نژدی وی که نه زما کور او ځای ور ته

قربان دی ـ وروسته له هغه ملک شیرغني چه دوه ورونه یې د مسعود په جنګ کښې شهیدان شوي وو، او یوه سړی وو وویل حاجي صاحب به زما په ځای کښې وي انګریز دی د یوې الوتکې په ځای سل الوتکې راولیږي بیا داسې فیصله وشوه رئیس المجاهدین حاجي صاحب دی په اشکی کښې د شیرغني په ځای کښېوي د توپخانې عمله او نور وزیر نوکران له شاه دولله خان سره بیرته د وانا چوڼۍ ته چه پراخ ځای دی ولاړسي. د حاجي صاحب سامان او کالي د شیرغني ځای ته یووړل شول شیرغني هغه سمڅې چه د الوتکو د یرغل د امان د پاره جوړه کړې وه هغه ځولی د حاجي صاحب عملې ته ورپرېښودلې د خپل کور او کهول د پاره یې فوري نور ځای یو نه جوړ کړل.

د مخه تر هغه چه د راتلونکی او د سنه ۱۲۹۹ هجري شمسي کال پېښې ولیکم د پاوینر انګلیسي جریدې هغه خبرونه ترجمه او را نقلوم چه د حاجي صاحب د راتګ په وخت کې نشر شوي او زما لاس ته راغلي دي او بیا د هغه راپور لنډیز چه وزیر او مسعود کې د انګریزانو د قوماندانې له مرکز څخه هره ورځ مرکز ته لیږل کېده او ره راپور نقل لاس ته راغلي دي ګرانو لوستونکو ته د دې د پاره ترجمه کوم چه په وزیرستان کې د انګریزانو د عسکري سوقیاتو په علت پوه او د مسعود د جګړې له اهمیت څخه خبر شي،

د پاوینر د جریدې څخه ترجمه

د شپې له خوا د دښمن څخه په تنګ شوو نندا سي خبر راورسید
چه والي عبدالرازق چه د کابل په دربار کې ( د انګریزانو
لوی دښمن او مشهور ملا دی) وانا ته رارسیدلی دی

او شاه دوله خان د برګي نائب ته یې امر کړی دی چه
هغه دوه (۷) پونده ګلیو توپونه د وانا وزیرو ته ورکړی
نوموړی حاجي دوه زره تنه لښکر راټول کړی دی
او سمدستي یې کاني ګرم خواته حرکت وکړ دده له امر
سره سم شاه دوله له خپلو دواړو توپونو او اتیا باره
چینه خانې او نورو اسبابو سره د دلوی په (۷) نیټه کاني
ګرم ته رارسیدلی دی ·

# په وزیرستان کې جنګي عملیات

## ۱۹۱۹ - ۱۹۲۰

د دیسنې د اګست د (۲۰) نیټې د هندوستان د وسله
والو قواو د قوماندان سرچارلس مونرو هغه راپور چه
په وزیرستان کښې ئې د تنبیهي عملیاتو په باره کښې خپور
کړی دی او ددغه راپور محتویات په ۱۹۱۹-۱۹۲۰ کښې
د انګریزانو د قوماندانۍ له خوا اجراء شوي دی ·

هماغسې چه کیدل پیش بیني ئې وکړه - د وزیرستان
قبائلو د افغانستان د خلکو سره د ۱۹۱۹ کال د مې
د میاشتې په ملي جهاد او د آزادۍ ساتلو په معرکو کې
نه هیریدونکې مرسته کړی دی ·

وزیرو دا گمان کاوه چه زموږ جنگي ضعف به هغوی ته په آسانۍ سره د فتحې امکانات برابر کړي او په پای کښې به موږ مجبور شو چه وزیرستان ور خوشې کړو. د ۱۹۱۹ کال د مۍ په میاشت کښې د قبائلو مقاومت قوت وموند د هغو بریو له کبله چه د دوی په برخه شوي وو په زیاته اندازه توپک او کارتوس په لاس ورغلل او ځینې عسکري تانې یې د وانا او سروېکي په برخه کښې ونیولې او د قبائلو روحیه لا هم قوي شوه.

د ۱۹۱۹ کال د نومبر په راپور کښې مو د افغانستان پر ضد جنگي عملیات ځرگند کړي وه.

د ۱۹۱۹ کال د اگست په ۱۸ نیټه افغانستان سره د سولې خبرې خلاصې شوې خو د وزیرستان په اوضاعو یې هیڅ کومه اغیزه ونه کړه. په هغه وخت کښې په هر ځای کښې دا آوازه خپره شوه چه د برتانیې حکومت د افغانستان د پاچا سره داسې معاهده کړې ده چه د افغانستان د سولې د معاهدې له لاس لیک کیدو نه شپږ میاشتې وروسته به وزیرستان افغانستان ته ور پریښودل شي.

د اگست په ۱۸ نیټه هغه سیمې چه زموږ د فوځونو په لاس کښې وې (میرام شاه) ځیرې، جاندوهل او مرتضی څخه عبارت وې.

زموږ فوځونه په وزیرستان کښې د ژنرال ماژورس خ کلیمو تر قوماندانۍ لاندې وو او نوموړی جنرال د جنگي

ACKU

عملیاتو په موده کښې د فوځونو د لوی مرکز د فرامینو
مطیع وو

په جنګی عملیاتو کې د افغانستان پر ضد زموږ نقلیه
وسائل ډیر ضعیف وو نو په وزیرستان کښې موږ اندی
تګ ونشو کړای نو هر کله چه د افغانستان د پاچا په ضد
زموږ متخاصمانه عملیات خلاص شول نو د هغه ځای
لښکری قوماندان د وزیرستان د قبائلو د تنبیه کولو
د پاره د بهترینو وسائلو په فکر کښې شو ځکه د دوی په
ضد یې پرله پسې ځوواره جنګی عملیات کړی وو خو د
وزیرستان د آب وهوا وضعیت او د توچی درود په سیمه
کښې د ډیره چاتو په قیقو برخو کښې د سختی ګرمی له کبله
په اوړی کښې جنګی عملیات غیر ممکن وو د دی علاوه
ضروری تدارکاتو هم وخت غوښت همدغه راز د هندی
فوځونو افراد ډیره موده له خپلو کورونو ځخه لری وو
او ضروری رخصتی ته اړ وو .

نو ځکه د مجازاتو د پاره د فوځونو لیږل د ژمی شپو
ورځو ته پاتی شو او فیصله په دی شوه چه د نومبر د میاشتی
په لومړیو ورځو کښې دی د توچی د وزیرو او مسعو د و
قبائلی جرګه جوړه شی او هلته دی زموږ شرائط ورته
ولوستل شی د توچی د وزیرو په باره کی داغوره وګڼل شو
چه فوځونه دی د ترد ته خپلو پوری پرمخ لاړ شی او د
پیشنهاد شوو شرائطو ځواب ته دی منتظر وی که چیری سم

ځواب را نکړی شو نو د فشار او بمبار یو او د هغوی
د مجازاتو د پاره د فوځونو د لیږلو له لاری دی زموږ
شرائط ورباندی و منل شی.
د مسعودو په باره کښی دی ټاکلی مهلت ورکړی شی
او د مهلت تر پوره کیدو پوری یی که زموږ شرایط و نه منل
د دغو خلکو ټوله سیمه کوراو کلی به یی په الوتکو بمباری شی
که چیری سره له دی یی هم غاړه کښینښووه نو په هغه صورت
کښی دی د دوی د مجازاتو د پاره پوره او مکمل مسلح
فوځونه ورولیږل شی او له دوی څخه به و غوښتل شی چه
دغه لاندنی شرائط دی حتماً ومنی!
الف :- د برتانیی دولت ته دی داحق ورکړی شی په
هره هغه سیمه او ځای کښی چه دوی یی وغواړی او میل ولری
لاری او عسکری تانی جوړی کړی.
ب :- هغه ټول توپك، لاسی بمونه او نور هر راز جنګی
مواد چه د ١٩١٩ کال د می د میاشتی راپه دیخوا قبائلو
ته په لاس ورغلی دی هغه دی ټول فوری بیرته راوسپاری.
ت:- قبائلیان دی داتعهد وکړی چه د دوی په خپله
خاوره کښی دی هیڅکله د فوځونو او نقلیه وسائلو د پرمخ تګ
مخه نه نیسی او نه دی په خپلو فیصلو کښی د الوتکو
د آلوتنی په وخت کښی د الوتکی او پیلوت سره غرض کوی
ث :- ټولی هغه تنخواګانی چه لا تراوسه قبائلیانو ته
نه دی ورکړی شوی د برطانیی د حکومت له خوا تر هغه

پوری نه‌ور کول کیږی ترڅو چه د قبائلو له پښی د وېی څخه حکومت رضا نه‌شی.

ج :- قبائل باید د ضمانت په نامه د شرائطو د منلو دپاره تر ۱۲ میاشتو موده ته توپک راوسپاری خو د غه توپک فقط هغه وخت بیرته ور کول کیږی چه ښه او مسالمت آمیز سلوك وکړی د توچی وزیر باید (۵۰) زره او مسعود (۱۰) زره روپۍ د جریمی په نامه تحویلی کړی او که چیری قبائل ز موږ د غه شرایط و نه منی نو لومړی به وزیر او وروسته به مسعود تنبیه شی.

میجر جنرال کلیمو چه د لښکرو قوماندان ؤ د حملی د موا صلاتی خطوط د تأمین دپاره ئی د غه قوی په لاس کښی وی.

د شاهی هوائی قوا (۵۲) قولی هندی نظامی سپاره غلور کندك د توپخانی یو بلوك تو پونه چار نیم اینچه کاو تیسی ډول یوازی د فوجونو دپاره توچی ته ولیږل شو ودیره‌جاتو د فو ځونو د پاره ۶۵ برتانوی غرنی توپخانه یوه باتری هندی کوهستانی توپونه دری باتری د استحکام دری قولی او پیاده دری غونډه هر غونډ غلور کندکه) او غلور کندك احتیاط نو د نومبر تر ۱۳ نیټی پوری ۲۹۰۵۹ تنه جنگی افراد او ۳۹۸۷ تنه د فوجیانو د داخلی دائرو کارکوونکی دا قول شول.

د هغو فو ځونو نوموړ نه چه وزیرستان ته ولیږل شوی و

همدغه راز د هغو ویشل د لومړي راپور په ضمیمه کښې
لیکل شوي دي.

لکه چه وویل شو د افغانستان سره د انګریز سوله دوزیرو په وضعیت کوم زیات تأثیرونه کړ لومړی د سنه ۱۹۱۹ کال د اګست له ۹ ځخه بیا د نومبر تر لومړیو ورځو پورې د غو قبائلو ډېر ستر ستر فعالیتونه وکړل ټولګیو په مختلف ډول له ۷۰ ځخه تر ۵۰۰ تنو پورې موږ باندې پرله پسې یرغلونه کول او زموږ په عسکري نقاطو او فوځو پر بېلو بېلو برخو به یې حملې کولې چه دلته موږ د قبائلو د جرأت او پیشقدمیو ځو مثالونه راوړو.

د اسماعیل د دیری د شمال لویدیز په ٤٤ میلې کښې د تانک پر کلې مسعودو دریوارې حمله وکړه په لومړي ځل یې (۱۵۰۰) له ځانه سره یووړل په دوهم او دریم ځل یې پرا پوزې حمله راوړه او بیرته یې ماته وکړه د اګست په وروستیو ورځو کښې د بنو د جنوب شرق په پنځوس میلې کښې یوې ټولګی په عیسی خیلو کښې د نوی باغ د کلا داور ګاډی په پټلیو یې یرغل وړو وړاو بیرته راګر ځیدو په وخت کښې د بنو د ختیځ په ۳۵ میلې کښې د ګانبیل سرای ته نژدې د کانی ګرم د فوځي قرار ګاه په استحکام حمله وکړه او پنځه لس تنه کارګران یې مړه او شوارلس تنه یې ټپیان کړل همدا شان یې (۵۱) تنه مړه (۵۰) ټپیان او دوه تنه یې بندیان شول بیا بیرته وګرځیدل.

او بل پلا ئې د بنو د لویدیځ په څوارلس میلې کې په

سائچی کی زموږ پر ټولګیو ۲۵۰ تنو وزیرو حمله وکړه د ۳۵ تنو مړي او ټپیانو له تلفاتو ورکولو څخه یې ماته وکړه.

زموږ اقدامات د عسکری او هوائی قواؤ په دا سطه وچه دښمن ته یې لوی تاوانونه ور واړول.

د سنه ۱۹۱۹ کال د اګست له ۹ نیټې څخه د نومبر تر دو همې پورې په وزیرستان کې زموږ له قواؤ څخه ۱۳۹ مړه او ۱۶۰ تنه ټپیان شول.

د نومبر له دریمې نیټې څخه جنګی عملیات په دوو برخوو ویشل شول.

لومړی د توچی د وزیرو په سیمو کښې د اته خیلو خواته عملیات او وډانه ی تګ او هم د دیره جاتو په سیمه کی د مسعود و په ضد عملیات وو.

## د اته خیلو خواته پر مختګ

د ۱۹۱۹ کال د نومبر په ۹ نیټه په مرام شاه کې زموږ د شرائطو د مطالعې د پاره د توچی د وزیرو جرګه جوړه شوه له هغو څو تنو ملکی رئیسانو څخه پرته چه په کابل کښې وو نور ټول نمایندګان په جرګه کې حاضر وو.

اعلام شوی وو چه د اته خیلو خواته دی پر مختګ فوری شروع شی موږ حاضر یو چه د خپلو شرائطو ځواب د نومبر په (۷) نیټه هماغلته واورو:

د نومبر په (۱۷) ورځ د کوهستانیانو د تهدید و لو د پاره

زموږ الو تکو داسې پاڼې تیتې کړې که شرائطو ته منل
شي نو دهوا ځخه به فورې بمونه باندې وارد ول شي
همدغه شان وزیرو ته پیشنهاد شوی ؤ که چیرې دوی هم
زموږ شرائط ته مني نو باید خپل کور کهول ښځې او
کوچنیان بې خطره ځاې ته ولیږدوي .

دوه کنډکه نظامي افراد د میجر جنرال آسکین په
مشرۍ د حملې او فورې موثرې ضربې دپاره ټاکل شوي ؤ او
دا فوځې ټولگې د توچي د ټولگي په نامه یادیده باقي
فوځیان په وزیرستان کښې د لارو د ساتنې دپاره گمارل
شوي ؤ ،

ددغه اور گاډې د پټلیو انتهائي نقطې په شمال کښې
بنو او په جنوب کښې دریاخان ؤ ځوړ ی او آذوقه یې به
دریاخان کښې له سند ځخه اسماعیل خان ډیرې ته پورې
ایسته او له هغه ځایه یې په اور گاډي کښې تانک ته لیږل
دغه ځاې وو چه د اور گاډې قدر او قیمت پکښې ځر گند شو
په ورځ کې ددغه اور گاډې گنجایش دوه سوه ټنه ؤ چه
داوښ یو زر باره کیدلی .

د فوځونو دغې برخې نه یوازې د بنو او تانک ترمنځ
د لارو د ساتنې مسئولیت په غاړه ؤ بلکه ددغو دواړو
ځایو د ټولي ساحې د ساتنې مسئولیت یې هم درلود ددې
ځخه علاوه د قلعه باغ او ډیرې اسماعیل خان سیمې هم پکښې
وې چه باید درې سوه میله لارې وساتي د توچي قواوې

د نومبر په (۸) نیټه میرام شاه ته نږدې په دې ترتیب وې

۱ـ جنګي افراد ۸۴۴۴ تنه
۲ـ غیر جنګي افراد ۶۴۶۴ «
۳ـ آسان او نور نقلیه حیوانات ۱۳۸۲

نقلیه وسائط (۲۲۸۹) غاټري او (۵۰۸۹) اوښان وو.

د نومبر په (۱۳) نیټه دغه قواوې د اته خیلو په لور په دردیو برخو کښې پر مخ تګ وکړ، په لومړۍ ټولۍ کې چه د دغو قواو اساسي برخه وه، له یوې ټولۍ استحکام او مین انداز او یوه باټرۍ زره پوښ موټرونه وو او دې ټولۍ د پرمختګ په وخت کښې د لارو د جوړولو وظیفه په غاړه درلوده.

بله ټولۍ یې یوغونډ تعاوني نظامي پیاده وه چه د مواصلاتي لارو د ساتنې او اته خیلو ته د څوري د وړلو د مرستې د پاره ټاکل شوې وه.

زموږ د حرکت او پرمختګ په مقابل کې مقاومت ونشو او د نومبر په (۱۴) لومړۍ ټولۍ اته خیلو ته دوهمه دهقان او دریمه بوی ته ورسیدل د میرامشاه او اته خیلو ترمنځ په لاره کې په معینو ځایو کې دایمي مستحفظین وګمارل شول لس ورځنۍ آذوقه او جنګي ذخیرې له دارد ولي څخه اته خیلو ته راولېږل شوې چه کله چیرې د توچي وزیرو زموږ شرطونه قبول نکړل نو مجازاتي عملیات به شروع کوو د نومبر په ۱۸ نیټه جنرال میجر کلیمو اته خیلو ته راغی او په همغې ورځ یې د جرګې له نمایندګانو سره وکتل.



ACKU

د جرګې نمایندګانو د ایدا خیلو او دوو نورو کوچنیو قبیلو څخه پرته چه د کاتیول په دره کې اوسیږي زموږ شرایط ومنل مداخیل چه د اته خیلو په شمال غرب دا کزخ په دره کې اوسیږي د توچي دوزیرو له قبیلو څخه ګڼل کیږي.

دوي چه د نومبر تر ۱۸ نیټې پورې اطاعت و نسکړ په سپاورځ ۱۷ الو تکو په دوی باندې بمونه واوروول او مجبوراً یې زموږ شرایطو ته غاړه کیښوده.

په دومره موده کې چه د توچي دسته په اته خیلو کښې وه پوازې څوټکه په قرار ګاه کې وشول د نومبر په ۲٦ د دې ځای څخه د فوځو بیرته ایستل شروع شول او د نومبر په ۲۷ اردونی ته بیرته را غلل.

د پیشرفت او بیرته راګرځیدو په وخت زموږ یو تن وژل شوی دی او بس.

## د مسعودو پر ضد جنګي عملیات

د لته د مسعو دوسره د مذاکرو ځرنګوالې او د پښتونستاني قبایلو د مجازاتو د پاره د فوځونو د لیږلو په باب څیړنې کیږي..

د نومبر په ۳ د مسعودو جرګه جوړه شوه او زموږ پیشنهادونه هلته پکښې ولوستل شول جرګه د جاندهل د ختیځ په ۸ میلې په کنځیر ګې کې وشوه.

پدې جرګه کې هم لکه د توچي دوزیرو په شان د یرو نمایندګانو پرته له څو تنو ملکي رئیسانو چه کابل ته تللي وُ ګډون کړیوُ انګریزانو په داسې ورځ د مسعودو په فضا

کی هم هغه دازبانی و باشلی لکه چه پخوانی د توچی بر وزیر واچولی وی ·

د نومبر په ۱۱ ورځ په هغه وخت کی چه زموږ شرایطو ته ځواب داکول کیدی ځوتنه محدود ملکی کسان جرګی ته راغلیو ·

د جرګی خلك پوره نهو او داسی ښکاریده چه دوی هم زموږ شرایط نه منی ·

جنرال میجر کلیمو حاضرین رخصت کړل او اخطار یی ورکړ چه هوایی جنګی عملیات به فوری شروع شی او د دوی دمزاور کولو د پاره به دستی فوځ ولیږل شی ·

د نومبر په ۱۳ نیټه د مسعودو مهم ځایونه لکه کانیګرم کالیکی او دماروبی سیمی دالوتکو له خوا بمبارد شوی او دغو هوایی عملیاتو د نومبر تر ۲۱ نیټی پوری دوام درلود ددغی بمباری په نتیجه کی مسعود مجبور شول چه خپلی کلی او رمی په وډو وډو ټولګیو وویشی او داکار ددی باعث شو چه شپا نه ډیر شی او د لښکر د جوړیدو او د یرغلونو امکانات له مینځه لاړل په دیره چاتو کی هیڅ کومه پیښه ونه شوه په داسی حال کی چه په دغه وخت کی د احتمالی تصادم ګمان کیدی ځکه زموږ یرغل کوونکی او موټری قواوی د توچی په سیمو کی وی ·

ډیر ژر څرګند شوه چه هیڅکله نه شی کیدلای چه د مسعودو خلك د هوایی بمباری له لاری دی ته مجبور کړی شی چه زموږ شرایط و منی ·

نو دغې نقشې له مخې چه پښوا جوړه شوې وه د مسعودو تنبیه کولو او مجازات کولو د پاره اعزامي قوځونو ته د حرکت امر صادر شو هغه وخت چه له اته خیلو څخه د توپچي فوځ د باندې ووت حربي عملیات شروع شول او تصمیم و نیول شو چه د توپچي فوځ دې د یرغل کوونکي موثرې قوې په څیر استعمال شي.

د نومبر په ۲۷ د توپچي د دستې نوم د دیر جاتو د دستې په نوم بدل شو په همدغه ورځ دغې دستې د داردوني په ۱۴۰ میلې کې د دیرجاتو په لور مارش وکړ که څه هم کانیګرم فقط ۳۰ میله په مستقیم خط د اته خیلو جنوب ته پروت دی د مسعودو په سیمه باندې د نه حملې کولو یوه سلسله دلایل موجود وو څکه پدغه لار د حملې د پاره د زرمك د غرونو له سلسلو نه (چه د اته خیلو د جنوب شرق په ۱۵ میلې کې واقع دی) تیریدل لازم و په داسې حال کې چه دغه ګردنه یا غاښې د بحر څخه ۷۰۰۰ قدمه لوړه او له واورو پټه ده همدغه راز باید پدغه سیمه کې د اوښانو د تیریدو د پاره لارې جوړې شوې وای برسیره پر دې هلته کافي او به نه وې او د عسکرې قشلې د پاره یو مناسب ځای په معینو فواصلو کې چه د یو قول اردو د پاره چه هغه هم زموږ د حمله راوړونکي قوې له دښتې سره مناسبه وي نه ؤ په همغه حال کې له دې خوا د عملیاتو اجراآت دا ایجابوي چه په بنو کې دې د اورګاډي د پټلۍ له وروستۍ برخې څخه ۹۵ میله لار وصا تل شي په پای کې موږ هیله لرو چه د جاندول په سیمو باندې زموږ حملې موثرې وي.

دغه تمرکز به ددې باعث شي چه مسعود زموږ غوښتنې ومني نو به دې صورت کښې به نو دې ته محتاج نشو چه زموږ فوځونه دې ددوی په سیمو کښې لا هم دېرا ندې ولاړ شي همدا سبب و، چه زموږ فوځونه باید د بنو او پر ونځمل تخت شیدان له لارې حرکت وکړي د دسمبر په ۱۳ نیټه د تانک چاندهل په خط کښې د قواؤ تمرکز ختم شوا وپورته خواته د ټنګ زام د سیند د مجرا په اوږدو کښې د پر مختګ تیاری وشو ددې د پاره چه د دغو عملیاتو به تفصیل باندې پوه شو لازمه ده چه د مواصله خطوطو د ساتنې څرنګوالی په لنډه صورت بیان کړو .

دیوی سریع السیر حمله راوړونکی دستې او دیوا ردو د ذخیري او آذوقې د رسولو د پاره تراوسنیو شرائطو لاندې لازمه وه چه قول حیواني نقلیات د مواصله خطوطو په اوږدو کښې اجرا شي به داسې حال کښې چه د کوهستانیانو سره د نوی طرز ټوپکو نو د دغو خطوطو ساتلو د پاره زیات مشکلات را پیدا کړي و، نو موږ د ناچاري څخه د بدرګی له اصولو او نقلیاتو سره د افرادو له لیږلو څخه ځان ساته ځکه د آذوقې او ذخیري د حمل و نقل د ساتلو د پاره ځیر فوځیان لازم وو نو د لارې په دوا ړو خواو کې پر لوړو برخو د عسکري دائمي تانو جوړول غوره وګڼل شول .

د هغه عسکري تانې د دفاعي استحکام له کبله ډیری قوي جوړې شوې او مجرب جنګی افراد پکښې و اچول

شول. اکثر تصادمات او جنگی عملیات د دغو ټانو د جوړولو
په وخت کښې پیدا شول کله به داسې مجبور شول، چه
د دیره جاتو ټولو قواوې به مو د دښمن په مقابل کښې په هغو
برخو کښې چه ټانې جوړیدلی راوستلی همدغه راز بایډ
زموږ هغه کارګران چه د ټانو په جوړولو لګیادی د کار
ترختمیدو پورې وساتو او کله به مجبوره و، چه څو څو ورځې
د احتمالی حملو د دفاع د پاره بیل بیل ځایو نه وټاکو
او فوجیان مجبوره و ، چه هره شپه بیرته عسکری قشلی
ته راشی او ځینې وختونه زموږ نقلیات (۴۰۰۰) حیوانانو
ته رسیدل او ناچاره وو، هغه لار چه د وساطی بر تیریدلی هغه
عریضه اولویه کړو او دا تسطیح او دلاری پراخول د دې
د پاره کیدی چه زموږ نقلیات وکړای شی په پراخه جبهه
حرکت وکړی ځکه که داسې و نه شی او زموږ نقلیات
په اوږده یو کتاره لاره ولاړ سی دورځنی مزل د ختمیدو
امکان یې نه و، نو ځکه د دسمبر په ۱۱ نیټه دوه غنډه
عسکر او د کوهستانی توپخانی لومړی بلوک د مرچو ځای
ته دوړاندې تګ په غرض د زمینې د برابرولو د پاره ولیږل
شول هغه ثخت چه لښکر روان و، زموږ په پس قراول باندې
سلو تنو کوهستانیانو سخته حمله وکړه د دسمبر په ۱۲
او ۱۳ د تعمیر کار جاری و، په دغو دوو ورځو کښې د دښمن
د ډزو په واسطه زموږ (۴۶) تنه ووژل د قبائلو نمایندګانو
وغوښتل چه له جنرال میجر اسکین سره وګوری د دسمبر
په ۱۷ په جندول کښې دغه کتنه وشوه .

په همدغه ورځ چه قومي نمايندګان لا په اردو کښې وو زموږ تانۍ د دښمن له خوا محاصره شوې او د درې نيمې بجې دی چه حمله يې وکړه ـ دا حمله موټر شا ووهله خو په يوه برخه کښې يو ټولګی کوهستانيانو له دې سره چه د ماشيندارو او توپو سختې ډزې پر له پسې ور باندې کيدلې زموږ يوه مړ چه ټپي ماته کړه او ٣٤ تنه مو تلف شول دښمن په خپلو ٨ تنو مړو او ١٢ تنو ټپيانو اعتراف وکړ .

د دسمبر په ١٨ نيټه له جندول څخه زموږ پر مختګ شروع شو په دغو ورځو کښې د جندول د شمال لوېديځ په دوه ميلۍ کښې سرکي ټپي د مسعودو په لاس کښې وې چه ټول نفري يې (٢٠٠٠) تنه وو، په همدغه وخت کښې موږ ته خبر راغی چه د شخور په شاوخوا کښې (١٥٠) تنه والۍ وال وزير شته د شخور يو سيند دی چه د جندول د لوېديځ په يو نيم ميلۍ کښې په تنګ زام کښې توئيږی) ٦٨ غونډ چه يو نيم کنډک يې کم شوی و، له دوو بلو کوتو پخانې سره چه د جنرال ګورډون په مشرۍ ور ته امر وشو چه د سيند له مجرا سره موازي تر توتك پورې چه د چونۍ د لوېديځ په دوه ميلۍ کښې واقع دی لار جوړه کړي دغه غونډ له مشکلاتو پر ته خپله وظيفه سر ته ورسوله او په هغه شپه بېر ته جندول ته راوګرځيد .

د يرغلور وړونکي سريع السير ټولی داسې جوړه شوې وه .

لومړی سکادرون ٢١ کنډک نظامی سپاره

کوهستانی ، برتانوی نمبر۶ او هندی نمبر۲۷ باتری ۲۵ بلوکه صحرائی د استحکام فوج د نمبر۶۷ غونډ پیاده نظام ـ دوم کنډک ۱۹ پنجابی فوج د ۶۸ غونډ دریم کنډک ۳۴ فوج استازی مرستیال فوج سره په هماغه ورځ د میجر جنرال آسکین په عمومی قوماندانۍ د سر کی له تپو څخه د دښمن د رتلو او د اسپین کهای گاش د سیمې د نیولو او د عسکری قشلې د ځای د نیولو د پاره ځنې خواته ولیږل شو او دغه ځای د جندول د چونی د شمال غربی په دری میلی کښې په پالورین کښې واقع دی .

د سر کی له تپو څخه کوهستانیان په شا و وهل شول د ماسپښین یو بجه او شل دقیقې وې چه اسپلی کهای گاش مو ونیوی د مسعود و ځیره برخه لښکر د تینګ زام د سیند په اوږدو کښې پورته خواته بیرته مخه وکړه او زموږ هوائی قواؤ هغوی تعقیبول ـ ۴ نیمې بجې وې چه زموږ نقلیات چه ۲۳۳۰ کچری او ۲۷۵۰ اوښان و صحیح او سلامت چونۍ ته راور سیدل په دغه جنګ کښې له موږ څخه ۷۸ تنه مړه شول .

اوس به مندان کچ د جنوبی اړخ دار اضی کیفیت به لنډول بیان کړو چه د راتلو نکو چریانا تو په څر نګوالی به پوه شو چه دغه د جګړی ځ ګر د جګړی د پاره څو مره مشکلات درلو دل .

د تنګ زام د رود لویدیځه څنډه د پانورین د سیمې په مقابل کښې په تیرو لوړو څو کوسره یوه کوچینی جلګه چه د سیند د مجری له سطحې څخه ۲۰۰ گامه لوړه ده تشکیلو ی

د دغی جلګی آخری شمالی برخه په تپو تبدیله شوی ده
چه د منډان کچ دغره په نامه یادیږی او د غه تپه پر منډان کچ
او په هغه سیند مسلطه ده چه د شمال له خوا را بهیږی
دغه جلګه تقریباً دری سوه ګامه سورووره او د لویدیځ
له خوا په یوسخت متمایل مسیل (خوړ) احاطه شوی ده
دغه مسیل د شکسته نومی غره د صعب المرور د پوښتو سره
نښتی او د منډان دغره جنوب غرب له ۱٦ یارډه څخه شروع
او له هغه ځایه (۲۰۰۰) یارډه او ږد د جنوب شرق خو اته
غځیدلی او د تنګ زام رود ته رسیدلی دی.

د مسیل په لویدیځه خوا کښی هغه تپه چه خپله اراضی یې
ده واقع شوی د دغی تپې په جنوبی انتها کښی دوې بوږې
راوتلی دی چه سپین غر او تور غر سپینه او توره سینه ورته
ویل کیږی او که د شمال له خوا د دغه غره داوږد دوالی
په لور وګورو ځلور برجسته نقطې لیدلی شو.

۱ـ د ډېرې هغه کمر چه شرقی او غربی خواته راوتلی دی
او د سره کمر په نامه یادیږی.

۲ـ د کسې غر یو ځا کم او لوړه ده چه د سره څخه (۷۰۰)
یارده لری پروت دی.

۳ـ د شانه کمرو څخه چه د کیسې دغره د شمال په
(۳۰۰) یارډه فاصله کښی واقع دی.

٤ـ شکسته غر چه د جنوب له خوا د منګال دغره ترشا
پروت دی دغه سلسله غرونه د شکسته دغره په شمالی خوا کښی

په ساغر چهره کښې پراته او د تنګزام سیند په څنډه کښې
راښکته شوی دی.

د قسار یارګ خار څوځې برخې چه له مندان کج
څخه ۳ـ ٤ میله فاصله لری پرشاو خوا حاکم دی.

# د مندان کج په شاوخوا

## کښې جنګی عملیات

د دسمبر تر ۱۹ نیټې د سرګی په تپه باندی بیله د دښمن
له مقاومت څخه دائمی عسکری تانه جوړه شوه په هغه ورځ
د ۶۲ غونډ څخه دوه کنډکه د مندان پر غره باندی
د دائمی پیرو او څار د پاره د تنګزام د سیند په اوږدو کښې
زموږ د پرمختګ د ساتنې په غرض له همدغه سیند څخه
پورې وتل ـ د جلګی په لویه یخ پوری متصل مسیل څخه
مو د شرپنل په ځزواوچو ولو دښمن تر ټی او زموږ لښکرو
ډیر ژر سور کمر و نیوی ـ د غرمې په یو ولسو بجوئې د جبلې
کمر شکسته غر او مندان دغره خواته مخه وکړه.

د تنګ زام د سیند د اوږدو په کښته برخه کښې
کوهستانیانو یو څه اندازه پرمختګ وکړ خو هیڅ داسې
دلیل موجود نه وُ چه د جبلی کمر و ته نژدې دی د پښتونستانیانو
زیاتی لښکری موجودی وی ـ لومړنی نقشه دا وه چه
په د غوغر و باندی دی سخته حمله وشی ولی ژر
معلومه شوه چه د محلی موانعو له کبله به دا کار ونشی
که څه هم د ښې خوا کنډک د کیسی د غره مهمی لمنی

و نیولی خوزمو ږد د پرودرندو تلفاتو او د کوهستا نیانو دسختو حملو په نتیجه کښې کمښت او نه شوکړای چه خپل هغه نیولی ځای وساتی نو بیرته یې دښمن ته ورپریښود په نتیجه کښې دښمن د کمښت د کیفی خوا په را چاپیرولو شروع وکړه نو په دی جناح کښې هم عقب نشینی ته مجبور شو په دغه حال کښې دښمن لا هم قوت وموند او خپلی حملی یې د جګړی دخط په هره برخه شروع کړی خو له ږیر مقاومته سره زمونږ لښکرو په ږیر برخو کښې ماته وکړه او دسیند ختیځی خوا ته په شا تللو مجبوره شول زمونږ دپیرته راګرځیدو دساتنی توپخانې د مهاجم دښمن دا یسارولو د پاره له هغو فونو څخه استفاده وکړه .

په دا بله ورځ نمبر ۶۷ غونډ قول د برغل د پاره تیار سو وړاندی له غرمی لس بجی وی سود کمراو د جلګی وروستی شمالی برخه موبیاونیوله او نیم ساعت وروسته مو د جبلی دکمر ختیځه برخه او دمندان غر هم ونیوی .

دشا هی هوا ئی قوا او د توپخانې مرستو ژبنته ږیره ګټه داورسوله نوری مو دمندان د غره د دفاعی مرچو په جوړولو لاس پوری کړ او د دائمی عسکرو قا ئه مو بنا کړه : نوړی ماسپښین څرګند ه شوه سره له دی چه د دفاع تدارکات کامل ؟ با ی ته نه و رسیدلی کار په دی اندازه مخکښې تللی وو چه کیدای شو سل تنه توپک والا ساتونکی دلوی برتانوی منصبدار تراداری لا ندی هلته پاتی شی .

ورپسی زمونږ لښکری د آلوتکو او توپخانې دساتنی لاندی

ترشا شوی څلور نیمې بجې وې چې بیا له سپند څخه راپورې وتو
په دغه ترشا تللو کښې کوم تاوان راپیښ نه شو.

٤ بجې او څلوېښت دقیقې وې د مندان دغره څخه خبر را کړه شو
چې دوی ته نژدې کوهستانیان را ټول شوي دي په همدغه وخت
کښې عیینې ټولګۍ ئې له تنګ زام څخه راپورې وتې او د مندان
دغره لمنې ته را ورسېدلې یوه شېبه وروسته ئې له شمال غرب
خوا څخه زموږ په پېره دارانو حمله وکړه څو تنو د برتانوي
منصبدار په مشرۍ غوښتل چې د دوی مخه ونیسي خو ډېره برخه
ئې - له خپل منصبدار سره ووژل شول پاتې کسان ئې له خپل
مرچل څخه راښکته د سپند له لارې خپلې چوڼۍ ته بېرته
راوتښتېدل په ١٩ او ٢٠ نېټه زموږ تلفات د برتانوي منصبدار په
ګډون ١١٣ تنه مړه او ٢٠٠ تنه ټپیان وو هغه وخت چې د عسکري
ټانو د جوړولو کار لا خلاص نه بلکه نیم کاره وو د دښمن د تورغر
څخه د سکارزای ترغاښې د لارې په منع کښې د خپلو قواو په
راټولولو شروع وکړه نژدې یوه نیمه بجه وه چې ډېر زور قوت
ومو نداو وروسته له هغه د ٨٠٠ څخه تر ١٠٠٠ تنو مسعودو
پر موږ سخته حمله راوړه مسعودو له درې خواو څخه حمله
کوله سره له دې چې د توپو ډزو په واسطه هغوی ته درانه
تلفات ور آوښتي و خو زموږ د مورچو د ښي خوا څخه را تېر شول
او زموږ په لښکروئي بیا برید وکړ او زموږ فوځ عقب
نشیني ته مجبور شو په دغه جګړه کښې له مسعودو څخه
(٢٥٠) تنه مړه او درې سوه تنه ټپیان شول زموږ څخه ٦٦)
تنه مړه او ٢٥٦ تنه ټپیان شول.)

د دسمبر په ۲۱ نیټه مخ ګنده شوه چه زموږ له فوځونو څخه
پنځه کښتۍ که د مسعود و په دغو جګړو کښې له سختو تاوانو
سره مخامخ شوي دي چه اقلا دري کښتۍ که بې استراحت
ته محتاج دي نو له دې کبله دا فیصله وشوه چه د دوی
په ځای دې نور فوځیان جګړه کښې داخل شي دوه کښتۍ که
پنجابي نمبر ۲و۱۹ او نمبر ۲،۱۱۲ مواصله خواته ولیږل شي
او د هغو په ځای دې لمبر ٤ ـ ۳۹ نمبر کوزوالي نښه
ویشتونکي ۱ و ۲ ـ ۷٦ پنجابي او نمبر ۲،۱۵۲ پنجابي
قول له نمبر ٤۳ غند څخه وټاکل شول .

مسعودو په معمولي ذوق جنګ کاوه او په ډېر ښه
شان یې له غرنۍ اراضي څخه استفاده کوله او د خپلو ټوپکو په
واسطه ئې خپلو لښکرو سره موثره مرسته کوله اغلباً دغه لاس
په ګریوان او د سرنیزو جګړه وه او په دغو جګړو کښې
غلبه زموږ و شاهي قوائي فوق العاده موثري
او ګټوري وې .

او پدغه ۱۲ ساعته جګړي کښې یې زموږ سره زیات
کومک وکړ زموږ دوی ټولګی الوتکی د دښمن له خوا
راخرابې شوي او زخمي شوي طیاره وانانو دومره
وکړای شول چه ځانونه خپلو لښکروته ورسوي .

«لازمه ده چه وویل شي چه کوهستانیان هیڅکله
لکه ۱۹۱۹ کال داسې نه ؤ جنګیدلي هغوی خپلي حملي
په ښه شان ترتیبولي د شلکو، هجوم او د سرنیز وجګړی یې

بې ساري وي» دوره‌ئې دری بجې وی چه دښمن له ښي خوا
څخه درو ټولګیو حملې وکړې (دښمن ډیر منحوړا نه
بریدو کړ) خو له سختې مبارزې څخه وروسته بېرته
وو هل شو.

د حرکت په حال کښې ؤ چه د دښمن ساتونکو قوا ؤ
بیا حمله وکړه مګر ز موږ کنډك به مېړانه د دښمن
د حملو په ضد تعرض او برید وکړ او وروسته د سر نیزې
د خونړۍ جګړې یبا هم دښمن په شا و وهل شو.

د کوهستانیانو تلفات سل تنه او ز موږ د ګور ؤ ښپه
و یشتو نکو څخه ۳۵ تنه مړه او ۴۳ تنه ټپیان شول.

# د عنائی تنګی په شا و خوا

## کښې جنګی عملیات ۱

د جنوری په (۷) نېټه لـه نـقشې سره سم ۴۳ غـند
د تنګزام د سیمند ختیځه خواله چونۍ څخه دری میله و ر
آخوا هواره کړه او په همغه وخت کښې د جلګې له لارې
۶۷ غونډ هجوم او پر مختګ کاوه چه د محکـې دغـه
هوار ولو ورسره پوره مرسته وکړه.

د سهار په ۱۱ بجو د نمای سنګ په لویدیځه انتها کې
برید ته چمتو وو په دغه وخت کښې د تنګزام په جنوب
کښې د کانو د غره په څوکو کښې چه پر یښ را او ښوئیدلې ؤ
مو ثر شلك وشو او د غند د پر مختګ مخه یې ونیوله.

د جنوری په ۹ نېټه ز موږ تلفات ۴۳ تنه مړه او

۱۲۶ تنه ټوپیان ؤ زموږ پیش قراولان سره له دې چه د سر پېن او طاق مرمر څخه شلکونه کېدل د سرنیزو له جګړې څخه وروسته پوپوزه طاق مرمر ته مخامخ د سیند په لویه پڅه ځنې ه کښې و نیوله په دغه وخت کښې جناحي ټولګي د جګړې په حال کښې د سرپېن دغره کیڼ اړخ و نیوی خو په وروستي حرکت کښې چه مخامخ مو تنګ کاوه د (۵۰۰) تنو کوهستانیانو له سختې حملې سره مخامخ شو و د پنجابي د ۷۶ نمبر کندك د مهمو قواوؤ څخه ۲ د ۵ نمبر کندك (۳) مرسته ګورکا نیزه ویشتونکي ولیږل شول دواړو کندکو ته امر وشو چه د سرپېن د غره ښې خوا و نیسي چه د طاق مرمر پر غره باندې حملې په وخت کښې مرسته او آسانتیا برابره کړي - پور لس نیمې بجې وې چه کندك د سرپېن غره ته ور سید د امداد په قوي له را رسیدلو سره زموږ قواؤ ته د دغه ځای د ساتنې امکان پیدا شو چه د کوهستانیانو د پرله پسې ډزو او نشان ګیرو شلکو او نامساعد و اراضي په نسبت د سرپېن دغره د ښې خوا په نیولو موفق نشو نو هدایت ورکړ شو په هغه جګړه ځای کښې چه نیولي دي سنګرونه جوړ کړي مازدیګر ؤ چه د چونې په لویه پڅه انتها کښې دښمن خپلې لښکرې را ټولې کړې وې سمدستي نمبر ۱۰۹ غونډ ته امر ورکړ شو چه فوري حرکت وکړي او دښمن دې له هغه ځای نه ور ټې سره له دې چه زیات تلفات پیښ شول خو غند خپله وظیفه

اجراء کړه او زموږ د دفاعي خطوطو په دې برخه کښې يې دښمن په شا وواهه.

په دغه وخت کښې د سرېښن غره د پاسه په کيڼ اړخ کښې زموږ د يو شمير فوځيانو وضعيت نور دې خراب ؤ کوهستانيانو په داسې حال کښې چې برله پسې شلکونه ګولۍ ځلول او ځلې يې برله پسې قطعي حملې داوده عسکرو په ډير زحمت سره دغه ځاى د نيولو په وخت کښې ټينګار کاوه. دوى ټولي ګورکه نښه و شتونکي د جنرال لوکاس د مرستي د پاره د نمبر ۲۰۹ غند څخه راوليږل شوي او په څه وخت را ورسيدلي.

دوى د دښمنانو د وروستي حملي په شا وهلو کښې ښه مرسته وکړه. په دغه هجوم کې دواړه خواوې په سر نيزو ډيرو چړو او لاسي بمونو سره وجنګيدلي زموږ لښکر و درسته شپه د نيول شوي ځاى په مرچو کښې تيره کړه.

## د جنوري د ۱۴ نيټې جګړه له ټولو جګړو څخه ډيره سخته جګړه وه

زموږ ضايعات :- برتانوي منصبداران ۹ تنه مړه ۶ تنه ټپيان هندي منصبداران ۱۰ تنه مړه او ۳۵۶ تنه مړه او سخت ټپيان شوي دي او له دښمن څخه ۴۰۰ تنه مړه او ټپي شوي دي د دا پور په پاى کښې داسې ليکي:

په سرحد کښې جنګي عمليات د مې د مياشتي په اوومه

نیمه پای ته ورسیدل او دقبایلو سره سخته خونړۍ ه غیر متصوره جګړه خلاصه شوه .

(دښمن به چیره میړانه چه ساری یې به سرحد کښې لیدل شوی نه دی وجنګید( دا نګریزی راپور عیناً ترجمه) ددی کتاب لیکونکی وائی : -

درا پور څخه ځر ګند یږی چه په نو موړ ی سرحد (مسعودو) کی د برتانیی جنګی عملیا تو له نومبر څخه دمی تر اوومی نیټی پوری دوام درلو د .

په دغه راپور کی نوری کو چنۍ جګړی له نورو واقعا توسره درج شوید ی لیکن مائی هغه مهمی برخی عیناً را نقل کړی دی چه دجګړی اصلی مطلبو نه اوستری جګړ ی پکښې ځر ګندی شوی دی یو ه خبره چه باید و ویل شی هغه داده چه:

هر څومره جګړ ی چه په همدغه وخت کښې په وزیرستان کی شوی دی انګریزانو خپل دسر تلفات پکښې ښود لی دی خود مجاهدینو په لاس چه کومی ولجی ورغلی دی د هغه څخه یې څه نه دی ویلی د نوموړی راپور څخه سړی پوره پوهیدلی شی په داسی حال کښې چه د مجاهد ینو په لاس په زرو توپکا ن او لوازم ورغلی دی کولای شی چه خپل دسر تلفا ت یې هم بیخی کم ښود لی وی آیا دسر تلفات به ئی څومره وی خو هغوی خپل تلفات دجنګی اوسیاسی تکتیک په اساس لږ ښود لی دی .

# د ۱۲۹۹ هجري شمسي كال پېښې

## د راتلونكو كارونو د پاره د حاجي صاحب فكر او نقشه

۱- د مسعودو قوم چه يو زړور او غښتلى قوم دى او د برتانيې عسكرو ته سره له دې چه درانه تلفات ور واوښتل بيا هم دوى د پنځو شپږو مياشتو په موده كښې د ټنگزام د سيند په اوږدو كښې تقريباً شلو يښت ميله تر كانى گرم پورې ورسيدل او د دغه خط په اوږدو كښې يې د عسكرى تاڼو په جوړولو چه شاوخوا يې ديوالونه او اغزي لرونكى سيم نيولى وُ ځان تقويه كړ او كانى گرم ته نژدې په (لده) كښې يې د خپل مركزى اردو د پاره اساسى قشلې او مورچې جوړې كړې چه له دې وروسته ميدانى جگړې په دغه سيمه كښې ناممكنه وې .

۲- محسيني هغه قومونه چه د انگريزانو د سولې له شرائطو څخه يې غاړه غړولې وه او هغه يې د كانى گرم په جرگه كښې لكه چه وويل شول رد كړل بايد داسې راز تقويه شي چه د جگړې او مخالفت په حال كښې باتې شي او د دوى د انگريز په ضد بايد همېشه جگړې ته تيار وي هغو كامونو چه شرطونه يې منلي نه وُ عبدالرحمن خېل : جلال خېل ، عباد خېل . عبدلي او محسيني د مسعودو نور قبائل وُ .

۳ - شایي چه په همدې اشکې کې چه د مسعود و سرحد دې مرکز ونیسو چه هرې خواته مولاس اوږدوي چه له همدغه ځای څخه کار وکړی شو.

٤- په اشکې کښې باید ځانته مرکز جوړ کړو چه ټول له عمله او فعله مو یو ځای وي ترڅو چه زموږ حیثیت ټینګ او زموږ کار مؤثر واقع شي.

نود حاجي صاحب له ارادې سره سم مو اصیل خان جاني خیل وزیر چه زړور او د جګړې له مشرانو څخه و او یوه نوې کلاګی د کلي څخه د باندې جوړه کړې وه چه شاوخوا یې بله کومه آبادي نه وه داوغوښت او ور څخه مو وغوښتل چه خپله کلا موږ ته را کړي چه موږ پکښې واوسیږو او کراپه به یې درکړو و اصیل خان ومنله او فوري یې خپله کلا خالي کړه • او موږ ته یې داوسپارله

حاجي صاحب د شیرغني ځای ته ورګډ شو او دده په کلا کې یې ځای و نیوی او امر یې وکړ چه زموږ قول ملکړی دې یو ځای شي په دغه وخت کې دوزیرو ملیشه ۱۵۰ تنه او باقي څو کسان د عملي نفر قول سره یو ځای شو و بیا یې دستي لومړی د مسعودو یوه جرګه راوغوښتل چه اکثر یې جګړه ما راوتو دن خلک و هغه وخت چه جرګه را ور سیده له رئیس المجاهدین حاجي صاحب له جرګې څخه وغوښتل چه د ملیشي په توګه (عسکری ملازمین) پنځه سوه تنه په دې

شرط دا کېږی چه دهری طایفې او قبیلې افراد ګډون یکې ولری ددغو افرادو معاش به په میاشت (۳۰) روپۍ وی او منصبدارانو به یې د هر قوم او قبیلې دویش په قرار مقررشی او مناسب معاش به ورکول کیږی .

جرګې دحاجی صاحب د دغه تجویز ښه هر کلی وکړ او په هغه کې یې دخان ګټه وبلله دغه نفریې په هرقوم تقسیم کړه او تریوی هفتې یې دهغه د تکمیلید لو وعده وکړه . دغوخلکو ټولو خپل توپك درلودل اود لزوم په وخت کې به کارتوس ورکول کیدل .

منصبداران هم اکثراً په هماغه تقسیم دقوم له مشرانو څخه وټاکل شول.

جرګه رخصت شوه او تریوی هفتې پوری نفری تکمیل شول دهغوی ددفتـر داری دپاره په ټولی کې له قومی افرادو څخه باسواده دکاتب اوکندك د کاتب په نامه تعین او مقرر شول .

همدغه راز دوانا او اشکی احمدزی وزیر هم جرګه شول پنځه سوه تنه دوانا وزیر او دوه سوه تنه د اشکی وزیروغوښتل شول اوداخبره یې ومنله .

وزیر ۸۵۰ تنه.

مسعود ۵۰۰ تنه.

او ټول ۱۳۵۰ تنه.

دغه کار تر شلو ورځو پوری بشپړ شو نفر په منظم

صورت داخلیدل او قومونه یې په دفترو کې قیدیدل .

رئیس المجاهدین حاجی صاحب امرو کړ هرهغه قوم چه په لومړۍ نیو جګړو کې یې د انګریزانو د چونیو د تالا کولو په وخت کې خیمې ولجه کړي وي هغه د را وړلو او بیه دي یې واخلي .

یو سلو څلو خیمی راوړلی شوی او څه خیمې له افغانستان څخه ورلیږل شوي وی چه ټولی دری سوه خیمی برابری شوی .

د حاجی صاحب سیاسی مقصد د قومی نو کرانو څخه دا وو .

۱ـ پدی وسیله به له ټولو قبایلو او د هر قوم ل مختلفو طایفو سره به لار لری .

۲ـ پدی نسبت چه د مسعود له قوم څخه ځینو طایفو د انګریزانو سره صلح کړی وه نو مصلح قوم او طایفې څخه دی هم ځینې نفر د مجاهدینو په جمعیت کې د نوکر په توګه شامل وی .

۳ـ د جګړی په وخت کې به د همدغو ملازمینو په نسامه نور خلك هم په جګړه کې شامل شی او ښه قـوت به ځنې جوړ شی .

٤ـ څرنګه چه ټول قومونه په یوه مرکز کې اوسیدلی نشی دغه د ملازمینو مختصره ټولګی چه تر نظام او اداری لاندی ده د مجاهدینو د ریاست په مرکز کې تل حاضر او کار ته تیار ده ده .

دا نفر چه پوره شول له هری طایفې څخه بلو کمشران او کند کمشران تعین او مقرر شول د کلی څخه د باندی څوڼی جوړه شوه حاجی صاحب خپل زوی (عبدالـرحیم) شاه دوله نایب جرنیل او پاینده شاخان کند کمشر ته امر وکړچه دعسکرو په شان د نفرو دسته بندی ترتیب او له موجوده نفر یو څخه څینې هغه مجاهدین چه د برتانیې بـه عسکرو کې یې نوکری کړی وی جلا کړی او هغوی دښوونکو په حیث مقرر کړی چه هره ورځ په دوی باندی عسکری تعلیم وکړی په هرقولی او کندك باندی بیرغونه ترتیب شول یوتن ترمچی چه په توپخانـه والاو کـې و په وظیفې وگمارل شو دغه بیرغونه دافغانستان دمحراب او منبرپه په نښان ښکلی شوی وه اویوازی یو ستوری یې په څنگك کې اضافه ؤ په هرقولی کی د عسکرو د قدمو د تنظیم او د جگړو دورځو دپاره بویو دولچی مقررشو دغه ترتیب په قبایلو کې پخوا لامعمول و .

یو بل بیرغ د مجاهدینو دریاست په کلا باندی وځړول شو وزیرو یو بلوك نفر د قومی جرگی په اساس د یوتن منصبدار په مشری په قومی ضمانت د رئیس المجاهدین دساتنی دپاره وگمارل .

د کلا دننه او د باندی دالوتکو له حملو څخه دساتنې په غرض سنګی جوړی شوی دغه قول کاروانه په یوه میاشت کی سرته ورسیدل او اشکی دوزیرستان یومهم سیاسی مرکز وگرځیدی .

دبرتانیی حکومت چه پوه شو چه حاجی صاحب قوی شو او مرکزیت یې جوړ کړی نو مسعود یې چرگه کړل او هغوی ته یې وویل چه له یوی خوا مود برتانیې له دولت سره صلح وکړه او له بلی خوا مو حاجی صاحب ته عسکری افراد ورکړل او د هغه مرکزیت مو دانگریزانو په مقابل کښې تقویه کړی، مسعود چه د بر تنگیالی او با تدبیر کام دی سیاستأ ئی انگریزانو ته داسی حواب ورکړی هغو خلکو چه دبرطانیې له دولت سره ئی صلح کړی ده او د هغوی شرائط یې عملاً اجراء کړی دی هغوی اوس هم له تاسو سره دی۔ دغه نفر چه حاجی صاحب ته ورکړی شوی دی دا له هغه خلکو څخه دی چه د صلح شرائط یې نه دی منلی او زموږ کام دومره قدرت نه لرو چه هغوی منع کړای شو.

دوی په دی بهانه ځانونه دانگریزانو د تهدید او فشار څخه خلاص کړل.

رئیس المجاهدین حاجی صاحب چه غوښتل په مسعودو کښې قوی لاس ولری او د عدلی طایفه چه دانگریزانو څخه مخالفه د ه لاځان ته رانژدی کړی نو دد وی یو مشر ته ئی چه موسی خان نومید نوی جرنیلی ورکړه دغه جرنیل پخوا هم دحاجی صاحب سره دانگریزانو پرضد د بر ملی جهاد ونه کړی وه.

په مقابل کښې یې د میمزو ځنی طائفی چه زیات نفوذ ئی دانگریزانو د صلح شرطونه منلی وه)

ځینی جګړن خلك د رئیس المجاهدین حضور ته ورغلل د قومی ویش په اساس په عسکری ملیشه کښی داخل شول

دمسعودو دنظامی ملیشی لوی منصب چه کنډ کمشری وه منزی شاه بهرام خان ته چه د منزی حیات خان دا کا زوی ورکړل شوه .

## دمجاهدینو دریاست تشکیل

الف :- دریاست غړی

۱- رئیس المجاهدین

۲- دوزیرو اومسعو دو له دوو قومونو څخه دوه تنه نظامی یاوران

جناب حاجی صاحب مشرفخان وزیری قو لیمشر

مسعود میراجان خان قو لیمشر دوه تنه

۳- د تشریفاتو رئیس د شاغاسی په حیث

دا تمانزووزیرود سیفلی قوم امین شاه خان ملکی برګه ۱ تن

٤- د مجاهدینو د متفرقه چارو ناظم او منتظم دښرنی مولوی عبدالغنی علی خیل ۱ تن

٥- خزانه دار اوعمومی جبه دار اختر محمدخان ۱ تن

٦- ښاغلی عبدالرحیم (دحاجی صاحب زوی)

چه د مجاهدینو دعمومی قوماندانی له وظیفی برسیره مخصوص منشی هم و، ۱ تن

ب :- نظامی هیئت

۱- د مجاهدینو جرنیل ښاغلی عبدالرحیم «د حاجی صاحب زوی» ۱ تن

۲- د جرنیل نایب شاه دوله خان ۱ تن

۳-دارکان رئیس سابی پاینده شاخان چه دتوپخانی قوماندانی هم ورپخاله ۀ وه — یوتن

٤-دوزیرو دغونې قوماندان سرکی‌خان وزیر چه په قومی تقسیماتو کښې دوهم غنډمشرمقررشوی و، یوتن

٥- دوزیرو دغونې معاون انګورخان کندکمشر چه دکار اودجګړې دنفریو اداره ورپخاله وه .

٦-دمسعودو دقو او دغونې قوماندان لومړی کندکمشر شابهرام خان منزی — یوتن

٧- دمسعو دو دغو نې معا ون مسعو د شمن خیل ګل‌محمدخان ټولیمشر — یوتن

٨-دوزیرو دغونې میجر — یوتن

٩-دمسعودو دغونې میجر — یوتن

١٠ - دوزیرو په غونډ کښې قومی‌ویش

| | | | |
|---|---|---|---|
| اول-دوزیر ودمحخیلو دقوم | ټولیمشران | ٦ | تنه |
| دوم -دتاجی‌خیلو دقوم | ټولیمشران | ٤ | تنه |
| دریم - دګګی خیلو | » | ٣ | تنه |
| څلورم -دخوجلخیلو اونور | » | ٢ | تنه |
| | | ١٥ | تنه |

**دمسعودو غونې :-**

| | | | |
|---|---|---|---|
| اول-دمنزو ( دمسعودو لویه طایفه) | » | ٤ | تنه |
| دوم- بلول زی دوهمه درجه | » | ٣ | تنه |
| دریم-شمن خیل | » | ٢ | » |
| | | ټول (٩) | تنه |

## بلو کمشران

۱- دقومي ویش په اساس دوزیرو بلوکمشر ۲۵ تنه
۲- » » » دمسعودو » ۱۶ تنه

ټول ۴۱ تنه

## ټول ټولیمشران او بلوکمشران :

الف دوزیرو

ټولیمشر ۱۵ تنه
بلوکمشر ۲۵ »

ب:- دمسعودو

ټولیمشر ۹ تنه
بلوکمشر ۱۶ تنه

ټول نظامي ملیشه افراد دقومي دودسره سم دقوم دویشلو په اساس نیول کیدل درئیس المجاهدین حاجي صاحب داطلاعاتو او جاسوسي شبکه دانګریزانو په حلقو کښې ډیره قوي وه له هغو خلکو څخه چه په ظاهره ئې دبرتانیې سره دوستي لرله هغوئې درئیس المجاهدین سره خصوصي روابط درلودله چه دشپې له خوا به دحاجي صاحب دزوی ) عبدالرحیم خان کوټې ته ورتلل او بیا به دحاجي صاحب حضور ته رسیدل او هغو خلکو به دمکتوبو په ذریعه دانګریز دمنابعو څخه ډیل اطلاعات رالیږل

دپورتني تشکیل څخه دحاجي صاحب مطلب داؤ

۱- په داخل اوخارج کښې دیوه مرکز معلوموول (یعني دبرتانیې په نزد)

۲ـ کله چه په مسعودو کښې اختلاف پيښ شي ځني ئې د جګړې پرخوا او ځني ئې د انګريزانو سره د سولې پرخواوي حاجي صاحب کولای شي په دغه وسيله په هره برخه کښې چه وغواړي اقدامات وکړي.

۳ـ رئيس المجاهدين حاجي صاحب چه وغواړي پر هغه ځای چه د مسعودو تر حمايهٔ اوضاع نت لاندې وي حمله وکړي ـ په پټه کښې د حاجي صاحب د نوکرانو په لباس کښې نور قومي نفر هم ګډون کولای شي ـ که چيرې انګريزانو فشار باندې راوړ په ځواب کښې ورته ويلای شي چه د حاجي مليشه راغلي وه د غه جګړه ئې وکړه او که چيرې ئې منع کړه وز موږ د قوم تر مينځ جګړه پيښيږي.

نو هم دا د رئيس المجاهدين حاجي صاحب عاقلانه او مدبرانه سياست وه چه تولو هغو ځايونو کي چه انګريزانو نيولي وه د شپې له خوا هره ورځ حملې شروع شوې بيا حاجي صاحب يو مکتوب د برتانيې اعلی قوماندان ته په دې مضمون وليکی:ـ

هغه وخت چه زه مسعود وته راغلم د برتانيې دولت قوم ته د سولې پيشنهاد ونه وړاندې کړل او ما د برتانيې دولت ته يو يادداشت ورولېږه چه په دې سرحد کښې د ځوځنو غير ملي کسانو سره د صلح د شرطو نو په باب خبرې کول امنيت راوستلو ته هيڅ کومه ګټه نشي رسولای د دې کار بنياد د قوم د دې خادم او زموږ د جمعيت په لاس کښې دې ـ خود برتانيې دولت د هغه غرور له مخې چه عادت يې دی کومه اعتنا ئې و نه کړه تر ځو چه نن سره له دې چه مسعودو سره يې

صلح کړی ده بیاو لی جګړه ختمه نه شوه اولاتر اوسه هم انګریزان له مشکلاتو سره مخامخ دی خواوس بیاهم د برتانیې دولت ته واېم چه له خپلو محدودو خلکو سره مسالمت ددی سرحد امنیت نشی تـامینولای که چیری په رښتیا د برتانیې دولت غواړی چه په سرحد کښی امنیت راشی او د دوله وخـواوو یښی توئی نشی ملت او قوم له دغه خدمتګار سره دی دخبرو له لاری مصالحه وشی ترڅو چه په صحیح او معقول صورت د مصالحی تړون وشی ویښی تو یول بس شی او په دغه سرحد کښی عمومی امنیت راشی

انګریزانو چه نه غوښتل د رئیس المجاهدین حاجی صاحب مرکزیت په وزیرستان کښی وروسپاری نو خبرو ته حاضر نشول او اغماض یی کاوه مجاهدینو په پرله پسی حملو انګریزان وارخطا کړل نو ناڅاپی او چپاولی حملی ئی شروع کړی او اردوئی وکړه چه په خپله د حاجی صاحب او د نورو ملی مجاهدینو په مرکز وحمله وکړی او دغه ئی تنبیی او جزائی حملی وبللی .

د همدغه کال د جوزا په میاشت کښی هغه وخت چه حاجی صاحب خپلو عسکری افرادو ته دیوی هفتې د پاره خپلو کورو ته د تګ رخصتی ورکړی وه او خپل زوی (عبدالرحیم) یې د محیښی چارو داجرا کولو د پاره وانا ته لیږ لی واو صرف یو بلوك دائمی ساتونکی په مرکز کښی پاتی ؤ انګریزان د خپلو جاسوسانو په واسطه خبر شوی وه

چه رئیس المجاهدین حاجی صاحب یوازی په ایشکی کښې پاتې دی او لښکری قوا یې تیته شوی ده نو ځکه ښائی دعبدالرحمن خیلو له لاری ور باندی حمله وشی .

دغه خبر په خصوصی ډول دهغې و رځې په ما زیګر داورسید چه په شپه ئی حمله شروع کیده ـ حاجی صاحب لږ شانته پریشانه شو خپل محافظ ټولیمشر مشرف خان ئی فوری ورو غوښت او له قضیې څخه یې خبر کړ او امر یې ور کړ چه پاچاخان او اصیل خان د اشکی تولیمشران داوغواړی هغوی چه حاضرشول ورته یې امر وکړ چه زما له محافظو سره دی دا شکی دټولی سل تنه سمد ستی وخوځیږی او دشپې پورې دې عبدالرحمن خیلو ته چه پنځه میله لیری ؤ ځان ورسوی او دشپې د عبدالرحمن خیلو په ملګرتیا دانګریزانو دراتګ په لار کښې مورچې ونیسی سبا سهار چه هغوی دارسیږی مدافعه مجاهده ور سره شروع کړی په همدغه وخت کښې چه عبدالرحیم (دحاجی زوی) په وانا کښې ؤحاجی صاحب ورته ولیکل چه هر څو مره نفری چه هلته موجود وی فوری یې داولیږی اونو رهم برابر کړی

دحاجی صاحب له امر سره سم هغه نفرچه له اشکی څخه ټاکل شوی ؤ دعبدالرحمن خیلو په لورو خوځیدل او اختر محمد جبه دار ته امروشو چه یوه اندازه کارتوس بار کړی اودجګړی په میدان کښې دې هغوی ته و ر سو ل شی .

غیرتمنو مجاهدینو په شپه کښې ځانونه عبدالرحمن خیلو ته
ورسول او هغوی ئې هم له قضیې نه خبر کړه له عبدالرحمن
خیلو څخه دوه سوه تنه ننګیالي میړونه تیار شول او په
مجاهدینو ورګډ شول په دغه وخت کښې د مجاهدینو
ګرد شمیر په دې قرار ؤ.

١- داشکي وزیر ١٥٠ تنه

٢- عبدالرحمن خیل ٢٠٠ تنه

ټول ٣٥٠ تنه

دغو مجاهدینو په شپه کښې د سیند د غاړو په ځنګلو
او دړبرو ترشا سنګرونه ونیول د انګریزانو عسکر
د دوی د خپل راپور له مخې:-

١- عسکر ٣٠٠٠ تنه

٢- غرنی توپونه ٦ عرادې

٣ مترالیوز ماشیندار (٧٠٠) دانې

دانګریزانو بارو ړونکي غاطرو په شپه کښې خپلې
چونۍ له مرکز کانی ګرم څخه حرکت وکړ او لمر څرك
دعبدالرحمن خیلو کلي ته رانژدې شول له دې څخه خبر
نه ؤ چه د حاجي صاحب مجاهدو لښکرو دلته مورچې نیولې دي
دانګریزانو فوځ چه په سیند کښې برمخ تلل د سیند مینځ
ته راورسید په دې وخت کښې لمر راوخوت له دواړو
خوا څخه دانګریزانو په فوځ شلکونه شروع شول د مجاهدینو
ننبه وشتونکو ډزی کولې دانګریزانو فوځ ځای په ځای
تم شو جګړه شروع شوه دغه ځای د (بدر) په نامه یا دیدی

د غو محدودو ملي مجاهدینو د مړه په دلاورۍ او وطنپرستۍ جنګ وکړ چه د صدر اسلام د بدر جګړه سړی ته ور په یاد یدله.

الوتکې د فوځونو په مرسته را والوتلې په پای کښې لاس ترلاسه د سر نیزو او چړو جګړه شروع شوه په انګریزي فوځونو کښې ماته ګډه شوه په دغه لوبه او ژوره معرکه کښې ملي مجاهدینو مات شوی فوج واخست په پای کښې دوه کسه ملي مجاهدین فتح او سدو کی چه یو ټولی ئې تعقیبوله او د رئیس المجاهدین د مخصوص ساتونکی پادشاه خان د اشکی د ټولیمشر ورونه ؤ په ټنټه ولګیدل او شهیدان شول.

دښمن د دغو دوو تنو او نورو مجاهدینو له فوق العاده شجاعت څخه په دغې جګړه کښې هیښ پاتی و، لکه چه د دوی په خپلو راپورونو کی چه په ورځپاڼو کښې خپاره شوي دي د دغې جګړی په باب کښې ئې یادونه کړی ده فوق العاده تحسین یې ورته ویلی دی د دغو مجاهدینو په میړانه ئې رسماً اعتراف کړی دی، او د دغو دوو تنو شهیدانو په باب (چه د حاجی صاحب د مخصوصو اردلیانو په نامه یاد شوي دي) هم اشاره شوې ده اصیل خان ټولیمشر یو بر تانوی ټولیمشر ژوندی و نیو او هغه یې کوله چه رئیس المجاهدین حاجی صاحب ته یې راولی ټولیمشر پادشاه خان چه دوه غیر تمن ورونه ئې په جنګ کښې شهیدان شوي ؤ او مړي یې کور ته وړل

ACKU

پەلار کښېی یی اسیر منصبدارو لیدچەاصیل‌خان یی لە ځان سره بیایی و ینی‌یی وخوځید لی غو ښتل‌یی چه په توپك یی وولی اسیر منصبدار یی خپل بندی گانه پري‌یي نښود چه هغه ووژنی نژدی وه چه ددوی ترمینځ شخړه‌جوړه شي خومشرف‌خان تولیمشر اواختر محمدخان خزانه‌دار یې ضمانت وکړچه لەحاجی صاحب څخه پەورته مقرره‌انعام واخیستل شي- نواسیر منصبدار یې ووا ژه .

ددغی ورځی ترماژدیگر پوری بر تا نوی عسکری منصبدارانو۲۲دانی‌خولی‌چه هغوی خپله په جنگ کښې مړه شوي و، دجگړی لە ډ گر څخه درئیس‌المجاهدین حضورته وليږل شوې ددغی‌ورځی ترماښامه پوری مجاهدین فاتح او بریالی اشکی ته بیرتـه راوگـرځیدل اوخپل ټپیان اوشهیدان ئې لەځانه سره راوړل .

دمجاهدینو تلفات :-

| | | |
|---|---|---|
| داشکی د وزیر و ټپیان | ۱۰ | تنه |
| « « شهیدان | ٤ | » |
| | جمله ١٤ | تنه |
| ۳-دعبدالرحمن خیلو ټپیا ن | ۸ | تنه |
| ٤- » » » شهیدان | ۳ | تنه |

دوزیروولجې :

| | | |
|---|---|---|
| ١- کچرې | ۱۰ | دانی |
| ۲-توپك | ۱۵۰ | میله |
| ۳- کارتوس | ۱۱ | باره |

دعبدالرحمن خیلی ولجې :-

| | | |
|---|---|---|
| ۱ـ توپك | ۱۰ | میله |
| ۲ـ کچری | ٦ | دانی |
| ۲ـ کارتوس | ٤ | باره |

دموٴثقو اطلاعاتو له مخی دانګریزانو تلفات :ـ

| | | |
|---|---|---|
| ۱ـ ټپی افراد | (۲۰۰) | تنه |
| ۲ـ وژل شوی افراد | (۱٦۰) | « |
| ټول | ۳٦۰ | تنه |
| ۳ـ وژل شوی منصبداران | (۳۰) | تنه |
| ٤ـ ټپی شوی منصبداران | (٤۰) | « |
| ټول | ۷۰ | تنه |

په سبا ورځ یې دفتح اوسد وکی او یوبل ځلمی شهید جنازی په ملی مراسمو سره دجنازی دلمانځه له اداکولو څخه وروسته په خپلو ویښو لې لو جامو کښی خاورو ته وسپارلې شوی حاجی صاحب ددوی د جنازی په مراسمو کښی حاضر شو اود جنازی لمانځه امامت ئی په خپله وکړ دغه شهیدان چه په قبر کښی کیښودل شول حاجی صاحب یې مخونه ورلوڅ کړل او په ټندو یې په داسی حال کښی مچ کړل چه ژړل یې اوددوی دمړینې په افتخارئی دملی جوش ډ که یوه وینا وکړه اوبیا یې مینډ وته ورغی ډاډ گیرنه او څه پیسی ئی ور کړی .

فتح خان شهید ۱۸ کلن اوسدو کی شل کلن و ،

هغه مکتوب چه حاجی صاحب رئیس المجاهدین خپل



ACKU

زوی (عبدالرحیم) ته‌وا ناته ورلیږلی و، عبدالرحیم نوری (۵۰۰) تنه وزیر اشکی ته و لیږل هغه‌وخت چه دغه نفری اشکی ته ورسیدل جنګ فتح او انګریزانو ماته کړی وه.

وروسته له هغه‌هم برله‌پسی تل دانګریزانو په‌عسکری مرکزونو داړی ورولیدلې.

ددغه کال داسد په‌میاشت کښې چه‌انګریزانو دشپی له‌خوا په ناڅاپی ډول په‌عبدالرحمن خیلو حمله وکړه ددغی حملی په‌نتیجه کښې انګریزانو سخته ماته وکړه اوډیر دراندہ تلفات وروا وښتل دغه‌اطلاع لومړی په‌محمودو کښې زموږ دلښکر مرکز (ملك) ته‌ورسیدله دغه لښکری چه دمحمود موسی خان ترقیادت لاندی وی وربسی دستی همدغه اطلاع درئیس المجاهدین (حاجی صاحب) حضورته ورورسیدله. رئیس المجاهدین خپل زوی (عبدالرحیم) حضورته وروغوښت اوامریې ورته وکړ چه مکین ته‌دې مرسته ورکړه‌شي. نوپه‌سبائی دوزیرو له‌غونډ څخه (۳۰۰) تنه اودمحمودو له‌غونډ څخه (۲۰۰) تنه چه ټول پنځه‌سوه تنه‌و،دوزیرو نفرد شرف خان په مشری اودمحمودو نفر د کنډ کمشر شاه بهرامخان په مشری چه‌دغه ټول دحاجی صاحب دزوی دمجاهدینو جرنیل (عبدالرحیم) ترقیادت لاندی و، له یوی اندازی کار توسوسره د بیرغل دغره له‌لاری چه دمحمود دعلاقی ډیره نږدی څوکه ده حرکت وکړ شپه یې په‌عباد خیلو کی تیره کړه او په سبائی مکین ته

ورسیدل ـ دغه تنګ ځکه داوږدی لاری څخه غوره شوی
و چه د کاڼیګرام لار کـه څه هم لنډه وه د دغی لاری
په هره برخه کښی دانګریزانو تاڼی وی او دغه لار به یی
ساتله زموږ زړوری او جنګی لښکري په داسی حال کی چه
په هغو نوو، وسلو سمبالی وی چه له انګریزانو څخه یی
په ولجو اخستی وی مکین ته ورسیدلی دمکین دخلکو
او دموسی خان له خوائی ډیر تود هر کلی وشو مشترکه
جرګه جوړه شو جرګه درئیس المجاهدین له کومک څخه
فوق العاده خوشحاله شوه دمکین دخلکو د کـار توسو
برخه اوندی پیسی چه دحاجی صاحب له حضور څخه ورته
منظوری شوی وی ورکړی شوی ـ پنځه ورځی یی په مکین کی د
د انګریزانو انتظار وویست او وروسته خپل
مرکز ته، دبیرته ګرځید وپه وخت کښی یوه مفکوره پیدا
شوه او داسی فیصله وشوه چه باید په کاڼی ګرام او لدره
کښی دانګریزانو مرکزی عسکر وته تلفات اوتاوان
ورواړول شی.

دلدی په عسکرو باندی دحاکمه غرونو له کبله چه
دهغه ځای نژدی خلکوته په ضمانت سپارل شوی و، او دهغه
ځای دقومونو له خوا ساتل کیدی دحملی امکان موجود
نه و، نو دمسعود ودشمن خیلو یوه ولګی لښکرو چه په عسکری
چونی باندی دحاکمه غرونو دساتنی ضمانت ددوی قوم
کړی و، هغو ذمه ووهله چه دخپل قوم ځواب په خپله دوی
ورکوی نوشپه مو چه په چونی باندی مسلطه غره ته ورسوله


د توپك نښان چې (۵۰۰) گامه وو په دغه وخت کښې چه د شپې اته بجې وې او د انگريزانو د عسکرو په خيمو کښې څراغونه روښانه او اورونه بل وو، ناڅاپه زموږ د لښکرو له خوا په خيمو باندې د برې موټرې ډزې او شلك شو انگريزانو فوري څراغونه مړه کړه او د ماشيندار و، توپونو او توپکو پر له پسې ډزې زموږ په لور شروع شوې له دواړو خواو څخه پر له پسې ډزې د شپې تر ۳ بجو جاري وې ـ چه شپه آخره شوه د فيصلې له مخې پخوا له لمر خاته څخه بايد زموږ لښکرې له دغه ځايه ووزي او محفوظ ځاى ته ځان ورسوي نو په هغو مخصوصو علامو چه پخوا وضع شوې وې لښکرو ته امر ورکړ شو چه حرکت وکړي د لمر ختو د مخه د کاڼي گرم بازارته لښکر راورسيد او د کاڼي گرم د خلکو د مخالفت سره سره شپه مو هلته وکړه او په سبائي خپل مرکز اشکي خواته راوخوځيدو او له لسو ورځو مسافرت څخه وروسته اشکي ته راورسيدو هم دغه واز په گردوزيرستان کښې زموږ فعاليت جاري و، او داسې يوه ورځ نه وه چه انگريزان په آرام کښېناستلي وي ، داهغه کال و، چه د برتانيې له خوا يو هيئت د مستر ډاپس په مشرۍ د افغانستان او برتانيې ترمينځ د صلح په غرض، د قطعي او انتهائي خبرو د پاره تيار و .

په دغه وخت کښې چه د وزيرستان په سرحد کښې د رئيس المجاهدين حاجي صاحب د لښکرو له خوا پر له پسې

جګړې جاري وې ددو اړو دولتو تر منځ په هغو خبرو
چه دافغانستان دسياسي مقصدو دحصول دپاره کېدلې
مهمې اغيزې ښندلې .

دغه کال دسنبلې په مياشت کې دوزيرستان دېر له پسې
جګړو اود بد امنۍ افواهات هرې خواته خپاره وه
اودنړۍ جرائدهم هغه په لويو عنوانو خپرول . نوله کابل
څخه دافغانستان دداخلي خلکو هندي مهاجرو او دپيښور
دصوبې سرحد اونورو فرار يانو دافغانستان دحکومت
په ګډون اولار ښوونه دشفا خانې يو هيئت دهلال احمر
(سره مياشت) په نامه د پيښور دچچ هزارې دعلاقې
داوسيدونکي مهاجر محمد ايوب خان په مشرۍ او هندي
مهاجر سيد علي بخاري سره له ډاکټر دوا او مکملې
شفاخانې له سامانو او لوازمو سره دوزيرستان دمجاهدينو
مرکزاشکۍ ته ورسيدچه ديو قولګي مجاهدينو او دوزيرستان
دمشرانو له خوائې تودهرکلی وشو- هيئت خپلې خيمې له
چونې څخه په عليحده ځاى کښې ودرولې او خپل بيرغونه
يې چه دسرې مياشتې سره علامه يې لرله پرخيمو ودرول
او دمجاهدينو د ټپيانو او ناروغانو پسه دارو او درمل يې
شروع وکړه . ددغه هيئت په راتلو سره دوزيرستان
قول خلک ډير خوشحاله شول او دانګريزانو نظامي مرکزونه
ډير نګرانه اومشوشه شول .

داعليحضرت امير امان الله خان د۱۲۹۹ کال دميزان
دمياشتې د۲۲ نيټې دفرمان په موجب ( چه درئيس المجاهدين


۱۲۹۹

لوا پتمان نشان حاجی ملا عبدالرزاق خان رئیس المجاهدین [illegible]

چون از حضور والا برای مصارف [illegible] یک مبلغ [illegible] منظور [illegible]

حصول مخارج آن [illegible]

[illegible] مبلغ ده هزار [illegible]

[illegible]

16

حاجی صاحب په نامه دا رسیدلی و) لس زره روپۍ دسرې میاشتې دشفاخانې دمصارفو دپاره منظورې شوې وې.

دفرمان نقل :ـ

عالیجاه فضائل نشان حاجی ملا عبدالرازق خان رئیس المجاهدین وزیرستان راواضح خاطر باد چون ازحضور والا برای مصارف همه لوازمات وزیرستان یك مبلغ معین منظور و روانه شده که مبلغ مذکور باهدایت مفصل اصول مخارج آن بذریعه عالیجاه صداقت وشجاعت همراه سردار اعلی شاه محمود خان غازی جرنیل نظامی وملکی سمت جنوبی بشما میرسد.

لذا بشما امر فرموده می‌شود ازهمان مبلغ معینه که برای شما میرسد مبلغ ده هزار روپیه پخته را برای مخارج شفاخانه وزیرستان معین نموده به مشورهٔ محمد ایوب خان به اصولیکه لازم باشد به مصرف شفاخانهٔ مذکور میرسانید.

امیر امان الله

دسنه ۱۲۹۹ هجری شمسی کال دعقرب په میاشت کې په وزیرستان کې دانگریزانو له قوماندانۍ له خوا دوانا احمدزیو وزیرو ته دتوچۍ دوزیرو او مسعودو په شان دسولې پیشنهاد وړاندې شو او شرایط یې چه نغدې جریمه او د ټوپکو تحویلول و، اعلام شول او داهم ویل شوي دي که چیرې دغه شرطونه ونه منل شي نو شدیداً به بمبارد شي.

# د احمدزیو وزیرو جګړه

د جنوبي وزیرستان وانا خواته د انګریزي فوځونو سوقیات د ۱۳۲۹ هجري شمسي کال د عقرب په میاشت کې په دسولي شرطونه وزیرو ته وړاندې شول او د نه منلو په صورت کې په سختی بمباریه تهدید شول چه وزیرو لې وخلکو چه دوی له پخوا څخه د انګریزانو سره ارتباط درلود د انګریزانو شرطونه ومنل او په سروکی کې د انګریزانو چونۍ ته ورغلل او د قوم اکثرو خلکو د انګریزانو شرطوته غاړه کښېنښوده له دغه کبله د عقرب د میاشتې په (۱۰) نیټه د الوتکو عمومي بمبارد د قبایلیانو په کورو مخصوصاً د اشکي په مرکز او د (وانا) پرچونۍ دورځې دوه واري د سهار او ماز یګر له خوا شدید شروع شو او د ماز یګر ترځلورو بجو پورې دوام درلود- د انګریزانو نظامي مقصد داؤ پخوا تر دې چه عسکري رسمي سوقیات وشي د بمباري په واسطه د قبایلیانو روحیه ضعیفه کړي او بیا سوقیات شروع شي دغې بمباري پوره یو د میاشت دوام درلود د انګریزي منابعو څخه د حاجي صاحب حضور ته داسې اطلاعات رارسیدل:-

په جندوله کې انګریزي لښکري راټولیږي او د قوس په میاشت کې د (تنګی شعیر) له لارې د وانا خواته عسکري سوقیات شروع کیږي.

رئیس المجاهدین د دغی اطلاع په اساس داشکی مرکز
پریښود او دوا نا د تلوعزم یې وکړ او د عقرب په (۱۵) نیټه
وا نا ته ورسید .

د قوس په لومړۍ نیټه حاجی صاحب د وزیرو قولی
طایفی وانا ته ورو غوښتلی په دغه ځای کی یوه ستره جرګه
چه په هغی کې تقریباً لس زره تنه لښکر او د قوم مشرانو
ګډون کړی و جوړه شوه دغه جرګه د انګریزی پخوانی
چوڼی څخه د باندی چه د حاجی صاحب او دده دور سره
کسانو هستو ګنځی و ، په یو لوی میدان کې و پرانستل شوه
هغه وخت چه حاجی صاحب د چوڼی څخه د باندی ووت د هر قوم
له خوا ئی د توپکو په ډزو هر کلی او احترام وشو ـ حاجی
صاحب چه د جرګی حلقی ته دا ننووت د هر قوم له یو یو تن
په ذریعه ئی له قومونو سره روغبړ و کړ وروسته له دی نه
د دغه غیرتمند قوم قربانی او هغه فداکاری چه د دین او
وطن د ناموس د ساتنې په لار کې یې د برتانیی د استعماری
دولت په مقابل کې کړی وی یادې کړی او دده دغه وینا
د ومره اغیزه ناکه وه چه حاضرینو د حاجی صاحب په ګډون
وژړل او غلغلی پورته شوی .

حاجی صاحب وویل : ـ

د انګریزانو د حرص او آزستر ګی د آزادو او آبادو
هیوادو له استعمار څخه لا تر اوسه هم مړی شوی نه دی موږ او تاسی
په دی غرو او ځغو کې هم نه پریږدی بیا ز لغیل وزیر هفته خان
په خپله وینا کی وویل موږ دوزیرو احمدزی قوم په لومړی ورځ

چه تاسو اشکی ته راورسید لاست تاسو سره مو قول وکړ چه ستاسو ترقیادت لاندی هر راز فداکاری ته حاضر او تیار یو او لکه چه پخپله وعده رښتین یو ستاسو له امر او هدایت سره موسم پدی یو کال کی په مسعود او نور سیمو کی د هیڅ ډول قربانی او وینو تویولو څخه ځانونه نه دی ژغورلی ښځی مو کونډی اولادونه مو یتیمان او کورونه مو ړنګ شول موږ چه مسلمانان او افغانان یو د دغو ټولو ځانی او مالی تاوانو اجر په دنیا او اخرت کې د رب العالمین له دربار څخه غواړو. تاسی او ستاسی زوی زموږ سره له هیڅ ډول مرستی او همدردی څخه ځان ندی ژغورلی هر راز زحمتونه او کړاوونه موز غملی دی اوس چه بیا انګریزانو قصد کړی دی چه د الوتکو د بمباریو په واسطه زموږ کورونه وران او پخپلو عسکری سوقیاتو زموږ پر وطن یرغل وکړی نو زموږ د قومونو قطعی عزم او تصمیم دا دی چه موږ به پخپله مقدسه خاوره وړیا د ښمن ته نه پریږدو او ترڅو چه مو توان وی پدی لار کې به د سر ښندنی او قربانی څخه ځان ونه سپموو او د وطن څخه به دفاع وکړو او که ونه شوه د مدافعی د پاره به حتی باریږو او په لوړو غرونو کښی به په غیر منظم ګوریلائی جنګونو لاس پوری کوو .

د مزنه خان له وینا څخه وروسته شیر ګی هم د غه راز بیانونه وکړل - او د قوم مشرانو هر یوه په خپل وارو ویناوی وکړی په پای کښی رئیس المجاهدین د خپلی وینا په ضمن کښی وویل:

زه هم د ژوند تر وروستي سلګي ستاسو په غم او الم
کښې شريک يم! او خپلې ورځې به په دې لار کښې تيرې کړم
حاجي صاحب وويل دوا ناسيمه هواره او د انګريزانو
د قوي وسلې په مقابل کښې په دغې سيمه کښې مدافعه او جګړه
سخته ده نو زه په خپله له يو شمير وزيرو او مسعودو عسکري
ملازمينو سره د انګريزانو مخې ته ورځم تاسو قومونه
ولاړ شئ خپل اهل وعيال مال وسامان او نور وشيان په غره
کې خوندي کړئ زه به د خداى په فضل تر هغه چه تاسو بيرته
راګرځئ د دښمن مخه ونيسم او که تيرې ئې وکړ مدافعه به ئې
کومه زما زوي (عبدالرحيم) د مجاهدينو جرنيل دى په وانا
کې وي او د مجاهدينو د پاره به خوړې او خوراک راليږي
او وارسوي د جرګې له خلاصيد وڅخه وروسته د جرګې
خلکو او د قوم مخوانانو د رئيس المجاهدين له حضور څخه
وغوښتل چه زموږ هره طايفه غواړي چه ستاسو په حضور ملي
اتڼ وکړي او ښه پوهيږو چه زموږ دغه لويه ټولنه به زموږ
وزيرو وروستني ټولنه وي ځکه خداى پوهيږي چه زموږ
د دين او وطن د دښمن انګريز له خوا به په وانا کښې موږ
ته څه راپيښ شي رئيس المجاهدين د قوم د خوښې او رعايت
د پارهٔ د دوى غوښتنه ومنله هر قوم له خپلو بيرغو او ډولونو
سره جلا جلا شو په داسې حال کښې چه د انګريزانو څخه ولجه
شوي پوولس ډزې توپک ئې په اوږو واتن شروع شو او هر
قوم په منظم صورت د عسکري رسم ګذشت په توګه
د حاجي صاحب تر مخ تيريدي او د تکبير آوازونه ئې پورته

کېږل:- په دې ډول ټولې لښکرې تېرې شوې او بیا رخصت
شوې:- په دغه ورځ تخمیناً پنځه زره او پنځه سوه یوولس ډزې
انګرېزي توپکان چه د دوو کالو د جګړې په موده کښې
مجاهدینو له انګرېزي فوځونو څخه ولجه کړې وې او له قوم سره
موجود وو پښتنو ملي احساسات او د انګرېزانو ظلمونه او چپاوونه
لیدل حاجي صاحب چه په دې حال کښې زړه ئې کرار نه کاوو او
د ملي جوش څخه ئې ژړل بیا ئې داسې امر وکړ:-

۱- د هغې غلې او جبه خانې موجودې دې راوړل شي چه په
دومره موده کې د احتیاط د پاره ذخیره شوې وې

۲- د وزیرو له غونډ څخه (۶۰۰) تنه او د مسعودو له غونډ څخه
۴۰۰ تنه چه ټول زر تنه شي زما سره دې (سرو یکی) د تګ
د پاره تیار شي )سرو یکه انګرېزي چوڼۍ ده چه د وانا ختیز
خواته ۳۰ میله لیرې پرته ده د ګدام موجودې چه وشوه ۶۰۰
خرواره غله او څه کارتوس چه د افغانستان له خوا د مرستې
په ډول رارسېدلي ؤ موجود و د دغو څخه څه مصرف شوي وو او یوه
اندازه یې د دغسې ورځو د پاره پاته ؤ او هم هغه کارتوس
چه د ولجې په ډول د مجاهدینو لاس ور غلي و او یا له هغوی
څخه را نیول شوي ؤ ټول (۳۰) زره ګڼې موجود دي وي
رئیس المجاهدین امر وکړ چه یوه اندازه کارتوس دې
د ده و رسره نفرو ته ور کړل شي او څه دې
احتیاطي وساتل شي او یوه اندازه دې د وزیرو
لښکرو ته هغه وخت ور کړه شي چه خپلو کورو ته

ACKU

ځی ځان کوز او کهول په وسائی او بیر ته جګړې ته
ځانونه را ورسوی .

سهار وختی رئیس المجاهدین له خپلو ورسره ملګرو
سره له وانا څخه د «سرویکی» خواته وخوځید . په دغه
وخت کښی (۵۰) او پښا ن او (۶۰) یا بو ګا ن
او یوه اندازه اوښه او جبه خانه هم د حاجی صاحب سره
وليږل شوه له وانا څخه ترسرویکی پورې (۳۰) میله لار
په داسی سیند کښی چه له دواړو خواؤ څخه جګو غرونو
او ګڼو ځنګلو احاطه کړی ده تیره شوی ده دالا رچه تر
شعر تنګی پورې رسیدلی وه دانګریزانو پخوانی د موټرو
سړک و چه د سرویکی څخه دوانا تر چوڼۍ . پورې تللی دی
په همدغه سیند کښی تیرشوی دی له میچن بابا څخه چه
تیرشی یوه لویه هواره میدانی راځی چه دوانا مرکزی
چوڼۍ همدلته پرته ده .

حاجی صاحب ددغی مذکوری په اساس ځان سرویکی
ته ورورساوه . حاجی صاحب وویل :-

د شعر تنګی چه د سرویکي په نسبت کم بره ده او دواړه
خوائی جګ غرونه او ډیره تنګه مرچه لری هغه و نیسی
ځکه د دغی تنګی په واسطه دانګریزانو په مقابل کی ښه
مدافعه کیدلای شی .

حاجی صاحب چه دغه تنګی و نیوه دا ځای د مسعودو
سیمه وه چه دانګریزانو له خوا د مسعودو د هغی طائفی تر



ACKU

ضمانت او ښارنې لاندې وه چه انګریزانو سره یې مصالحه کړې وه ـ نو دغې سیمې خلک په داسې حال کښې چه قرآن مجید یې د ښځو پر سر وو د رئیس المجاهدین حضور ته ورغلل او وې ویل چه دغه تنګی زموږ تر ضمانت لاندې ده که تاسو دلته جنګ وکړی زموږ کورونه چه د انګریزانو چوڼۍ ته نژدې دي وران او برباد به سي ـ حاجي صاحب پوهېدې چه که ټینګار وکړی نو د مجاهدینو او د دغو خلکو ترمینځ کورنۍ جګړه پېښېږي او دا کار د انګریزانو په ګټه تمامېږي نو مجبور شو دغه تنګی یې پرېښوده او له تنګی څخه لرې د باندې ځای ونیوی.

د انګریزانو د الوتکو هوائي فعالیت د ورځې پر ورځې پر ټولو سیمو او کورونو شدت وموند د ورځې هغه خلک چه د خپل کور او کهول له خوندي کولو څخه خلاصېدل جوپه جوپه دوا ځا چوڼۍ ته تلل کارتوس به یې اخیستل حاجي صاحب ته به یې ځانونه رسول له یوې هفتې وروسته به سرو یکه کښې د حاجي صاحب لښکر پنځه زرو تنو ته ورسېد.

د قوس په ۲۸ نېټه د انګریزانو د فوځونو سوقیات شروع شول او د شمیر له تنګی څخه بیله کومې پېښې تېر شول.

باید وویل شي لکه چه د مسعودو په سیمه کې د جګړې ځګر مساعدو دلته هغسې نه و او انګریزانو په دغه ځای کې د توپو او الوتکو څخه ځېره استفاده کوله.

د وزیرو مجاهدینو چه د شمیر تنګی څخه د باندې

مرچې نیولې وې هغه وخت چه انګریزي فوځونه له تنګۍ څخه د باندې راووتل د مجاهدینو له لښکرو سره مخامخ شول او داسې خونړۍ جګړه پیښه شوه چه په پای کې په سرنیزو او په چړو یو د بل ګریوان ته ولویدل او په دغه ځای کې انګریزانو ته سخت ځاني او مالي تاوانونه ورواوښتل او د مجاهدینو له خوا دیرش تنه ټپیان او شهیدان شول څو ورځې انګریزان دلته پاتې شول او د مجاهدینو له خوا به هره شپه پر دوی باندې داړې لویدلې او حملې به باندې کیدلې. بیا انګریزانو له خپل ځای څخه د (درګۍ او به) خوا ته حرکت وکړ دغه جګړه هم له خونړو جګړو څخه وه چه دلته په لنډ ډول سره ذکر کیږي.

دغه ځای په لوړو تپو او بې ځنګلو غرونو احاطه شوی و. د انګریزانو فوځونه له نیپالي ګورکه، پنجابي سکانو او د مسعودو د لښکرو له ازمویل شوو افرادو څخه جوړ شوي و او په لویو صحرائي او غرني توپونو مجهز و حرکت وکړ. مجاهدینو په شپه کې ټولې تپې ورته نیولې وې درسته شپه ئې د دې سره چه هوا خوراسړه وه هلته پخپلو مرچو کې د انګریزي فوځونو د راتلو په تمه تیره کړه د سهار په لمر خرك انګریزي فوځونه د مجاهدینو مرچلو ته نژدې ورسیدل د ۴۰۰ ګامه په فاصله انګریزي توپونو د مجاهدینو په استحکاماتو او مرچلو پر له پسې بمونه اورول مجاهدین پوه شول چه د دغو توپونو او تکو له بمبارۍ څخه خلاصیدل پرته له دې چه په ملي جوش سره په دشمن عمومي یرغل وکړي بل صورت امکان نلري هغه وخت

چه د دښمن او مجاهدینو په منځ کې ۳۰۰ گامه پاتې وه
مجاهدینو په غرمه کې عمومي یرغل شروع کړ او د انگریز
په فوځونو ور گډ شول په دغه حال کې د توپو او الوتکو
بمبارۍ بندې شوې د سرنېزو چړو او لاسي بمونو خونړۍ
جگړه ونښته د ماسپښین دوې بجې وې چه د انگرېز فوځ
په شا مات شو مړنیو او غیرتمنو مجاهدینو چه دغه
جگړه له خپل وطن څخه وروستۍ مدافعه گڼله نو د دښمن
لښکرگی تعقیب کړل او ډېر درانده تاوانونه ئې
ورواړول د انگریز فوځونو دومره وکړی شول چه
د ماسپښین تر ۳ بجو ځانونه خپلو چوڼیو ته ورسوی.

د مجاهدینو لښکري بېرته راوگرځیدلی خپل شهیدان
او ټپیان ئې میچن بابا ته ورسول په دغه جگړه کې
د مجاهدینو (۵۰) تنه مړه او (٦٥) تنه ټپیان شول د دوی
لاس ته د دښمن (٤٥۰) میله ټوپکه او یوه اندازه کارتوس
او نور د سامان ورغلل په دې جنگ کې د انگریز د صحیح خبر له
مخې (۳۰۰) تنه مړه او (٤۰۰) ټپیان شول چه په دوی کی
یو تن غونډ مشر، دوه تنه کندک مشران او څو تنه نور
انگریزی منصبداران هم شامل وو د انگریز لښکرو ته چه
درانده تلفات اوښتي وو د دې د پاره چه هغه بیرته جبیره
کړی نو پنځه ورځی هلته پاتی شول او نور تازه دم
فوځونه ئې راوغوښتل.

رئیس المجاهدین په دې وخت کی په میچن بابا کې وو

په دغه ورځ یوه انګریزي الوتکه هم چوڼۍ ته نژدې
را وغورځول شوه. د انګریز لښکرو چه میچن بابا ته نژدې
چوڼۍ جوړه کړې وه خیال ئې درلود چه یوه ورځ
به ضرور له سیند څخه پورې وزي او د وانا چوڼۍ ته
به ځانونه ورسوي.

دوانا او میچن بابا په منځ کې (٦) میله فاصله
ده. چه دری میله ئې په سیند کې او دری میله له سیند
څخه تر چوڼۍ پورې هوار میدان او دښت دی. رئیس المجاهدین
(حاجي صاحب) پوه شو چه سبا که د جګړې ډګر (وانا)
ته نژدې جوړ شي نو احتمال شته چه مجاهدینو ته
ډیر خطرات او تلفات ورسیږي. په دې وخت کې چه د انګریز
د الوتکو سخته بمباري شروع وه وزیرو جرګه وکړه
په دې جرګه کې ملا حمزالله د پښتونستان تنکیالی مجاهد
چه په ډنډو سترګو د دښمن د مقابلې د پاره د نورو ملي
مجاهدینو سره څنګ په څنګ جنګیدی هم ګډون کړی و.
حاجي صاحب چه د دې جرګې مهم او لوی رکن و
داسې وویل: — وخت او فرصت تنګ دی ستاسو څخه پوښتنه
کوم د دوو کلنیو جګړو وروسته سبا بیا د انګریزانو
استعماري لښکري خپله مرکزي چوڼۍ بیرته نیسي او موږ
دومره قوت نلرو چه هغوی منع کړای شو مجبوره یو چه
دغه چوڼۍ خوشې کړو او ترشا غرونو ته ولاړ شو که
که انګریزانو د وانا چوڼۍ ونیوه له نو بیا تاسو قوم؟
څه اراده لرې؟

ایا هغه شانې چه دوزیرو محترمو خلکو د مصالحې شرایط ومنل تاسو هم د هغوی په شان کوی او که څنګه؟

حاضرینو د ځواب د ورکولو د پاره لس دقیقې مهلت وغوښت چه په خپلو مینځو کې مشوره وکړي، لږه موده وروسته بیرته راټول شول پخوا تر دې چه جرګه څه ووائي حاجي صاحب وویل:-

ای دوزیرو غیرتمنه کسانه!

تاسو هیڅکله د اسلام د دین او وطن د دښمن په مقابل کې له میړانې، فداکارۍ او سربښندنې څخه ځانونه نه دي سپمولي — نن چه ستاسو د جګړو وروستۍ ورځ ده انګریزان سره له دې چه زښته دیر تاوانونه ور اوښتي دي بیا هم خوشحاله دي چه سبا به د خپل ظلم او استعمار بیرغ د وانا پر چوڼۍ او چتونو په داسې حال کې ما پر بېږ دي لکه چه د خپل راتګ په لومړۍ ورځ مې ویلي ؤ چه خپلې وینې دلته توی کړم اوس هم غواړم چه د حضرت شیخ نجم الدین کبری په څېر کله چه د ماوراءالنهر په اسلامی هیواد و چنګیزخان یرغل وکړ او د هغه ظالمې لښکرې خوارزم ته راورسیدلې شیخ صاحب د مجاهدینو له لښکرو سره یو ځای میدان ته ووت خپله لمن یې له ډبرو ډکه کړه او د مسلمانانو بیرغ یې په اوږه وکړ او د چنګیزي لښکرو په ضد یې په جګړو پیل وکړ مخامخ یې پر دښمن ورودانګل په پای کې د دښمن له خوا په ټوټو ولګید او ټټې شو خو سره له هغه هم تر هغه پورې جنګید چه آخر ته شهید شو.

نوزه هم غواړم چه له خپلې دغې بوې تورې سره د جګړې میدان ته ورګډ شم او ترهغه پورې وجنګېږم ترڅو چه ویني مي په دې پاك مقصد کې توی شي بیا تاسو پوهېږۍ او ستاسو کار ځکه چه د خپل کام خیر وینۍ هغسې وکړۍ؟

د حاجي صاحب دغه وینا دومره اغېزه ناکه وه چه ټول حاضرین يې وژړول مخصوصاً وزیر مجاهد ملا حمزالله صاحب دومره وژړل چه آخر ته بې حاله شو په پای کې جرګې داسې ځرګنده کړه:-

حاجي صاحب! موږ داسې فیصله وکړه هر څوك چه له بربادۍ او له بې کورۍ څخه ویرېږي هغوی اختیار لري چه له انګریز سره مصالحت وکړي دغه ټولنه چه په جګړه کښې ده او د قوم اکثریت تشکیلوي او ستاسو قومي نوکران هم پکښې دي حاضر دي چه له تاسو سره يو ځای غرونو ته ولاړ شي خپل کور او کهول پرېږدي موږ انګریز ترڅو تاسي زموږ سره یاست په آرامه نه پرېږدو ټولو په قرآن کريم ولوړل.

جرګې داهم وویل موږ تاسو خپلې هغې نظر يې ته چه ځرګنده مو کړه نه پرېږدو موږ ستاسو په روحاني او معنوي قوت ایمان لرو او هرامر چه تاسې کړی دی که څه هم په عملي کولو ئي موږ ته درانده تلفات اوړي پر تاوانونه راآوښتي وي موږ په ښه زړه هر کله منلي دي



ACKU

او س هم تیار یو چه ستاسو امر چه زموږ د دین او د نیا خیر
پکښې دی د سر په ستر ګو و منو.

رئیس المجاهدین (حاجی صاحب) وویل ستا په پاك نیت
او د کامولی په مینه ویاړم زه ستاسره یم په غم او ښادی
کی سره. ګډ یو څرنګه چه دا ځای د حملې د خطر لاندی دی
زه حاضر یم هر چیر ته چی ځی زه هم تاسو سره یو ځای
یم د احضاراتو د پاره همدا ان شپه (د نې) ته (دوانا په
لو یدیځ کښی ۷ میله لری پروت دی) ځا نو نه ور ورسوو
هلته په جرګه وکړو له ماښامه وروسته مو د میچن بابا
مورچل په ډیر حسرت او خوا شنې سره پریښود له خپلو سامانو
او لوازمو سره کډه شوو په لار کښی مو د انګریزانو
هغو چو نیو ته چه تر ننوره ځی پوری نیولی وی اور واچاوه
او ومو سوځولې او (د نې) ته د ملك زرمین خان کنګی خیل
وزیر کلا ته چه یو با غیرته مجاهد سړی ؤ ورا غلو.

سبا چه لمر راوخوت انګریزی الوتکې را ورسیدلې
او دغه ځای یې سخت بمبار ی کړ.

په همدغې ورځ انګریزان دوانا چوڼۍ ته ورننوتل
او د برتانیې دولتی بیرغ یې باندی پورته کړ چه د هغه
ځای د اوسید ونکو په زړ ونو کښې له ډیره درده
چړې ي تللی.

حاجی صاحب دوی شپې په (د نه) کښی پاتې شو د وزیرو
مشران ورته راغلل او دا سی فیصله وشوه :-

دغه ځای محفوظ نه دی او سیدل د لته غیرممکن دی حاجی صاحب دیخپل مرکز په (موسی نیکه) کې ونیسی او موږ خلك به دغره له دې ډډی څخه کډه شو او دمروتی دغره ترشا به ځای ونیسو چه هغه ځای محفوظ او په ونو او ځنګلونو پټ دی او دا قول وشو چه له پنځلسو ورځو وروسته به بیرته حاجی صاحب ته راشو او جرګه به جوړه کړو تر هغو چه موږ خپل کور او کهول په ځای کړو ددغی فیصلی سره سم حاجی صاحب له دغه ځای څخه د کوچ امر وکړ په سبا ورځ موله (دنه) حرکت وکړ او د ډیرو سختو لارو څخه (موسی نیکه) ته راورسیدو پدغه ځای کې د ډیورند هغه منحوسه کرښه تیره شویده چه دانګریزانو په عقیده د افغانستان او برتانیی تر منځ فاصل خط ګڼل کیږی دغه سیمه چه په ګڼو ونو او ځنګلونو پټه ده دالوتکو له بمبارۍ څخه پناه ځای دی.

دموسی نیکه په شاوخوا کی موتش کورونه پیدا کړل او هلته موږ دول (د وزیرو مشران وایی چه موسی نیکه داحمد زیو وزیرو او داتمانزیو وزیرو لوی نیکه یعنی دوزیرو سلسله له ده څخه شروع کیږی).

دغه وخت د۱۲۹۹ هجری شمسی کال ددلوی دمیاشتی (۱۰) نیټه وه.

وزیرو د فیصلی سره سم دد لوی تر پایه پوری خپل کور او کهول له وانا او شاوخوا څخه ئی موسی نیکه او بر ملی خواته ولیږدول او هلته میشته شول که څه هم ژمی و

خو د دغه ځای د ژړنګلو دو نو څخه به د یخ چاره کیده له خو دخوراك او څښوړی له پلوه پریشانی موجوده وه :

هغه وخت چه مجاهد ینو خپل کور او کهول په دغو غرونو کی ځای په ځای کړل نو د همدغه کال د حوت په (۵) نیټه حاجی صاحب ته راغلل او جرګه شول لومړی رئیس المجاهدین (حاجی) صاحب د جرګی حاضر ینو ته وویل :

هغه زحمتونه چه تاسو غیرتمند کام په هغه وخت کی چه دانګریز فوځونو پرمسعودو یرغل کاوه اوهم هغه وخت چه ستاسو په سیمه (وانا) باندی دانګریز سو قیامت وشول او بیا دانګریزانو له ظلم څخه به سره ژمی کښی وچو لیرو بی آباده غرونو ته مهاجرت وکړ داټول ستاسو د صحیح اوسوچه اسلامیت او د وطن پرستی دعالی احساساتو نمونه وه دا دخیرالبشر (ص) او د دوی داصحابو (رض) د هغه هجرت پیروی ده چه د کفارو له ظلم او ضرر څخه یې دخپلی کوچنی ټولنی سره مدینی منوری ته مهاجرت کړی و .

زه داسلام د دین دیوه عالم پحیث د قرآن کریم له مخې تاسو ته زیری در کوم چه فرمائی (والذین هاجروا فی سبیل الله ثم قتلوا اوماتوا لیرزقنهم الله رزقاً حسنا) که تاسی په دی مقدسه لاری کی مړه شی پاك خدای (ج) تاسو ته د جنت وعده در کړی ده تاسی خوښ او خوشحاله اوسی ځکه چه د زیات زحمت په مقابل کی زیات اجر در کول کیږی رزق او روزی د خدای (ج) په لاس کښی ده دوزیرو نظامی کنډك مشر د قوم مشرزلیخیل شرکی خان، ملك ګلدینخان

ملك عبدالله جان او دلباز خان دهفته خان ورا ره چه قومی مشر او د نظامی ملیشی کنړ کمشر و، جدا بی وینا وی وکړی او په نتیجه کښی داسی فیصله وشوه لومړی حاجی صاحب له جرګی څخه استشاره وکړه اووی ویل په دغه ځای کښی چه موږ او تاسو او سو له هری خوا څخه ۳۰-۴۰ میله له آبادی څخه لیری ده چه خوراك اوخوری په سختی را رسیږی په دی باب کښی (دوزیرو ملیشه د ۶۰۰) تنه د مسعود و (۴۰۰) څه او دوسوه تنه د مجاهدینو دریاست د مرکز عمله وه) چه تصویب او فیصله کوی؟

د جرګی خلکو چه په هغه کښی دوزیرو د ملیشی نظامی منصبداران هم و، خپلې نظر بې داسی څرګندی کړی :-

الف:- د نظامی ملیشې دری سوه تنه نفردی هره میاشت خپلو کورو ته ولاړشی او دری سوه تنه دی پر خپلی نوکری حاضر وی میاشت چه پوره شوه هغه دری سوه تنه دی بیرته نوکری ته راشی دغه نوردری سوه تنه دی خپلو کورو ته رخصت شی د مسعودو ملیشه دې هم په همدې قرار خپله نوکری ور کوی.

دوهم:- کا بلی نفر چه تقریباً وزګار دی ستا سو په انتخاب دی یوشمیر خپلو کورو ته رخصت شی باتی کسان دی خپله نوکری کوی نو په دې صورت د غلی مشکل هم یوڅه لیری کیدلای شی.

دلته سوال پیدا کیږی هغه نفر چه خپلو کورو نو ته ځی د معاش استحقاق لری او که یا؟!

دغه مسئله هم جرگې داسې فیصله کړه هغه اکثره ملازمین چه له خپل کور او کهول سره د مهاجرو په جمله کښې داخلې دي هغه دې دوه تقسیمه شي.

۱-هغه وزیر مجاهدین چه خپله سیمه یې پیغې بر پښې کور او کهول یې غروته نقل شوي‌وي هغوی ته دی په هغه میاشت کښې‌چه په کور کښې هم‌وي باید پوره معاش ورکړ شي .

۲-هغه مجاهدین‌چه نوکری اووظیفه یې دلته‌وی کور او کهول یې په خپله مینه کې وي دړ برخې معاش دی رعایتا ورکړ شي د مسعو دو د مجاهدینو سره دې‌هم دغه راز معامله وشی لکه چه له‌وزیرو سره کیږي .

۳-جرگې فیصله وکړه‌چه موږ انگریزان‌په آرامه نه پرېږدو له‌ابوزی څخه نیولی تر‌واڼا،سرویکه، چندولې او نور ځایو پوری باید داسې داړی وو هو چه دنیا په انگریزانو سودا‌درکړو-دجگړې ترتیبات څرنګه چه تاسو امر کوئی‌اجراء کوو بې‌انشاءالله الکریم .

جرگه داسلام اودقوم دمجاهدینو دبری اوفتح په دعا پای‌ته‌و رسیده .

دجرگې له تصویب سره سم حاجی صاحب امروکړ چه دمجاهدینو د ترخیص اودهغو کسانو دپاره‌چه‌دلته پاتې کیږي ترتیب دې ونیول شي .

دحاجی صاحب دامر په‌اساس لازم ترتیبات ونیول

شول او دموجوده مجاهد ینو خورا کی شیان دار گون او داسی نورو سیمو ته بر ابر یدل .

پخوا مو ویلی و، چه دحاجی صاحب دجاسوسی شبکه دانگریزانو په لښکرو او نورو سرحدی سیمو کښی تر ښو پوری ځیره قوی وه تردې حده چه دانگریزانو مسلمان نو کران به په پټه کښی حاجی صاحب سره روابط درلودل په هره برخه کښی یې صحیح اطلاعات ور کول اود دغو اطلاعاتو په اساس حاجی صاحب درا تلونکی جګړی داسی پروګرام جوړ کړ.

۱- د مسمودو په جبهه کښی دی دری ډلی موجودی وی او په هره ډله کښی دی (۵۰) تنه د یوتن مسعود منصبدار په مشری په کار شروع وکړی دغه ډلی دی دانگریز د لښکرو دغذائی موادو دوډولو اوراوډلو په کاروانو باندی دشپی او نورو حساسو وختونو کښی څیړی چه ددغه اساس د مسعودو دمجاهدینو سره به ددوی خپلوان او ملګری هم په ډله کی شامليدل هغه وخت به چه دانګریزانو له خوا ددوی په مشرانو فشار راتلی نو په ځواب کښی به ئی ورته وویل چه دقوم اکثر ځوانان دحاجی صاحب سره نوکران دی او دغه ډلی دهغوی له خوا کیږی موږ دهغوی مخ نشو منع کولای ځکه چه په قوم کی جنګ او قومی نفاق پیښیږی .

نو په دی صورت به د مجاهدینو لښکر بیله تاوانه څخه له ولجو سره بیرته راتلل او په نتیجه کی به ئی انګریزانو ته درانه تلفات او تاوانونه وراړول دوز پرو سیمو ته (چه

دغه سیمه د وانا څخه تر بنو او اپوزي پورې پراخه وه
ستري او کوچنۍ تانې ئې په اوږدو کې پرتې دي) چه
د انګریزانو د لښکرو د مرکز له خوا څخه په اوښانو باندې
خوارهٔ او نور شیان رارسول کیدل د مجاهدینو وزیرو
له خوا به د شپې سختې حملې باندې کیدلې او زیات تاوانونه
به ئې ورا ړول.

دغه واقعې په ۱۳۰۰ هـ ش کال چه د ۱۹۲۱ عیسوی
کال سره برابري دي پیښې شوي دي.

هغه وخت چه دغه غیر منظمې جګړې شدت وموند دی
سره چه مرکزونه د دوی په خپل لاس کې وُ خو بیا هم پوه
شول چه د سرحد امنیت ورځ په ورځ خرابیږی محکه ئې یوه
داسې دسیسه جوړه کړه :-

اتمانزی وزیر شیرین نومی جمعدار او یو تن تحصیلدار
چه نومیږ د رئیس المجاهدین حاجي صاحب حضور ته
راغلل او یو لیک ئې (د وزیرستان د عمومي پولټکل) د وزیرستان
د فوځونو د عمومي قوماندان په لاس لیک په اردو ژبه حاجي
صاحب ته راوړی و، د مکتوب متن خورا لنډ و، او یوازې
دغه دوه تنه ئې پکښې معرفي کړي و، نور مطلب ئې په شفاهي
یادداشت پورې تړلی و، حاجي صاحب چه مکتوب ولوست
نو له دوی څخه ئې د مقصد پوښتنه وکړه نوموړو بیل یادداشت
درلود چه په هغه کښې د حاجي صاحب د حضور څخه شرطونه
د وزیرستان د خلکو څخه د سولې غوښتنه شوې وه.

د دغو شرطو اصل په هغه ځوابیه لیک کښې چه د حاجي

هو الله سبحانه

وزارت خارجیه

مدیریت شعبهٔ هندوستان وانگلستان

جناب جلالتمآب دوست محترم حاجی ملا عبدالرازق خان رئیس المجاهدین وزیرستان

زید احترامه !

مکتوب مورخه ۲۶ ماه جوزا ارسالی شما بوزارت جلیله خارجیه واصل آمده از مضامین مندرجه

آن استحضار حاصل گردید .

آن اعلانات و جوابهای انگریزی بر سیاست مبنی است ، آوازه هائی که می اندازند دروغ است ،

ولی همینکه بگوید شما جنگ را معطل کنید ، فی الواقع موقتاً بند کرده بایشان اطلاع بدهید

که من جنگ را حسب اشارهٔ شما بند کردم چه آنرا آغاز مصالحه پنداشتم . اگر همین ها بداشتن

حسن صحیح است پس منتظرم که شما زود جواب بگوئید . قضیهٔ وزیرستان باخون بروح

هائی آن بسته است وقتیکه این زندگان موجود اند بجاید حکومت برطانیه نباید

همچو الفاظ گذشته مذاکرات فریقین نیت تحریر درآرد . افغانستان هم تا آنکه

که من میشناسم بر برادران دین ، عرق ، جنس قوم خود ، بی اعتنا شده نمی تواند

والسلام علی من اتبع الهدی . از اینگونه مضامین اگر او میخواست خواسته و همیشه

شرائط آزادی وزیرستان را با بعضی مبالغ که جبیرهٔ نقصانات جنگ در وزیرستان گفته شود

از او طلبگار باشید . تحریر ۲۰ ماه سنبله ۱۳۰۰ امضا عبدالهادی

18891

ACKU

صاحب له خوا برتانيې حکومت ته ليکل شوی ؤ څر گند شوی دی ه دانگريزانو مکتوب دليکل شوی یاد داشت سره یوځای دافغانستان خارجه وزارت کابل ته لیږل شوی دی څکه ددغسی چارو اجراء کول دافغانستان ددولت له مشوری څخه پرته کیدای نشی لکه چه دمکتوب له رارسید لو څخه خارجه وزارت ته خبرورکړ شو او دافغانستان خارجه وزارت څخه رسمی مکتوب په دی مضمون را ورسید.

## (وزارت خارجه)

### مدیریت شعبهٔ هندوستان وانگلستان ۴۶/۴/۳

جناب جلالتمآب دوست محترم حاجی ملاعبدالرازق خان رئیس المجاهدین وزیرستان زید احترامه.

مکتوب مورخه ۲۶ ماه جوزا ارسالی شما بوزارت جلیلیه خارجه واصل آمده ازمضامین مندرج آن استحضارات حاصل گردید۔ آن اعلانات وجوابهای انگریزی بریاست مبنی است آوازه هائیکه می اندازند دروغ است.

ولی همینکه بگوید شما جنگ رامعطل کنید فی الواقع موقتاً بند کرده بایشان اطلاع بدهید که من جنگ را حسب اشارهٔ شما بند کردم چه آنرا آغاز مصالحه پنداشتم اگر همین پنداشتن من صحیح است پس منتظرم که شمازود جواب بگوئید قبضهٔ وزیرستان باخون وروح اهالی آن بسته است وقتیکه این زندگان موجود اند حکومت برطانیه نباید همچو الفاظیکه شایسته مذاکرات فریقین نیست بتحریر در آرد.

افغانستان هم تا جائیکه من می شناسم بربراد دانه دین، عرق، جنس و قوم خود بی اعتناء شده نمی توانند والسلام علی من اتبع الهدا - از اینگونه مضامین اگراو میخواست خواسته وهمیشه شرائط آزادی وزیرستان را با بعضی مبالغ که جبیرهٔ نقصانات جنگ دروزیرستان گفته شود آزاد طلبان باشید. تحریر ۲۰ سنبله ۱۳۰۰ شمسی عبدالهادی.

دغه مکتوب که څه هم وروسته راورسید مگر حاجی صاحب پخواله دی دبرطانیې د دولت د مکتوب ځواب ترتیب کې اودوی ورځی وروسته ئی دانگریزانو نفر ته دهغه دراوړلی مکتوب په ځواب وروسپاره د رئیس المجاهدین مکتوب هیڅنا دلته را نقل کیږی.

## دبرتانیې ددولت دیاداشت په ځواب

## درئیس المجاهدین د مکتوب نقل

## بسم الله الرحمن الرحیم

ازعایذ بالله خادم و فدائی ملت اسلام حاجی عبدالرازق رئیس المجاهدین ملت وتمامی قبائل وزیرستان.

به عزت وجلالتمآب جنرال دولت برتانیه قوماندان کل قشون وزیرستان و دیره جات.

قاصدین ومعتمدین شما بحضور این خادم ملک و ملت حاضر شده مکتوبی مختصر و بدون تفصیل شما که بضمیمه آن یادداشت تحریری علیحده داده شده بود و مقاصدیکه دولت برتانیه در آن یادداشت تشریح داده بود که خلاصه آن استحصال امنیت عمومی این مملکت وحصول ما بین ملت

غیور وزیرستان ودولت علیه برتانیه وپیشنهاد چندمواد یکه اصل اساس این مصالحه بزعم حکومت برتانیه پنداشته شده بود واستدعای ترك اسلحه موقتی الی انجام مصالحه بود کاملا معروض نموده استحضا ر یت حضو رم به آن حاصل گردید.

قبل ازاینکه بجواب استصوابیه دولت علیه شماومدعا ومطلب طرفین پرداخته شود. چون آغاز گفتگوست موقع را غنیمت دانسته میخواهیم که شرحی از اجرءات دولت برتانیه نسبت به این مملکت و استحقا ق آزا دی این ملت غیور بادلائل واضحه آن تحریر وتسوید نموده بخدمت شما (یعنی حکومت برتانیه) آشکارا نمایم:-

الف: وزیرستان ازعهدقدیم یك مملکت آزاد ودولت انگلیسیه اورا از مقبوضات حقیقی ومستعمرات خودخارج دا نسته است.

دلائل اثبات این مدعا:-

اثریکه برعدم استعمار واستملاك آن بوده این است که

۱- گاهی نشده که ازین ملك بصورت عایدات مالیه وغیره اخذ پول شده باشد.

۲- همه وقت بجای اینکه ازاین مملکت اخذ محصولات نموده شده باشد به لکها روپیه کلدار ازطرف دولت برتانیه بصورت سیاسی که برای انسداد تعرض بوده بمصرف رسیده.

۳ـ گاهی نشده که اطاعت حقیقی این ملت غیور و جسور برای دولت برتانیه حاصل و میسر شده باشد چه که :ـ

علی الدوام اکثریهٔ این قبائل بدون حروب حالیه بمقابل برتانیه جنگ آزما بوده اند محاربه های ماضیه قبائل غیور و جسور وزیری ها اشکی و مسعودی را که در بدو اشغال تصرف ظالمانه انگلیس به وانا واقع گردیده بود به یاد دولت علیه برتانیه میدهم هکذا سائر جنگهای که در ما بعد آن در مسعود تحت قیادت و رهبری مجاهد با غیرت قوم مذکور ملا پیونده صاحب به وقوع پیوسته شاهد قوی حفظ وطن و آزادی خواهی این قوم بوده.

٤ـ اثر مهمکه از استعمار یك مملکت حاصل می شود اینست که :ـ

قانون رانی آن دولت وحکومت در مستعمرهٔ مذکور اجراء و مواد آن کل یا بعضاً تطبیق داده شود ـ حال اینکه درو زیرستان اثری از آن بکدام وقت و تاریخ دیده نشده

ب :ـ ملت وزیرستان که از ابتداء تا اینوقت آزاد بوده اند ـ چون اعلیحضرت امیر امان الله خان پادشاه دولت علیه افغانستان بغرض استحصال استقلال مملکت خود برخلاف دولت برتانیه اعلان جنگ و جهاد نمود این ملت غیور که در جنسیت قومیت، مذهب جزء واحد ملت افغانستان بود بنا بر اصول مذهب مقدس اسلام و همدردی قومی خود نتوانست که غیر جانبدار بمانند به طرفداری

افغانستان بمقابل دولت انگلیس قیام نموده کار روائیهای فاتحانه نمودند ولی چون دولت افغانستان تاحدی بمرام خود رسید و در بین دولتین متارکه واقع شد ملت وزیرستان خود را تارك جنگ دانسته به آزادی خود قائم واستوار ماند بلکه بعضی مقامات مملکت خود را که سابق حکومت برتانیه غصباً برای حفاظتخانه های خود تصرف نموده بود نیز از تصرف افواج انگریزی کشیده مملکت خود را حقیقتاً آزاد نمودند.

اقدامات غیر مشروع را که دولت برتانیه راجع باین مملکت نموده اینست که :-

۱- بمجرد متارکه دولت افغانستان و برتانیه افواج انگریزی قدم غضب را براین مملکت آزاد اولا بر حصهٔ مسعودی وزیر اتمانزی بعد بحصهٔ وزیری احمد زی یعنی علاقهٔ وانا نهاد عزم تباهی و بربادی این قبایل مظلوم را نمود به اینکه :-

چرا با بنی نوع وهم مذهب وهم قوم خود (افغانستان) همدردی و در حصول استقلال و آزادی شان اعانت نموده اند.

۲- چون جنگ نزاعی است بین دو قوای منظم متخاصمین قوای وزیرستان اگرچه از حیث آلات وادوات لازمهٔ حربی امروزهٔ دنیا یك قوای منظم گفته نمی شود ولی چون مقصد از قوای منظم طاقت در دفع دشمن است ولشکر های وزیرستان درهیچ میدان محاربه بمقابل

دولت برتانیه پس پا نشده بلکه بهر میدان غالب ومظفر بوده اند بازهم مروت وقانون انسانیت جواز نمیدهد که چنان طاقت زیردست حربی که می باید بمقابل یك دولت معظم مساوی بادولت برتانیه استعمال شود بقبایل مظلوم وزیرستان استعمال جابرانه نموده شد.

۳- صرف نظر ازاینکه:-

بمقابل عساکر وزیرستان قوای زبردست ازقسم قشون پیاده وتوپهای بزرگ دورزن وطیارات مهیب استعمال شده وملل دنیا باالاتفاق بصورت قانون بین المللی این طور استعمال را در حقوق بین الملل سختیهای بی لزوم قرار داده ممنوع نموده اند حکومت برتانیه بر خانه های قبایل ومساکن شان که مملواز اطفال و زنان و مردان پیروسکنه بی آزار می باشند درین عرصه دو سال حرب هرروزه بذریعهٔ طیاره های حربی گلوله باری های فوق العاده نموده هیچ مروت انسانیت کارانه رادرین امرمرعی نداشته بااینکه:-

به اتفاق جمیع ملل دنیا صدمه رسانیدن به اطفال وزنان ومردان پیر وسکنه بی آزار حقوقاً وقانوناً قطعاً ممنوع بوده این قسم جنگ رااز مروت وانسانیت خارج دانسته اند ومنصفین ومدبرین ملت وحکومت برتانیه هم در حقوق بین الملل این مسئله را تصویب و امضاء نموده اند.

ج:- برتانیه چطور این مسئله رااشتهارمیکنند که قبایل وزیرستان تاهنوز وحشی وقابل آزادی نمی باشند باوجودیکه:-

۱-مهذب تر ازین چه خواهد بود که ملت وزیرستان برای حصول آزادی خودها به ایثارهر قسم جان و مال عملا عمل پیرا اند.

۲- مسئله حقوقی است که: مهذب ترین اقوام دنیا قومیست که بر حریت خویش لوازم معاشرتی را فوقیت ندهند وطوق غلامی اغیاررا قبول نکنند تاحدیکه بالکل تباه شود.

۳- عظمت قومی مبنی بر طاقت حربی است وزیرستان ازعرصه دوسال مسلسل بادولت برتانیه محاربو عزم سعادت جزم این قبایل غیورتغیری پیدا نکرده اگر چه طاقت بزرگ حربی بمقابل آن استعمال شده.

د- البته برتانیه عظمی این مسئله را سوالا پیشنهاد جوابیه آزادی وزیرستان و سایر سرحدات خواهد نمود که:-

اگر وزیرستان یاسایر سرحدات آزاد می بودچگونه دروقت تعین حدود دولتین افغانستان وبرتانیه این ملک داخل حدود مملکت برتانیه میگردید یازینکه درنقشه ها بخط سرخ به امضای نمایندگان دولتین درتعین حدودات به همین صورت بود؟

بلی!!! این مسئله مسلم است که در تعیین حدود افغانستان دبرتانیه وزیرستان بلکه سائر سرحدات قبایل آزاد داخل نقشه وخاك مملکت انگریز آمده ولی سوال اینست که این تعیین حدود که وزیرستان و سایر قبایل سرحدی را داخل نقشهٔ مملکت انگریزی ساخته وازطرف وکلای این ملت برضای این قوم آزاد بوده؟ ویاحکومت علیه برتانیه خود برای خود وکالت آنهارا نموده؟ نه‌خیر!

ه ـ ما متیقن هستیم که در وقت حاضره وزیرستان آزاد بوده است ملت وزیرستان برای تحفظ آزادی وانتظام امورات مملکتی خود یك حکومت جدیدالتاسیس تشکیل داد که بحکومت برتانیه ذیلا تفصیل داده میشود.

اول:ـ همه اقوام وزیرستان متحداً ومتفقاً یك مرکز عمومی را بصورت حکومت مرکزی تسلیم کردند.

دوم:ـ تشکیل دوایر منظمه برای اجرای امورات داخلی وخارجی و حربی باتفاق قبایل منظور و عملاً جریان اموروزیر همان تشکیل است.

سوم:ـ اگرچه همه این قبایل دارای وصف اردوی نظامی می باشند ولی به باعث اهمیت حکومت جدید نظام باقاعده زیرامر افسران نظامی ازملت خود وزیرستان موجود بوده وبمقابل برسر پیکارند.

چهارم:ـ یك مجلس از نمایندگان ملت وزیرستان تشکیل گردیده و همه مسایل مهمه که راجع بمفاد این ملت باشد درمحفل مذکور حل وفصل و تصویب میگردد.

پنجم :- برای ادارهٔ عمومیه این حکومت یك ذاتیکه خادم وفدائی ملك وملت باشد بصورت رئیس عمومی همه ملت به انتخاب عمومی ملت تعین می گردد.

ششم :- فعلا خادم وفدائی ملك وملت را رئیس عمومی این حکومت همه قبایل انتخاب نموده اند.

گویا حاضراً مملکت وزیرستان دارای یك حکومت مستقل بوده که قرار فوق تشریح گردید مقاصد حقیقیه ام از تشریحات فوق بصورت اجمال اینست که :-

۱- وزیرستان یك ملت آزاد بوده.

۲- قوهٔ که بتواند تحفظ آزادی خود را بکند مالك ودارا است.

۳- استحقاق آزادی مطلقه واینکه می باید آزاد شناخته شود.

٤- محاربات جاریه کنونی وماضیه برای مدافعه وحفظ آزادی بوده.

٥- تجاوزات غیرمشروع که باتفاق جمیع ملل دنیا غیرمشروعات آن ثابت شده وممنوع دانسته شده از طرف دولت برتانیه بخاك این مملکت وافراد این خطه کرده شده.

٦- تعارف نمودن حکومت جدیدالتاسیس وزیرستان را که سابق وزیرستان حفظ آزادی و مملکت و مدافعه دشمن را بصورت ملی می نمود اکنون برعلاوهٔ طاقت قومی عظمت حکومتی هم دارد.

اکنون به‌اصل مواد رجوع نموده قبلا و اولا مواد ٦ استصوابیه و پیشنهادیه حکومت علیه برتانیه را تشریح داده‌وواضح می نمایم بعد[؟] مواد یکه از طرف ملت غیور خادم مملکت ترد ید یا تسلیم گردیده تفصیل میدهم:

اول ا- مواد تمهیدیهٔ صلحیه از طرف دولت برتانیه:-

١- دولت برتانیه اراده دارد که درین سرحد امنیت عمومی قائم گردد.

٢- دولت برتانیه همراه قبایل وزیری و مسعودی با بادخیال صلح کرده چنانچه بعضی قبائل شرائط صلح را نیز قبول نموده اند.

٣- جمعیت جنگجوی این قبائل را که شما تحت نفوذ خود گرفته اید مانع صلح گردیده.

- حکومت برتانیه می خواهد که ذریعه شما مصالحهٔ این قبائل قائم شود ولی لازم دیده شد قبل از ینکه به این مسئله اقدام ورسما مطرح مجلس صلح گردد چند مواد یکه اصل اساس این مصالحه پنداشته شده برای شما آشکارا ساخته تا خیال شما نسبت به قبولی و غیر قبولی آن مسائل بحکومت برتانیه ظاهر گردد

٥ تا وقتیکه این مذاکرات انجام واختتام میگردد ترک اسلحه موقتی از طرفین لازم است.

ب :- (مواد اصلیه صلحیه ازطرف برتانیه)

۱ حکومت رسماً ریاست شمارا باین اقوام تسلیم خواهد کرد.

۲ حکومت برتانیه حاضر است برای مصارف سالانه این ملك مبلغ ده لك کلدار بشما بدهد.

۳ حکومت برتانیه تخلیه این ملك را وعده میکند ولی ذمه دار حفاظت آن داخلاً وخارجاً شما داخواهد شناخت.

ذمه واری تاراج و چپاول لشکریان وزیرستان به رعایای برتانیه وغیره بدوش شما خواهد بود

۵ برای طمانیت برتانیه می باید شرائط ذیل که مدار اصل مصالحه پنداشته شده قبولی شمارا حاصل کنند.

اول :- به حکومت افغانستان قطع تعلقات خفی و ظاهری کرده شود.

دوم :- زمانیکه دعوت رسمی از طرف حکومت هند به روساء ونوابان هند به دربار و وایسرائی هند وستان کرده شود خود شما رتبه که در آتی تعین کرده خواهد شد در آن مجلس حضور بهمرسانید.

سوم :- پسر شما که تا حال باشماست باید برای چندی که حکومت لازم ببیند در صوبهٔ سرحد (بنوی) یا پشاور خواهد بود برای مصارف مذکور یك مبلغ علیحده تعین خواهد شد برای اجراء وقبول این مواد اگر رضاء مید هید البته مجلس مذاکره منعقدو اعضای آن تعین خواهد گردید.

خادم ملت جوابا بصورت رسمی می نگارم :ـ

الف :ـ بجواب تمهیدیه برتانیه :ـ

۱ـ ماده اول را عیناً تسلیم و مقصد حقیقی این خادم ملت اسلام دائماً همین است که :ـ این ملت عزیز بصورت آزاد زندگانی باشرف نمایند قتل بنی نوع انسانرا بدون موجب از کبائر گناه دانسته گاهی به خیال و فکر آن نخواهیم بود که بین فرق بنی نوع بلا امتیاز مذهب مقاتله غیر جائز جاری باشد.

۲ :ـ ماده ۲ و ۳ تمهیدیه که :ـ یعنی دولت برتانیه بار بار با قبائل خیال صلح کرده ولی جمعیت من مانع خیالات صلحی گردید ه میخواهم این مسئله‌را قدری واضح تر بگویم .

سال اولین آغاز محاربه وزیرستان و برتانیه‌وسال دوم آن برای قوماندان اعلی اردوی مرکزی‌وزیرستان مقیم مسعود و پولتیکل عمومی وزیرستان رسماً تحریر کردم که تمامی قبائل وزیرستان این خادم ملت را مختار خود مقرر دانسته اند کوشیدن شما درانجام مصالحه ومذاکره شما درین موضوع راساً به‌افراد قبائل بذریعهٔ بعضی رؤسای خائن فائده نمی کند بل آنقسم مصالحه که‌شما با چند نفرخائنین قوم نموده یامی نمائید مصالحه گفته نمی شود بلکه از طرف حکومت شما فریب واز طرف آن خائنان خیانت شمرده می شود ملت

وزیرستان گاهی اینطور مصالحهٔ ذیلانه خائنانه را که نتیجه آن جز طوق غلامی بگردن آویختن چیزی نباشد قبول کرده نمی تواند با وجودیکه حقیقت مسئله برای شما آشکارا گردید که خائنان وملت فروشان کاری کرده نمی توانند ولی افسوس که غرور حکومت برتانیه برچشم های حقیقت پرده پوشی نموده همچنان بر تعدی خود قائم ماند.

۳ :ـ ماده ٤ و ٥ را در ذیل مواد اصلیه صلحیه جواب میدهم :ـ

ب :ـ بجواب مواد اصلیه صلحیه :.

۱ :ـ تسلیمی ریاست اینجا دم ملت را که وعده داده شده درست است ولی قبولی این ریاست را بصورتیکه شرف ذاتی من و ملت من لکه دار نشود خواهان خواهم بود.

۲ :ـ وعدهٔ مبلغ ده لك کلدار را که حکومت برتانیه نموده بصورت اساسی منظور خواهم نمود ولی این مبلغ بصورت جبیرهٔ نقصانات جنگ وزیرستان خواهد بود چه که از طرف دولت برتانیه هجوم غیر مشروع به این خطهٔ آزاد بوده ولشکر وزیرستان تا هنوز فاتح است نه مفتوح.

۳ ماده ۳ و ٤ را نیز وزیرستان اساساً قبول کرده می توانند لیکن تفصیل آن در مجلس مذاکره رسمی تصفیه خواهد گردید.

٤ حکومت طمانیت خودرا بهقبولی سه موادمندرجه چهارم دانسته این مسئله از انصاف بعیداست وشایان شان اینطور یك دولت معظم نیست که اظهار خیال بر اساس صلح ومصالحه میدارد ولی قبل از اینکه مجلس برای مذاکرات این مصالحه منعقد گردد قبولی بعضی شرائط را وعده میگیرد در ماده اول تسلیمی دیاست وزیرستان را برای خود مشروط بر این نمودم که شرف ذاتی خودم وقوم من پایمال نگردد ولی در قبول شرائط سه گانه عموماً ودر شرط مؤخر الذکر خصوصاً شرف قوم را بر باد می دانم ومقصود اصلی من که خادم این ملت افغانم تنها حفظ شرافت وناموس قوم است از قبول شرائط سه گانه معافی میخواهم .

## خاتمة

اگر دولت برتانیه در گفتار خود صادق و نمیخواهد که بنی نوع انسان غیرحق تلف شوند من به آغاز این گفتگو ترك موقتی اسلحه نموده جنگ را معطل کردم از تاریخ مکتوب هذا الی موعد بیست روز امر دادم که از طرف عساکر وزیرستان به همه نقاط جنگ معطل باشد درصورت مصالحه می باید قبل از اکمال موعد مذکور اطلاع رسمی برسد تا نماینده های این حکومت وملت تعین گردیده بالمقابل تعین نمایندهٔ حکومت شما با تعین موضع اجلاس معلوم گردد .

همچنانکه ترک اسلحه از عساکر وزیرستان تا اکمال
موعد مذکور اعلام شده بالمقابل از طرف آن دولت علیه
هم باید رسماً اعلام گردد انتهی.

د رئیس المجاهدین (حاجی صاحب) مکتوب چه د برتانیې
دولت ته ورسید هغه پوه شوچه په دغو دسیسو حاجی صاحب
نشو تیرا یستلای او دغو شرطونو ته دی هیڅ غاړه نه شی
ایښودلای نو ځکه د څه وخت د پاره انګریزانو دده لیک
ته هیڅ ځواب ورنه کړ حاجی صاحب هم له خپلې وعدې سره
سم چه په خپل مکتوب کښی انګریزانو سره کړی وه شل
ورځې د بې جګړې معطله کړه انګریزانو نه غوښتل په هغه
شان چه حاجی صاحب زړه غواړی د وزیرستان آزادی ومنی
نو د حاجی صاحب د مکتوب ځواب ئی پریښود.

شل ورځې چه تیری شوې د حاجی صاحب له حضور څخه
د جګړې اعلان ترتیب شو او د برتانیې دولت ته په دې
مضمون ورولیږل شو.

## اعلان جنگ به دولت برتانیه

چون پیشنهاد مسائل صلحیه وزیرستان و دولت برتانیه
از طرف برتانیه ذریعه قوماندان کل قشون برتانوی
در وزیرستان بحضور این خادم ملت رسیده بود و فدا کار
اسلام و قوم بنا بر اینکه قتل و اتلاف بنی نوع انسان را
دیناً و عقلاً بدون موجب و علت جائز نمی دانستم
به آغاز آن پیشنهاد مواد صلحیه ترک اسلحه موقتی نموده

و بجواب یادداشت مواد صلحیه از روی انصاف و قانون دنیا پرداخته و موعد این متارکه الی رسیدن جواب دولت برتانیه مدت بیست یوم گذاشته بدولت برطانیه اطلاع دادم. چون وعدهٔ دولت برتانیه حسب عادتی که دارد کذب برآمد لهذا بدولت برتانیه اخطار داده اعلان می نمایم که :-

انگریزان علاقه وزیرستان واضلاع کوهاټ و بنون وغیره سرحدات را واگذار شده تخلیه نمایند.

ورنه مثل ناپلیون امپراطور سابق فرانسه برخلاف انگریزان یك جنگ بی قاعده و بی ترتیب راجاری خواهد داشت.

دجگړې دغه اعلان چه انگریزانو ته ورسید هغه یې په جرایدو کښې خپور کړ په هغه وخت کښې دافغانستان دجلال آباد د اتحاد مشرقي جریدې له انګریزي جریدې (پاونیر) څخه دغه اعلان داسې ترجمه او خپور کړی دی:

# اتحاد مشرقی

## کوائف سرحد واعلان جنگ حاجی عبدالرازق

از پشاور خبر رسیده:- حاجی عبدالرازق که از ترش تا حال در وزیرستان بازار کارزار گرم است برخلاف انگریزان یك اعلان جنگ راجاری نموده که دران خودرا حکمران ملك وزیرستان نامزد کرده است دربارهٔ وزیرش که حاجی صاحب ممدوح را کمك میرساند

این گفته میشود که مردم وزیرستان اورا منتخب نموده اند.

حاجی عبدالرزاق اعلان می نماید که تا وقتیکه انگریزان ازعلاقه وزیرستان واضلاع کوهاټ وبنون دست بردار نشوند مثل نپولین امپرا طور سابق فرانس برخلاف انگریزان یك جنگ بی قاعده وبی ترتیب را جاری خواهد داشت.

باوَنیر

حاجی صاحب دجګړې داعلان دعملی ثبوت دپاره لاندنی اقدامات وکړل.

۱ـ دګوملې شیرجان نومی ته یې چه ښه زړور سړی وُ امروکی چه له دری سوو ننګیا لیو او ملی مجاهدینو سره له ګوملې او آبوزیو څخه د کاکړستان سیمو پوری خپلی ملی مبارزی شروع کړی او هرچیری چه ممکنه وی دا ړدی وغورځوی ددغه امرسره سم شیرجان د کاکړستان په سرحد کښې د آبوزو په چونی باندی چه یو ګنډك مسلح عسکر او توپونه یې لرل ناڅا په حمله وکړه د چونی ودړی بیرته کړه ملی مجاهدین دشیرخان په قیادت په زړنا ورغ چونی ته ورننوتل پیره داران یې ووژل او دانګریز لښکری یې زیاتی وارخطا کړی بیا شیرجان پدغو کړ چه زه د رئیس المجاهدین (حاجی صاحب) منصبدار یم هغه څوك چه مسلمانان دی خپل توپك دی را تسلیم کړی چه له مرګ څخه خلاص شی مسلمانانو خپل توپکو له دچونی په میدان کښې وغورځول او له چونی څخه ووتل پاتې نامسلمانانو اوسکانو په جګړی لاس پوری کړ، غازی شیرجان مجاهدینو ته امر وکړ چه

